وهمچنان شماراامت وسطي ساختيم
تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشماگواه باشد

شهادت

(٨) صفحه

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

در ولايات شمال كشور جنگ بين ملشياى مخالف رژيم وقــواي حكـومت نجيب هـنوز هم جـريان دارد

(قاينده خاص) ٧ دلو :
آخرين راپورهائي واصله ازولايات شمال كشورحاكيست كه هنوزهم درچند ولايت جنگ بين عساكر رژيم ومليشه هاي كياني ، رشيددوستم وجنرال مومن جريان دارد . درخبرآمده است كه طي اين درگيري هابه طرفين تلفات سنگيني وارد آمده وسلسله گرفتاري افسران ومامورين رژيم نجيب ملحد ادامه دارد .
قراريك خبرديگردرين زدوخوردها يك طياره جنگي قواي رژيم كابل توسط قطعات مخالف سرنگون گرديده است .
خبرميافزايد كه جنرال جمعه اڅك كه قبلاً توسط مخالفين گرفتارشده بود از زندان فراروخودرا به كابل رسانيده است

الهي لارښوونې

لوي خداي جل جلاله فرمايي:
اواي پيغمبره ! كه زمابندگان له تانه زما په باب پوښتنه وكړي ، نوزه ورته ډيرنږدې يم ، بلونكي چي كله ماوبلي ، زه دهغه بلنه اورم اوځواب وركوم نوهغوته ښايي چي زمابلني ته لبيك ووايي اوپرمابانډي ايمان راوړي ،ښايي چي هغوي سمه لاروموني .
البقره ١٨٦ آيت

شماره مسلسل (٤٣٣) سال چهاردهم ،شماره (١٢٩) سه شنبه (٨)دلو ١٣٧٠ هـ .ش- (٢٤)رجب ١٤١٢ هـ.ق- (٢٨)جنوري ١٩٩٢م

په نصرت مينه كي دقومي مشرانو سيمينار پاي ته ورسيد

دروان كال دسلواغي دمياشتي په شپږمه نيټه دسهارپه لسوبجواوديرشو دقيقو په رشيديه دارالايتام كي دقومونو دمشرانو ، سپين ږيرو اومخورو يوه ورځنى سيمينار جوړشو چي په سل گونو قومي مشرانو، سپين ږيرو اومخورو پكي گډون درلود .
دغه سمينارد حزب اسلامي دجماعت علماي اسلام دآمرمحترم ورورقاري صاحب مومن له خوا د قرآن عظيم الشان د څوآيتونو په لوستلو پيل او وروسته وروحكمتيار دروانو سياسي حالاتوپه باب عالمانه اولارښوونكي وينااوورولة .
مجاهدوروحكمتيار دخپلو خبروپه يوه برخه كي وويل :
په دي كي شك نشته چي دقومونو دمشرانو په دي جهادكي لويه ونډه وه هغوي خپل قومونه راپيداركړل اوپه جهادكي دهغوي سرپرستي يې وكړه ،دهجرت اودجهاد ستونزي اوكړاوونه ئي وگالل اوپه همدي موده كي په سنگرونوكي له مجاهدينو او مهاجرينو سره يوځاي پراته وو . الله (ج) دي دقومشرانوته عظيم اجر او زيات توفيق وركړي .
وروحكمتياروويل : زمونږ له نظره هغه مشران چي دمجاهدينو په څنگ كي پاتي شوي او خپل قومونه ئي دجهادله باره راوچت كړي، ددي له پاڅ چي دهغوي ملك آزادشي، په افغانستان

(٨) مخ

مجاهد ورور حكمتيار دقومانداناتو په يوه ورځني سيمينار كي وويل:

دظـاهـر شاه دبيرته راگرځيدو مسئله ديو شخص نـه بلكې دهغه تير وراسته نظام دبياعـادى هـڅـه ده

(٤)مخ

كدر رهبري موسسه آزاد فلسطين در مورد اشتراكش در مذاكرات چند جانبه شرق ميانه

كدررهبري موسسه آزادي فلسطين براينكه فلسطيني ها ومذاكرات چند جانبه درصدد شرق ميانه كه قراراست روزسه شبه درمسكو دايرگردد اشتراك خواهند كرد يانه ، تصميم مي گيرد .
انتظارمي رود كميته اجرائيوي موسسه آزادي فلسطين درپايان ملاقات امروزي درتونس تصميم اش رااعلام كند . رهبران هيئت فلسطيني درمذاكرات صلح بين عربها واسرائيل گفتند : ازتصميم موسسه آزادي فلسطين پيروري خواهندكرد . توقع مي رود درحدود بيست وپنج جناح بروزهاي سه شنبه وچهارشنبه درمذاكرات صلح درمسكو اشتراك كنند

كويټ دري ايف ١٨ ډوله امريكايي الوتكي ترلاسه كړي دي

كويټ :
دهغو ٤٠ ايف ١٨ امريكايي جنگي الوتكي دجملي څخه چي دمتحده ايالاتوڅخه ئي اخستي دي دري الوتكي ترلاسه كړي دي دغه بمبارډكونكي الوتكي چي كويټي پيلوټانو چلولي دامريكا دمتحده ايالاتو څخه لس ساعته مسلسل پروازوروسته دكويټ په بين المللي هوايي ډگركي كوزي شوي كويټ دغه الوتكي مخ كي له دي چي د ١٩٩٠ كال په اگست كي عراق حمله وړياندي وكړي په بومبارډ شپږسوه ميليونه ډالره اخستي دي .
په عيني حال كي ريوټونه وايي چي دامريكا دمتحده ايالاتوحكومت په نظر كي لري چي په سعودي عربستان باندي هم ٢٤ ايف ١٥ ډوله جنگي الوتكي خرڅي كړي .

با فتح دوپوسته درلوگر ٣ نفر صاحب منصب عالى رتبه به قتل رسيد

مديريت ارتباط خارجه نظامي :
قوماندانى لشكرايثارمقيم ولايت لوگر به اداره شهادت گزارش داده است كه : بتاريخ ٢٥ر. ١ر. ١٣٧ دوپوسته امنيتي قول اردو گرديز مقيم مناطق بيدك و(پاټ خواب شانه) به همكاري برادران ارتباطي فتح و
١- تورن محمداقبال قوماندان پوسته
٢- جگتورن اسدالله معاون سياسي كندك
٣- لمري بريدمن اسدالله معاون پوسته
كشته و ١١ نفرافراد پوسته هريك
١- عظيم الدين ولدنظام الدين سرباز
٢- غلام رسول ولدغلام حبيب سرفروش
٣- هدايت الله ولد اخترمحمد سرين
٤- عبدالستار ولد امام علي ، محمدداود ولد شاه حسين ، سيدمحمد اميرمحمد افراد داوطلب ، اسدالله ولد قربان علي احمد خان ولد ولي محمد، محمدظريف ولد مياه گل، فدامحمد ولد سيدمحمد سرباز، حسن رضا ولد قربان علي تسليم مجاهدين شدند افراد مذكور به همكاري عظيم الدين ولد نظام الدين سربازمسكونه ولسوالي بركي برك كه نفر ارتباطي ماپوده يك ميل توپ ٧٦ ، ويك عرداه تانك ني ٥٤ يك ميل زيكويك ، يك ميل دهشكه راتخريب كردند .
گزارش مي افزايد كه ايشان بتعداد ١٥ ميل سلاح هاي خفيفه ، ٢ ميل راكټ ويك ميل پيكا رابه مجاهدين مومن لشكرايثار تسليم نمودند .

سر مقاله

سام نظشبكه بر انطره معريان نصابت لمهدم آمت

دمجاهد ملت هيلو، غوښتنو او نظرياتو ته ورگرځيدل

كه د دي ديارلسوكلونو په اوږدوكي دسره پوځ په گډون دكابل دگوډاگي رژيم دزيانونو او تلفاتو يوسر سري جاج واخلو ، نو ځرگنده به شي ،چي ريښتيا هم مجاهدينو ورته له حده وتي او نه اټكليدونكي زيانونه وررسولي دي ، او له دي سترزيان به لا تورڅه وي ، چي سره امپراتوري دړي وړي او دنړي فتحه كولو لپاره لويديځ سكيلاك ته گرو چاپيريال داگ شو څو داخبره هم دغور وړده،چي زموږ پرپولو پراته دمنځني اسيا هيوادونه د ازادي بيرغ پورته كولي شي ، څو زموږ دهيواد پراوږو لاهماغسي دكمونستي روس لعنتي گوډاگي نجيب سپوردي ، كه څه هم داتوپير جوت دي چي اوس يې دجهادي حكومت دجوړيدو له ويري امريكا پالي ، اويا به ورته دمنځني آسيا حكومتونه چي دكمونيزم بقايا وو حيثيت لري ، لاس وركوي اويا داوجوهات داقناعت لا منطقي كوي ، چي تش دگوډاگي رژيم دهيلو مركز له سورنه په تور اوښتي ، نور خوكوم آسمان ندي داغورځيدلي . داخبري ترڅه حده ډادمني دي ، خودسري امپراتوري په پرتله بيادا پاملرنه دومره ځواكمنه نه ښكاري ، ځكه چي له يوي خوا دمنځني آسيا هيوادونه په زرگونو خپلمنځي زبري لري ، اودگوډاگي رژيم دسرپرستي لپاره پكي كومه متره او گډه قومانده هم نشته بل دگډ مركز نشتوالي له تهاجمي حالت نه تدافعي توري ته راوستلي دي ، او هغه پخواني كمونستي غروريي دكمتري په احساس بدل شوي ، كه څه كوي هم ، خويس دومره ، چي دا افغانستان جهاد منځني آسيا ته ور ونه غزيږي ، اوله دي پورته نه نور كوم توان لري ، او نه كوم بله هيله په ماتي خولي زړه كي پاللي شي . امريكا هم بالفعل عاجزه او ددغه دگر په سهـواري كي ډاگهيدلي نشي . په بالقوه دول امريكا دلويديځ په مشري يوه شيبه هم زموږ له جهادي وړاندي تگ نه په ارام نده ناسته خو زموږ لپاره ديوه خارجي عامل په توگه كوم مركزي او ټاكونكي جهادي ضد رول نشي اد اكولي .

قذافي درپاليسي خودتجديدنظرميكند

٦ دلو :
معمرالقذافي رهبرليبياعهد كرده استكه ازحمايت ازوهشت افگني منصرف خواهدشد . قذافي درمصاحبه با روزنامه آبزرورمنتشره لندن هم چنان اظهارنمودكه برتفتيش خارجي ها از ساحاتيكه گويا براي تهيه سلاح كيمياوي واتومي اختصاص داده شده غورخواهد كرد .
روزنامه واشنگتن پوست ازقول ديپلومات هاي غربي نقل قول ميكند كه عامل تمايلات جديد قذافي ترس ازتعزيرات ويا اقدام محتمله نظامي عليه ليبيا ست .
محافظين انگليس وفرانسه مامورين ليبيا رادريم گذاري درطياره مسافربرامريكائي وفرانسوي مسئول ميدانند .

حكومت الجزائرنشرات جبهه نجات اسلامي الجزاير رامتوقف ساخت

الجزيره ٦ دلو :
خبرهاي واصله ازالجزاير مي رساندكه پوليس يك مركز نشرات تلويزيوني راكه ملكيت مجله المنقد است متوقف ساخته ودفاتر مجله الفرقان راتلاشي نموده اند . هردومجله ازجانب جبهه نجات اسلامي انتشار مي يابد . طبق خبرهاي كه ازالجزايرمي رسد مقامات الجزاير ميگويند كه گردانندگان اين دومجله سعي داشتند قواي مسلح الجزاير رابقيام عليه حكومت برانگيزانند درعين حال پوليس ميگويد : يكي ازمامورين جبهه نجات اسلامي راهنگام نصب يك پوستر دستگير كرده است دراين پوستر عبدالقادر حشاني وكيل رئيس جبهه نجات اسلامي كه درهفته گذشته دستگير گرديد بمردم خطاب ميكند . جبهه نجات اسلامي ومقامات حكومت الجزاير دستگيري عثمان ايساني رهبر جديد جبهه نجات راتكذيب كرده اند . ايساني شام جمعه گذشته پس ازتوقيف حشاني بحيث جانشين اومقررگرديد .

خبرمنتشره راديوكابل مبني بربروز جنگ بين حزب وجمعيت درولسوالي بركي برك دروغ محض است

لوگر - انا :
برادر عبدالاحمد خبرنگار افغان نيوزايجنسي ازولسوالي بركي برك ولايت لوگر گزارش مي دهد كه چندي قبل راديوي رژيم كابل خبري رابه نشررسانيدكه درولسوالي بركي برك بين حزب اسلامي وجمعيت اسلامي جنگي به وقوع پيوسته ويكتن به اسم مبين كشته شده است محض دروغ وبي اساس است . بلكه درولسوالي بركي برك مجاهدين شوراي مشترك دارند .تمام مسائل وقضاياي منطقوي راازطريق شورا حل وفصل مي كنند خبرمي افزايد كه درين اواخر درائر حمله مجاهدين بالاي پوسته دشت بابوس ٥ نفر عسكروملېشه مزدورهلاك وتعداد زيادشان زخمي شدند هم چنان درجريان عمليات يك نفرعسكربنام عبدالله اسيرگرديد، ومجاهدين ٦ ميل كلاشينكوف ، يك پايه هاوان ومقادير زياد مهمات نظامي را به غنيمت گرفتند .

مجاهدين مؤمن ولايت بلخ پانزده تن ازافراد دشمن رابه اسارت درآوردند

بلخ :
گزارش مكتوبي برادرجمعه خان مسئول نظامي حوزه حضرت بلال (رض) مشعراست كه مجاهدين مؤمن وشهادت شعاربلخ بتاريخ ٢٢ جدي ١٣٧. بالاي پوسته هاي امنيتي رژيم مزدور درسرآسياب كه قريب پايپ لاين گاز موقعيت دارد عمليات پيروزمندانه راانجام دادند كه درآن مجموعا پانزده تن ازافراد نظامي دشمن به اسارت مجاهدين درآمده وتلفات جاني ومالي زيادي به دشمن وارد گرديده است .
همچنان مجاهدين توانسته اند تايك ميل ماشيندار وچهارميل كلاشينكوف رابه غنيمت بگيرند .

شوراى كه تـوسط چند نفر رهبر انتصاب شود ، از كافـه ملت نمـايندگى كـرده نمى تـوانـد

دتساوي پرينسيپ دشوري جوړيدو طرحه ،ستونزه لاپيچلي کوي

رحماني

دجهاد په دي حساس پړاوکي چي له يوي خوازموږمؤمن مجاهدين وروستي بري ته درسيدو شيبي شماري اوله بل پلوه اسلام دښمن څواکونه ومجاهدينو دبرياليتوب په لارکي بوربل پسي خنډونه راپاڅوي، زموږ دجهادي مشرانواومسئولوکسانومسئوليت څوبرابره زيات شوي، پکاردي زموږ جهادي مشران په اوسني حالت کي داسي ګامونه اوچت کړي چي زموږ ددرديدلي ملت درد پري دوااوزخمونه پري پټي شي .

زموږ مجاهد ملت چي کلونه کلونه يي دپردو په وړاندي خپله سينه سپرکړي او هرظالم پرغل ته يي غابس ماتوونکي ځواب ويلي، دجهاد په دي حساس اوسخت پړاوکي هرڅه تمبه لمبردي ، زموږ دټولو مشرانو اومسئولو کسانو داعمالو جاج اخلي، ګوري چي رښتياهم څوک دملت په دردځان دردمند بولي ، اوڅوک هم دخپلو ګټوپه فکرکي دي. نن سباچي کومي طرحي دافغانستان دستونزي دحل په اړوند له يوي اويلي خوانه راوړاندي کيږي ، داټولي دمربوطه اړخونو، اصلي اهداف اونيتونه ښه په ډاګه کوي، اوتري څرګنديږي چي آياله دي طرحي څخه رښتياهم دهغي دطراح اصلي هدف دستونزي حل دي اوکه غواړي دځان لپاره برخه اوسهم پيداکړي ؟

واقعي اوريښتياخبره خوداده چي دغه جهادي پړاود١٤ کلن جهاد په اوږدوکي ترټولوسخت اوټاکونکي دي، ځکه چي همداوخت دي چي دجهاد ثمره يه يااصلي حقداروته رسيږي اويا به داستعمار چيانو اوتوطيه کوونکوله خوا دنورو په جيب کي لويږي، نوموږته پکاردي چي ددي ثمري داخستلو لپاره داسي طرحي اوفورمولونه راوړاندي کړو چي هم ستونزه پري حل شي اوهم ددښمن توطيي پري خنثي شي، ولي دتاسف اوبدبختي خبره خوداده چي موږاوس هم ترهرڅه خپلي ګټي محترمي ګڼو اوداسي طرحي وړاندي کووچي دچاخبره روند هم پري پوهيږي چي دادي دځان دګټي لپاره وړاندي کړي، نه دستونزي دحل لپاره .

دستونزي دحل لپاره دوړاندي شوي زرکسيزي شوري طرحه ، دپنځه سوه کسيزي شوري طرحه د . ۱۷ کسيزي شوري طرحه دقيادي شوري طرحه او ... داټولي په حقيقت کي پوځه دي، ځکه چي قيادي شوري ۱× ۱ ده . ۱۷ کسيزه . ۱×۱، پنځه سوه کسيزه . ۵× ۱ اوزرکسيزه . . ۱×۱ ده . او داټول په واقعيت کي يو بنيادلري چي هغه دتساوي بنياد دي، څينو پکي دتنظيم په سريوکس پيشنهاد کړي څينو دهغه پوه تن سربيره دهغه لس پلويان ، بل پنځوس اوبل هم سل . اوهرڅوک يي پخپل فکربيا زيان اوګټي شميري،خوکه ريښتيا هم بي طرفانه قضاوت وکړو نوداپوه طرحه هم نه يوازي دعدالت اوانصاف له اصولو سره اړخ نه لګوي بلکي دزياتومشکلاتواوستونزوسبب کيږي . دتعجب وړخوداده چي بيا اکثرمشران په دي اصرارهم کوي، اوکه نه نو، که ديوعادي مجاهداويايوکليوال نه داپوښتنه وشي چي، که په يوه جګړه کي يوګروپ لس ټوپکوال ولري اوبل سل ټوپکوال ، داددواړه ددښمن په خلاف جګړه وکړي اوغنيمتونه ونيسي نودابه څنګه ويشل کيږي ، هغه به څه ووايي ؟ ښکاره ده چي ويه وايي چي دلسوګروپ به دلسوبرخه اخلي اودسلوګروپ د وسلو، فکرنه کوم چي ووايي چي دواړه به مساوي برخي وړي .

داوسنيو تنظيمو عمده مشکل هم اوس په همدي کي دي چي عدالت اوتناسب نه مراعاتوي دقوي اوضعيف فرق پکي نشته .

قيادي شوري چي د ۱×۱ په حساب ده په دي خاطرچي دکارونواواموراتودهماهنګي اوتفاهم لپاره کاروکړي، دريځونه سره متحد کړي، دهرتنظيم په نماينده ګي نظرڅرګند کړي ، له نوروشوراګانو سره توپيرلري اوتوجيه يي هم کيداي شي ځکه چي دتنظيم دنظرڅرګندولو لپاره ديونماينده موجوديت ضروردي . نو په دي خاطر ويلاي شوچي هغه کسان چي دتساوي په بنياد شوراګاني جوړول غواړي دهغولپاره تر ټولو معقوله اوآسانه طرحه همدغه قيادي شوري ده ، چي هم پکي دريځونه متحد کيداي شي، هم پکي نظرونه څرګنديداي شي اوهم پکي اضطراري تصميمونه نيول کيداي شي، اوهرڅومره چي دغه شوري دتساوي په بنيادپراخيږي پږ همغومره اندازه مشکلات زياتيږي اوله عدالت نه لېري کيږي، اوکه فرضاً څوک دپراخي اوګټي شوري غوښتونکي وي نوبيا کيداي شي دقيادي شوري ترڅنګ دتنظيمونو دقوت اوداعضاوودشمير په حساب متناسبه شوري جوړه کړي چي داهم دانتخاباتوترکيدوپوري په عدالت ولاړه ښکاري اوهم ترزياتي اندازي دملت نماينده ګي کولاي شي . اوکنه نودتساوي په بنيادشوراګاني دستونزي او قيادتونو دتعدد سبب کيږي، داسي چي هرورځ به يونوي تنظم رازوغيږي اوبالاخره به هرڅوک ځانته يوحزب اوډله وي .

دمثال په ډول همدادتساوي شوراګاني دي چي دراوالپنډي له شوري وروسته اوه تنظيمونه اتو، نهو لسو اواوس دداعيه اتحاد په طرحه کي اوه لسوته لوړشوي دي ، کيداي شي په راتلونکي طرحه کي دغه شمير څوويشتو او بالاخره څوسوونه ووسيږي ، دداعيي اتحاد دمشر په طرحه کي هغوتنظيمونو ته هم مساوي برخه ټاکل شوي چي هغه دچاخبره چي تنظيم يي ديوي ګاډي سپرلي هم نشي پوره کولاي ځکه فطري خبري همداده چي دواړه اولوي، ضعيف اوقوي توپيرونه شي، انصاف مراعات نشي، هرچاته مساوي برخه ورکړل شي، نوهرڅوک به ځانته ډله اوحزب جوړوي، اودغه ستونزه چي اوس داوو ترمنځ نه حل کيږي بيا به نوڅنګه حل شي ؟

په دي وړاندي شووطرحو کي يوه بله ستونزه چي په زوريي خلك راپيداکوي هغه داده چي پرفعلي پيژندل شووتنظيمونو برسيره په دي طرحوکي ځيني داسي حلقي اواړخونو دتنظيمونو په حيث راڅرګنديږي چي هغوي ځانته هم تنظيم نه وايي ولي په دي طرحوکي ناخوداګاه هغوته دتساوي پربنادبرخه ايښودل کيږي او په زور داحزابو په شمير ورزياتوي، دمثال په ډول په ځيني طرحوکي چي يوه يي دداعيه اتحاد دمشرهم ده چي په هغي کي دقوماندانانو شوري ، دعلماووشوري ، په اروپا کي ميشتو افغانانو، اودکابل دخلکو لپاره اوهمداراز ټولو ضعيفواوقوي ډلوته پکي دلسو تنو ونډه ټاکل شوي په داسي حال کي چي ، همدغه قوماندانان، همدغه علما، اوپه اروپا کي ميشت خلك په پرته يوتنظيم پوري تړلي اوددوي پخپله هم داوايي چي زه دفلاني اوياانقلابي تنظيم غړي يم دهغه قوماندان يم . دهغه عالم يم اويادهغه نماينده يم . نوبيا په کوم اساس هم تنظيم ته برخه ايښودل کيږي اوهم يي قوماندانان ته هم يي عالم ته چي په تنظيم کي قوماندان شامل نه شو، عالم پکي شامل نه شو بل څوك پکي شامل نه

حل سياسي وهمسايگان افغانستان

نصير احمد حادث

نكتهٔ قابل توجه درمعضله افغانستان اينست كه تلاش هاي حل سياسي اين بحران واضمحلال قدرت شوروي كه عامل اين معضله ميباشد پيوسته باهم تناسب مستقيم داشته است.

هنگاميكه امپراطوري كمونستي روس ها دراوج قدرت خودقرارداشت تجاوزبه افغانستان انجام گرفت وزماني كه روس ها متوجه گرديدند كه نمي توانند اين دژ مستحكم ايمان رابشكنند بسوي سياست روي آوردند هرچند مذاكراتي كه سرانجام منجربه امضاي معاهده ژنيوگرديد قبل ازشكست روس ها آغاز گرديده بود اما صرف شكل نمايشي داشت وهدف ازآن كاهش فشارذهنيت عامه بود.

درحقيقت مذاكرات ژنيو ازدورهفتم رسمي آن آغاز يافته است زيرا درآنوقت بودكه روسها ازخواب جهالت بيدار گرديده ودانستند كه ديگر چيزي براي ايشان باقي نمانده است كه دراين راه ازدست دهند درمذاكرات ژنيو كه تحت سرپرستي سازمان ملل انجام ميگرفت ، دوطرف اصلي درگيريعني مجاهدين وروس ها اشتراك نداشتند هرچند آنچه روس ها ميخواستند توسط مزدوران ايشان درمذاكرات مطرح ميگرديد اماعدم حضور روس گوياېدان معني بودكه طرف اصلي قضيه نيست وبدين ترتيب ازتجاوز آنكشوربرافغانستان كه علت اصلي اين بحران است چشم پوشي صورت ميگرفت.

مدتي قبل ازامضاي معاهده ژنيوميان حكومت پاكستان ورژيم كابل وضمانت شوروي وامريكا ، روس ها علناً اظهارميداشتند كه عساكر خويش رادرصورت شكست مذاكرات نيز ازافغانستان خارج خواهند ساخت وگورباچوف افغانستان را زخم خون چكان ميخواند .

بهرصورت معاهده امضاشد وبدين ترتيب براي روس ها اين زمينه وآبرو فراهم گرديد كه تحت پوشش يك معاهده عساكرخويش راازافغانستان فراخوانند وبدين ترتيب به ظن خويش داغ شكست را از پيشاني خويش بشويند گرچه آفتاب را نمي توان به دوانگشت پنهان ساخت وجهانيان همه حقايق رادانسته ويا آهسته آهسته خواهند دانست .

مقصود ما اكنون تعقيب سيرحوادث نيست بلكه مي خواهيم اين مسأله راخاطرنشان سازيم كه هنوز مسلم نگرديده است كه چرا دوستان جهاد وهمسايگان مادرمقابل روس ها كوتاه مي امدند مثلاً ،ايران به جز آنكه درالفاظ تاكيد ميكرد كه بايد اين قضيه مطابق به خواست هاي مردم افغانستان وتوسط ايشان حل وفصل گردد هيچگونه اقدام عملي نكرد .

پاكستان كه ميزبان بيش از سه مليون مهاجر افغاني ميباشد خوددادرگيرآن مذاكرات جنجال برانگيز وبي ثمرساخت كه اكنون نمي توان دليلي براي آن اقامه داشت . شايد دولت مردان پاكستان دراوائل ازپيشروي بيشتر روس ها به سوي جنوب نگران بودند اما بعدها كه شكست شوروي درمقابل مجاهدين مسلم گشت وروس درصدد دست آويزي بودكه ازافغانستان فراربنمايد ،چرا حكومت پاكستان چنين دست آويزي را فراهم آورد اين سوالي ميباشد كه روي آن بحث هاي زيادي صورت گرفته اماتاكنون نتيجه بي مطمئني ازآن بدست نيامده است.

معاهدهٔ ژنيوميان حكومت پاكستان ورژيم كابل تحت نظر سازمان ملل وبه ضمانت شوروي وامريكا وقتي امضاشد كه آقاي محمد خان جونيجو رهبركنوني حزب مسلم ليگ پاكستان ،سمت نخست وزيري پاكستان را داشت وفقط چندي بعدازامضاي اين معاهده توسط شهيد جنرال محمد ضياالحق رئيس جمهور وقت پاكستان ازوظيفه اش سبكدوش گرديد وشوراي ملي وشوري ها ي ايالتي منحل گرديدند .

درموردبركناري محمد خان جونيجو دلايل زيادي ارائه گرديده كه يكي از آنجمله همين امضاي معاهده ژنيو ميباشد هرچند هيچگاه رسماً چنين سخني به ميان نيامده ومانيز نمي توانيم آنراكاملاً صحيح پنداشته وتاكيد كنيم اماگفتن اين نكته ضروراست كه اعجازالحق وزيركار درحكومت كنوني پاكستان پس ازشهادت ضياالحق طي مصاحبه بي گفت كه پدرش درهنگاميكه اين معاهده امضا ميگرديد خيلي ها عصباني بود.

بهرحال رژيم نجيب براي پيمان رسواي ژنيو تبليغات زيادي نمود وآنرا دست آورد بزرگ طرح صلح وآشتي ملي خود دانست اماچون دراين معاهده به اصل بحران هيچگونه توجهي صورت نگرفته بود جهاد عليه رژيم ملحد همچنان ادامه يافت تاآنكه رژيم مرگ رادر دوقدمي خود احساس ميكرد واين مقارن به زماني بودكه شوروي كمونيستي به سرعت به سوي زوال ونابودي پيش ميرفت وامريكايكه تازصحنه استعمارجهان گرديد.

بدين ترتيب رجحانات غرب تغييركردوامريكا كه تاآنوقت ازقدرت روسها درهراس بود چون كار رقيب راتمام شده تلقي كردازظهوررقيب ديگري كه همانا جهان اسلام باشد به هراس افتاد لذا جانب روس ها را گرفت وخواست به همكاري ايشان حكومت مختلطي از مزدوران خود ومزدوران روس ها به ميان آرد اما درجريان سياست همسايگان افغانستان يعني ايران وپاكستان خيلي ها عجيب ميباشد.

ايران كه تاآنوقت به حل بحران افغانستان به اساس فيصله " ملت تاكيدمي ورزيد به وساطت شوروي آهسته آهسته راه روابط دوستانه با رژيم كابل را درپيش گرفت وگروه هايي را كه درايران مقرداشتند تحت فشار قرارداد تا با رژيم كابل مذاكره كنند.

هواپيماي حامل نجيب مزدورباري درمشهد توقف نمود وبه تعقيب آن رژيم كابل ادعا كردكه نجيب بانمايندگان گروه هاي مستقر درايران مذاكره كرده است هرچند آن تنظيم ها اين ادعا را تكذيب نمودند.

همزمان بااين جريانات سفارت ايران دركابل به فعاليت آغازنمود وكاردارسفارت دربعضي از محافل رسمي رژيم اشتراك ورزيد واكنون حكومت ايران علناً به رژيم كابل همكاري ومساعدت مي نمايد.

امادرمورد پاكستان كه همواره ازحق مسلم مردم افغانستان براي تشكيل حكومت اسلامي دلخواه خودحمايت مي نمود مساله شكل ديگري دارد.

امريكاازمدت ها به اينسو پاكستان رابخاطرمساله افغانستان ومسايل اتومي تحت فشار قرارداده است.

هرچند هنوزبصورت جدي نمي توان دراين مورد به قضاوت پرداخت اماشايد عده يي ازدست اندركاران اموردرپاكستان بخواهند كه افغانستان راوجه المصالحه قراردهند وبدين ترتيب ازدشمني باامريكا جلوگيري كنند امااقدرمسلم آنست كه امريكا صرف به چنين وجه المصالحه بي راضي نخواهد شد زيرا آنكشور ميخواهد كه پاكستان تمام برنامه هاي اتومي خويش رامتوقف سازد زيرا هدف امريكا آنست كه نبايد هيچ كشوراسلامي پيشرفت شاياني بنمايد ووري چنين مقصودي درصدد تقويه هندوستان برآمده وميخواهد كه آنكشور را به ژاندارم جنوب آسيا تبديل نموده وتمام كشور هاي اين منطقه رادست نگر قدرت هندوستان بسازد وبدين ترتيب پاكستان نه تنها ديگر اهميتي براي امريكا ندارد بلكه مانعي درراه اهداف استعماري آنكشور درمنطقه ميباشد واگر پاكستان درصدد همكاري باامريكا برآيد وخداي ناخواسته حكومت دست نشانده امريكا درافغانستان رويكارآيد نه تنها فشارامريكابرپاكستان كاهش نخواهديافت بلكه افغانستان نيزبه يكي ازعوامل فشاربرپاكستان تبديل خواهدشد برعلاوه پاكستان نخواهد توانست باكشورهاي مسلمان نشين جديداً آزاد شده آسياي ميانه ارتباط نزديك تجارتي برقرارنمايد.

درصورت تشكيل حكومت دست نشانده امريكا درافغانستان پيمان همكاري هاي اقتصادي ميان پاكستان ايران وتركيه نيز ره بجاي نخواهد برد وسرانجام افغانستان به كشوري تبديلي خواهدشد كه برعليه همسايگان خودوبه ويژه پاكستان وايران استعمال گرديده ومنجربه خرابي وضع اين كشورها گردد.

گرچه ثبات وپايداري مردم افغانستان نخواهد گذاشت توطيه هاي استعمار دراين كشور پياده گردد.

به صلاح ايران وپاكستان است كه ازمردم مسلمان افغانستان حمايت كنند نه از برنامه هاي استعماري امريكا كه هدف ازآن برده سازي تمام كشور هاي اسلامي وبه خصوص پاكستان وايران ميباشد.

له خپل حزب سره دتعهد بيا نوی کول

ننګيار

دامريكا اوغرب دپوچو پروپاګنډواوښكروودروغوحقيقت هغه وخت سړي ته ښه څرګندشي ، كله چي سړي دخپل مؤمن ملت اومجاهدوخلكونظر ،عقيده اوآرمان اظهارله نږدي وګوري .

داپوحقيقت دي چي دغرب تبليغاتي وسايل دومره پراخ ،فعال اوقوي دي چي ټوله نړي يي ترخپل تاثيرلاندي راوستلي اوحقيقت يي تري ورك كړي .

كه وواپوچي ټوله نړي اودنړي په ګوټ ،ګوټ كي خلك اوولسونه دغرب دزهرجنو تبليغاتو ترمستقيم اوغيرمستقيم تاثيرلاندي دي اودهغه له امله يي خپله لار وركه كړي ،دروغ به مونه وي ويلي ،غرب كولاي شي چي له من نه خروار اوله خروار نه من جوړكړي اوپه آساني خلك دخپل مقصد په لورسوق كړي.

دامريكا په مشري اوس د غرب ټوله پاملرنه داسلامي نړي په لوروده اوسخت كوښښ كوي چي دمسلمانانوترمنځ باور اواعتماد ختم كړي. مسلمانان له خپلي روښانه ګاندي نه ناامېده كړي او داسي وښيي چي ګوندي مسلمانان كمزوري ،بي اتفاقه او وروسته پاتي خلك دي.

زموږ دمجاهد ملت په وړاندي دغرب همدغه دريځ دي او همدغه يي عزم دي ، چي بايد مجاهدين بي اتفاقه ،له خپلي راتلونكي نا اميده اودخپلو حقيقي مشرانو په وړاندي شكمن اوسي ،له مختلفو لارواوذرايعو نه كار اخلي اوپه سره سينه دوام وركوي . هغوي دخپلو پليټو هدفونودحاصلولوپه لاركي هيڅ ډول خستګي ،ستړيااوناامېدي نه مني . دهغوي لپاره داډيره مهمه كاميابي ده كه ديوملت يو ډيريي تاثيره اوعادي سړي هم ددوي لپاره جذب شي . بيا نوددا توان دوي لري چي له هغه نه يوډير ستراومهم شخصيت جوړ كړي.

موږ په خپل هيوادكي ددي غټ ، اوښكاره مثالونه لرو . هره ورځ ګورو ، اوورو چي غرب څه ډول خلك تبليغوي اوغټ اومهم شخصيتونه تري جوړوي . داسي كسان چي حتي خپل پلاراوكورني هم رټلي ،خودوي يي دقوم مشران معرفي كوي اودهيواد راتلونكي ورپوري تړي - هره ورځ له بي ، بي ، سي ،امريكا غږ اونوروغربي راډيوګانو دهمدغسي خبرو څپرونه اورو اودهغوي لپاره مصنوعي صفتونه .

همدا اوس ،اوس د پخواني خاين پاچا مطرح كول اوبيا يي دملت په خوښه او رضا دراوستلوپوچ تبليغونه هره ورځ اوهره شپه دغرب له رسوا لوډسپيكرونو نه اورو . حتي دا هم اورووچي وايي ۹۵ فيصد ، خلك دظاهرشاه طرفداران دي اوپواځي پنځه فيصده خلك يي مخالفين ددغو دروغوهوريښتيا ښودلو لپاره له داسي چاسره مرګه هم كيږي اوټاټيد يي تري اخستل كيږي چي هغه محترم همدا اوس له خپل ولس نه پټ ګرځي . په داسي ځايونوكي پټ دي چي پواځي خپلو پادارانتر ته ورمعلوم دي. دغرب دغو تبليغاتو داسي زورتيولي چي ته به وايي ريښتيا ظاهرشاه دخلكو په منځ كي ځاي پيداكړي اوخلكو يي ټول خښتونه او جنايات له ياده ايستلي دي ، خو داهر څه هغه وخت سړي ته روښانه شي چي له خپل ولس سره په تماس كي شي اودهغوي نظرورته څرګندشي . بيا نو پوه شي چي غرب څومره دروغ وايي اوڅومره واقعيتونه يي له خاورو لاندي كړي دي .

مثلاً همدا څو ورځي مخكي دغرب پخواني نوكر عزيزالله "واصفي" له بي . بي . سي سره په مركه كي وويل چي دظاهرشاه (۹۵) فيصده خلك طرفدار دي او يواځي پنځه فيصده يي مخالفين دي اوس نوكه دغه دظاهرشاه اوغرب زاړه نوكر ته ووايي چي ته خوپوځل په ريښتيا ورځ دمهاجرينو يوكمپ ته لاړ شه اوكه لاړي بيا دي بي . بي . سي ته داواوورکړه نومنوچي ستاخبره ريښتيا ده اوكه دافغانستان دټنه لاري تويښكه چي ټول ملت ستا سو طرفداردي ،كنه دهمدغه مجاهد ملت وهل خوږه دي ان شاءالله چي لاهيرشوي نه يي ! ستاسو دملي خاينينو قدراوقيمت اوس ښه څرګند دي.

داخو دغرب هغه غټ ،غټ نوكران دي چي دغه حال يي دي واړه خوبي پرېږده چي خپلو كورونوكي هم ځاي نلري.

راځي چي دخپل مومن اومجاهد ولس نظرله نږدي وګورو چي څومره دغرب اوامريكا يي كفر پروپاګند حقيقت لري؟ پدي ورځو كي زموږ دمومن ملت دمختلفو اقشاروداستاذيوغونډي اوسيمينارونه اودهغو په لړكي له خپل اسلامي حزب اودهغه له مجاهد قيادت سره د كړي تعهد يوځل بيا تجديد هغه حقيقتونه راڅرګند كړل كوموچي له غرب نه لاره وركه كړي.

دسلواغي په پنځمه دهيواد له ګوټ ،ګوټ نه د "۳۰۰" تنو سترو جهادي قومانداناتو، په شپږمه يي د" ۷۰۰" تنو دمختلفو قومونودمحترمومشرانو، په اوومه يي ددينې علماوواوپه اته يي دتجاراتو اوكسب ګرو مخلصانه راغونډيدل اوله خپل حزب اوقيادت سره دتعهد نوي كول او دسوچه اسلامي حكومت ترقيامه دجهاد قريضي ته دوام وركول ،هغه څه دي چي دغرب اوتړپوال كفر داځوكلني توطيي ، دسيسي اوپروپاګندي په اوبو لاهو كوي اويوځل بيا زموږ دمجاهدو ځواكونو په رګونوكي داسلام اوجهاد وينه په جوش راولي .

غرب دپيسو اورشوت په زور يوبي ايمانه ، بي وجدانه اوبي ضميره اېله ديته تياركړي چي دخپلي راډيو لپاره تري دخپلي ګټي لپاره بوبيان واخلي ، خوزموږ مجاهد اومومن مجاهدين ،قوماندانان ، قومي مشران ، علما اوكسبګر له لري لري ځايونو نه په خپله خوښه راځي چي دخپلو قيادت سره خپل تعهد نوي كړي او داواوړکوي چي تراخرني سلګي به ورسره ملګري وي اوله هيڅ ډول ګړاو نه به مخ وانه ړوي.

دغه دي تعهد اوعزم چي دخپل مقدس ارمان لپاره له هرڅه تيردي اوهرډول ستونځو اوكړاوونه ته بي سيني سپركړي ، له خوارلس كاله جګړي ،محروميت ،كړاو اومنهو رامنهو وروسته بيا هم په خپله خوښه اوبي اندازي اخلاص سره خپل حزب اوقيادت ته راغونډيږي او دخپل عزم اظهارورته كوي.

دغه ته وايي متعهد اوباعزمه ملت چي له خوارلس كاله جګړي وروسته بيا هم خپل اميرته واړ وركوي اودخپل مقدس مسير دتعقيب حوصله وربښي ،په ريښتيا چي ددغسي صحنو ليدل سړي متاثره اوپرخپل تعهد يي شكمن كوي.

كله به مي هيره نشي دهغه قومي مشر خبره چي دقومي مشرانو په غونډه كي يي وكړه هغه وويل : په خداي (ج) مي دقسم دي چي په داخو ارلس كاله جهاد كي همدانن حكمتيارګورم پداسي حال كي چي داخوارلس كاله دهغه په جهادي ليكوكي دجهاد كولو افتخار لرم خواوس يي دښمنان داتبليغوي چي ګوندي خلك دظاهرشاه طرفدار شوي ، بيا تعهد كوم اوخپل محترم اميرته واداوركوم اوقسم كوم چي له خپل كور اولاد اوقوم سره به ترهغو جهاد ته اودامه وركوم ترڅو چي اسلامي حكومت جوړشوي نه وي.

هغه دخپلو خبرو په دوام كي خپل اميرمخاطب كراوپوښتنه يي تري وكړه : حكمتيار صاحب ! وواپه چي له دي مخكي موسره ليدلي وو ؟ هغه ورته وايي نه .

بياورته وايي چي زه يوځل بيا تعهد درسره كوم چي ترمرګ په درسره يم .

دغه دي د تعهد او ودريدو مثال ، هغه چي يومسلمان اومجاهد يي له خپل امير سره كوي اودغه ده وفا چي څوارلس كاله ديوه حزب په ليكوكي جهاد كوي ، جنګيږي خودخپل امير دليدو شوق نكوي ، بلكه هغه وخت يي داشوق په سينه كي ځپي وهي چي خبريږي دخپل حزب اوامير په باب يي دښمنان غلط پروپاګند كوي اوتوطيي ورته جوړوي ، بيا نودخپل تعهد داظهار اودراتلونكي ملګري په خاطر ورته راځي اوداومن كوي يي .

اوس نو په امريكا پوسيره كه په ټوله نړي كي چاداسي مثال وښود ،متو چي پرموتربه نورڅوك حكومت وكولاي شي اوخپل شوم مقاصد به ترلاسه كړاي شي . د اوو سووتنو قومي مشرانو په يوه خوله اويوه چيغه له خپل اميرسره داتعهد چي : " قسم پرخداي (ج) ترآخرني سلګي درسره يواوهيڅ ډول سازش اوفشار ته به تسليم نشو. هغه قوت دي چي ان شاءالله امريكا څه چي ټوله نړي به يي مات نشي كړاي . ولي چي ددغسي تعهد عملي بڼه په داخوارلس كاله جهاد كي هرچاته څرګنده شوي ده .

اوس نوكه غرب ظاهرشاه اوياكوم بل ګوډاګي راولي ، رادي ولي اوداشوق دي هم پوره كړي، ترڅو وګوري چي افغانان څوك دي او څه غواړي . خوبوه خبره دي ياده ساتي چي نوريي بيخايه او پوچو تبليغاتو هم ماهيت بابللي او نوربه ان شاءالله څوك دوكه نكړاي شي ولي چي زموږ مومن اومجاهد ملت هوښياردي.

پرامريكايي پاليسيو ديهودو تسلط

ژباړه :- نورګل څمکني — لمړی برخه

مشهور ليكوال مشاهد حسين دجنوري په پولسمه نيټه دفرنټير پوسټ دورځپاڼي په ۱۸۸ ګڼه كي ليكلي چي :

دامريكاپه خارجي اړيكو كي ځينو واقعاتو دنړيوالو توجه دي خبري ته وګرځوله چي د منځني ختيځ په باب دامريكا پرخارجي پاليسي ديهودو خورازيات اغيزدي چي په واشنګټن كي هيڅوك له هغو سره مقابله نشي كولاي . كه څه هم نورهيوادونه هم په امريكا كي" د بانفوذه مقاماتو سره قرار دادونه لاسليك كوي چي ورته دامريكا دحكومت ملاتړ ترلاسه كړي خود اسرائيلي دولت سره په دي برخه كي هيڅوك دمقابلي توان نلري .

همداراز اوس دهند ملاتړ كوونكي هڅه كوي چي له يوي خواخپلي هلي ځلي تندي كړي اوله بلي خواديهودو سره لاس يوكړي . څه موده دمخه چي دملل متحد په عمومي اسامبله كي د"صهيونيزم نژادپالي ده"دقرارداد دمنسوخي لپاره هند هم رايه وركړه .

دامريكا په كانګرس دنيوپارك نماينده مستيفن سولارز په دي وجي دهند زيانه ستاينه وكړه ، په داسي حال كي چي مرحوم ضياالحق نوموړي ته " د هند دوږ" لقب وركړي ژ اوپه امريكاكي هم داسرائيلو دوكيل په حيث شهرت لري.

په تير سپتمبر كي داسرائيلو ملاتړ كوونكي ... دوي شانته ماتي سره مخامخ شول چي جورج بوش اسرائيلو ته دلسو ميليارډو دالرو پورقرضي بحث وځنډاوه چي له روسيي اوشرقي اروپا څخه راتلونكيو يهودوته دكورونوجوړولو لپاره يي غوښتنه شوي وه .

بوش غوښتل چي اسرائيل بايد دامريكاپه مشري له عربو سره دمذاكراتو لپاره تيارشي ، چي نوموړي مذاكرات لومړي په مادريد اوبيا په واشنګټن كي ترسره شول .

يوازي دځلوروميلاشتو لپاره اسرائيلو ته دقرض پرمعاملي بحث نه كول هم د"فتحي " په څيرتلقي شول اوهمداراز په ۱۹۸۱ م كال كي سعودي عربستان ته د آواكس په وركولو كي هم يهوددماتي سره مخامخ شوي ژ. خوڅرنګه چي په ۱۹۹۲ م كال كي دجمهوري رياست لپاره عام انتخابات كيدونكي دي نودامريكاپه داخلي اوخارجي سياست كي هم ديهودو په ګټه بدلون ليدل كيږي.

دامريكا دخارجه پاليسي تحليل كوونكو داڅرګنده كړي ده چي دعربواسرائيلو په كشاله كي امريكادنام نهاد منصف په جامه كي هڅه كوي چي داسرائيلو ملاتړ وكړي.

امريكا نه يوازي په منځني ختيځ كي ديهودي پلانونو سره سم عمل كوي بلكي په جنوبي آسياكي هم دهغوپاليسي عملي كوي. په ۱۹۸۱ م كال كي كله چي د اسرائيلو لپاره ... دريوميليارډو امريكايي مرستي پرسيحت روان ژ. بودانرميم پري اضافه شو چي كه پاكستان اتومي ازموينه وكړي نومرسته به پري بنده شي .

كله چي ترميم منظور شونو سناتور حمس مكلور داسي وويل : كه اسرائيل اتومي ازموينه وكړي نومرسته به پري بنده شي ؟ هغه خپل سوال ته دغسي ځواب وركړ اجازه راكړي چي دغه سوال ته په صداقت ځواب وركړو . هيڅوك دا باورنلري او زه يي هم نلرم چي په دي صورت كي به موږ پراسرائيلو مرسته بنده كړو ."

نوموړي سناتور دا هم اضافه كړه چي امريكا تركيي ته ددي سزاوركړه چي دقبرس پرخلاف يي په جنګ كي امريكايي وسلي استعمال كړي وي .

مګركله چي اسرائيلو دامريكايي وسلو په ذريعه دعراق اتومي كارخانه بمباري كړه ياتراوسه چي دلبنان خلك پري وژل كيږي نوامريكايي قوانين په داسي صورتونوكي نه عملي كيږي .

امريكايي يهود په حقيقت كي داسرائيلي دولت ديوي برخي په حيث كاركوي چي په هرقيمت چي وي په امريكا اوټوله نړي كي داسرائيلوګټبوساتنه وكړي . ترهر څه دمخه دوي هڅه كوي چي امريكا دفلسطين دآزادي تنظيم په رسميت ونه پيژني اوهمداراز امريكا هغوهيوادوته مرسته ورنكړي چي له يهودي صيهونيست دولت سره ښكاره يايه پټه دښمني لري.

امريكا كي ديهودو دفعاليت په باب زيات څه ويل شوي اوليكل شوي ،خوهيڅاته په دي باب زيات معلومات نشته چي دوي څنګه فعاليت كوي اويه ډول دپاليسيو په جوړيدو اوعمومو فيصلو اغيزه كوي. ع.ع

خلکوته بشارت ورکړي ،مایوسه کوي یې مه

غلام حضرت شاکر

پدې حساسو شیبوکې چې نړیوال کفر خاصتاً دتوي نړیوال نظام باني (توربنکیلاك) په ډیره سپین سترګي دافغان ولس ددپارلسوکالو دجهاد ثمره په خپله کیسي کي اچول غواړي .

اودلته اوهلته یې مؤمرات روان دي ترڅو په افغان مؤمن ولس یوغرب مشر به انترناتیف وتپي ، ځیني کسان چې داسلام داقتضا په خلاف یې پاس غوره کړي لګیا دي داتبلیغوي چې ګویا دافغانستان انقلاب دنامعلوم اومبهم فرجام په لورمخه کړي اوپه افغانستان کي په نیږدي ګانده کي داسلامي حکومت دایجاد خبره دافغاناتودخپل منځي ضد ضدیو په وجه اویاپه څه توروعللوحاشیي ته وتلي . همداراز هغوي دافغانستان داسلامي انقلاب په ګردومشیتو لوریواومطلوبو نتایجو اغماض کوي خوهغه وړي تشي چې یوپه دتهولو مؤمنوعناصرو په کوښښ اومخلصانه مساعي ټلاقي شي دومره لوي ترجیه کوي چې آدرحمن باباخبره دمچ له وزرنه غرجوړوي اوپدي ترتیب دافغان مزل وهلي جهادي کاروان ته دبشارت په ځاي دیاس والي تقديوي .پدي ډول تبليغاتوکي داقماش خلك زيات رول لوبوي.

١- هغه وګړي چې قلباً له اسلام سره امتزاج نه لري غیراسلامي ډلوته منسوب دي ظاهراً دمهاجریه نامه په پاکستان اویا..... کي ژوند کوي اویا یې دځینو تش په نامه جهادي ډلوپه ليکوکي ځان ځاي کړي ،اوس چې په افغانستان کي دافغاني شاژلو درزم وخيز په نتیجه کي د تجیب رژیم له پارکاله راغورځول اوپه ځاي يې یومطلوب رژیم جوړیدل بیشکه شوني شوي نوددغسي یوسوچه اسلامي نظام له جوړیدو سره خوهغوي په خپل ناولي کردار مجازات یومحتوم امرګڼي نوځکه سعي کوي ترڅو دانقلاب دورو تشو په لویولویو توجیه کولو دجهادي تلونو ځیني سترې خلك په خپلو ليکوکي مسجل کړي اوخپله ناپاکه ليکه پري توره کړي .

٢) معمولاً ځیني خلك چې دنامقدس آرمان لرونکي وي کله چې دخپل مخالف قطب سره د سيګنو په کرنه کي رقابت و نه شي کراي اودښوپه اظهار مخالف لوري ته ماته ورنه کراي شي په اپلتوخوله پرانيزي په مقابل لوري پسي سپکي سپوري وايي افتراء کوي اتهامات واردوي له ملت سره دزړه سوي په بڼه مخالف لوري دملت غدارمعرفي کوي ترڅو که وکولاي شي څه کسان وغلوي او ددوي په اپلتو صحه کيدي ، ددوي په اندداهم دحریف دنفوذ اومحبوبیت دراکمولو اوپه عام ولس کي دکرني -اغبرمنه لارده ددي خلکو ظرفيت همدومره ده اولدي پرته دبل څه توقع هم تري کيداي نه شي.

٢- پدغسي يأس آميزه تبليغاتو کي هغه خلك هم پوره لاس لري کوم چې په اسلامي واقعي جهادي ډلوکي ندي تسجيل شوي دبي طرفي لاره يې غوره کړي او يايي خپله څه خانني تاولي خبري په خان راتولي کړي دیوګروپ دمشر په نامه يې له افغان مؤمن سره دهمدردي اوخواخوږي په عنوان تبارز کړي ، دمختلط نظام غوښتونکي اوپه افغانستان کي دهغه حکومت چې دغربیانوپه اصطلاح په بنیادګرایي مبتني وي په کلکه مخالف دي ، دپردو په نغوته دارومدار لري اوپه مستقبل کي په افغانستان کي دخپل تعیش داستمرار چانس نه ګوري دغه ډول خلك چې په سنګرونوکي څه نه لري اونه پکي دحریف دماتي جنګي نتيجه شته ، نودهغه لوري چې دجنګ متره یې دشرقي زیرخواك دماتي باعث شوه ،په خپل ملت کي خو پريږده په اسلامي امت کي يې په زړه پوري محبوبیت کسب کړي اوئن سبا به په افغانستان کي دخپلي قرباني ثمره اخلي ، تنازل پدي کي لټوي چې دهغوي شکايات خپلو غربي باداراتو ته وکړي اودغربي خبري آژانسونو له لاري هغه اپلتي و وايي کوم چې دافغاناتو دوياړمن موقف دسپکاوتي معني لري لدي خلکو هم څکه ګيله نده په کار څوك چې له اغيار و سره امتزاج لري نودهغوي دخوشحالي لپاره خوبه لګه وايي . داخلك زموږ ملت پيژندلي اونوريه په هغه اودي نامه ان شاءالله څوك دوكه نه کړي.

٣- دریمه ډله خلك چې متأسفانه ددوو پورته يادشوو ډلو تبلیغاتي ماشين ددوي دمايوسانه کلام په حرارت چارج اخلي هغه دي چې دعقيدي اوايډيولوژي له نقطه نظره مسلمانان دي په اسلامي ګوند ونوکي يې څه وخت کارکړي ، شيواکلام او رسا قلم يې دانقلاب دېري خاليګاوي ډکولاي شي ولي چې کله يې په خپلو تنظيمونوکي له امکان نه اوچتې غوښتني ندي منل شوي نه يوازي له خپلو اړوند ومنظمو ګوښي شوي چې په اسلام کي بيا په دغسي برخه ليك ټاکونکو شيبوکي انزواهم عظيمه ګناه ده لاچې دخپلو تنظيمونو په هجو پسي يې دغسي راااخيستي چې دجهادي ليکو هغه مثبت مواصفات يې چې جهاني استضعاف پري انهماك کړي اوپه ويار يې ستايي کوروټ هيرکړي اودتحريکو تو هغه خلاوي بيانولي چې داسلامي تحريك ډيرو بنومواصفاتو ته دکك حيثيت لري خودوي يې په برماهرانه انداز هومراه لوړوي چې ته به وايي ددي تحريك بنه ټکي چوره شته نه . دغه ډول وګړي ګمان کوي دمصلحت اودتحريکونو دتشردوکولو لاره داده چې داډول وړي تشي په عامو مجالسو کي اويااخبارونو په مخ نشر شي اوسبا هرکس وناکس پري استناد وکړي اوعجيبه خو داده چې داخلك پدغه ډول موقف ګيري دتنظيمونو ديووالي غوښتنه هم کوي.

حقيقت دادي چې که دافغانستان داسلامي انقلاب مثبت ټکي راغونډشي صحيفي ځيني جوړيږي اوکه په واقيعيت اغماض و نه شي نوددغومشتو صفاتو امتياز ترټولو دمخه هغوډلوته راجع کيږي چې په اسلامي آرونو ولاړ خوځښت يې پيل کړي اويا پدي منظمو کي زيات دامتياز خاوندان هغه دي چې ددي تحريکونو تاداو يې په اسلامي مبنا ايښي اودهرکارتاداب چې يوخ وي په مشتو مباني وو استواروي فرجام به يې هم حتماً مثبت وي نوچي خبره همداسي ده نو بيا څه فايده دانقلاب اوتحريك له ورو ورو خلاوونه په خپلو حسودانه اظهاراتو لويي خلاوي جوړوو اوداسلام دښمنانو ته پخپل لاس استناد ورکوو ترڅو هغه زموږدوينا وو په استناد دافغان اصيلو ولو په وراندي دښمنانه راپورتاژونه تعبيه اوله خپلو خبري آژانسونه تشرکړي دغه ډول تبليغات،دښمناتوته استناد په لاس ورکول اودهغوي لاسو هنو ته دافغانستان په قضيه کي لاره برابرول دي.

داسلامي تحريك دمنسوبينو خپل منځي هجو هغه ډلي تشجيع کوي کوم چې داسلامي انقلاب ثمره د پردوپه کيسي کي وراچول غواړي اودلته اوهلته داسلامي انقلاب داصيلو بچيانو په قبال کي محرم فعاليتونه لري . زه ددغسي خلکو له اولي اودوهمي ذکرشوي ډلي څخه ګيلي نه کوم اونه په هغوحساب کوم څکه هغوي له آره زموږ دانقلاب په دښمني کي ولاړدي خودددي مضمون دريمه ډله خلك مي مخاطب دي هغه چې بايد راسره تشريك مساعي ولري اوپه ګډه راسره دانقلاب تشي دکي کړي لدي وروتو بايد ګيله وشي اوداوروته بايد دجهاد سفينه مطلوب ساحل ته راسره ورسوي اوپه نيمه لاره کي يې پري نه ږدي ، په خپل شيوا کلام دي دجهاد مزل وهلي کاروان ته داسلامي موخي دتحقق په لورچټك يون ورکړي . که دچا په مايوسانه کلام کوم مجاهدد نهيلي ځپي په سراخلي شوق ونشاط يې کميږي ،ستګرتخليه کوي اومنزوي کيږي نودجهادي ثواب نه په محروميت کي هغه ورسره شريك دي چې دغسي دالله (ج) دلاري سپاهي ته دنا اميدي روحيه ورکوي کوم چا ته چې دهغه دمنفي موقف ګيري په وجه دښمن اميد وارشي اويا علي الاقل په خپلو ناسنجيده ظواهرواوحرکاتو دجهاد دښمنان خوشحاله کړي هغه دي پدي وپوهيږي چې لاره يې خطاکړي اوبايد په خپلو اعمالو کي تجديد نظروکړي . بنه خبره داده چې دانقلاب په ليکوکي موجودي خلاوي په تولودکي کرو اوحتي المقدوردهغوانتقاو کرو. دادانقلاب دتشوداتنقالاره نده چې څوك يې په ګوته کړي اوپخپله يې دحل په اړه دبي تفاوتي په چوتره کيني . او که ځيني خلك ګمان کوي چې دانقلاب اوتحريك منفي مواصفات هرځاي بيانول د خاليګاوودکول دي اوچوپتيا ګناه ده ، دا اشتباه ده اوداخلګ سخت په مغالطه کي لويدلي ، دانقلاب پرمختکيانو اودتحريك پرياليسي هرځاي نيوکي خلکو ته داختلاف اوله جهادي ډلو څخه داعراض دتلقين معني لري اوله جهادي ډلو څخه پرجدايي کي دجهاد رسالت پراخيزمن دول ترسره کول ناشوني خبره ده . له هغي وينا نه چې دمؤمن ياس اوددښمن خوشحالي پکي مضمروي چو پتيا په مراتبو بنه ده ،او له هغو ډيرو چټياتو اوانتقاداتو چې په حسد ومبتني وي اوپه بي اعتمادي اواختلاف منجرشي اوبي ځايه خوله پري ستري شي يوکك قدري تيك عمل اودتحريك دوضعي دبهبودي په اړوند يوعملي ګام اخستل غوره دي . زموږځيني ورونه داتحاد غوښتني ترعنوان لاندي جهادي تحريکونه تکوي ګمان کوي چې داتحاد راوستلو اساسي لاره داده چې دتحريکونو وړي تشي لويي معرفي شي او ګردي تا کردي دتحريك قيادت ته منسوب شي اوپخپله ځان بري وښيي .

زه دامنم چې داصيلو ډلو يووالي يومبرم ضرورت دي چې زموږ برېتنبايېرتي کوي اوخپل منځي ضدضدي موډبرلاسي استعجال ځنډني کوي خودايووالي په نيوکو اوپخپله په يودريم لوري غوره کولو اوديوي ډلي په جوړولو نه شي رامنځته کيداي ، وحدت هله راتلاي شي چې پرهغه څه چې دنيوکوباعث کيږي هرڅوك اساسي غورورکړي اودنيوکو په ځاي دهغودترميم لاري چاري وسنجول شي.

او وحدت هلته راتلاي شي چې دوحدت داعيان پخپلو ځانونوکي داختلاف موجبات ختم کړي دانقلاب اواسلامي تحريك مصالح ترخپلومصالحو راجع وګڼي اوځانونه دغسي جوړکړي چې ټول خلك ورباندي باوروکړي اوواقعاً ديومصلح اووحدت خواپه حيث ملت ته امتحان ورکړي . موږ دټيرو اتحادونو مدعيان وليدل چې په اتحادکښي يې اختلاف تزئيد کړ دوحدت له نامه يې په استفادي سره نوي دلي جوړي کړي دتنظيمونو منسوبين يې چې په کم معاش به يې په دېراخلاص سترستر کاروته کول تطميع کړل په ډيرو پيسو يې اوېدي کړل چې اوس نه هغه پخواني احساس لري اونه له کارسره په کم معاش تيره دلچسپي. زموږ دملت دمؤمنوبچيانو سره داسخته جفا ده چې په پيسو يې څوك اصلي لوري بدل کړي اوسبا ته دغسي کسان ځني جوړکړي چې دماديانو په فقدان په نيمه لاره کي له جهادي کاروان نه ګوښه شي اوبالاخره دعقيدي ليوان يې و داري .نن چې ځيني کسان سره له لس کاله جهادي سابقي داجانبو په غيږ کي پريوځي وجه يې لدينه پرته بل څه کيداي شي چې ځيني داعيونو په پيسو اوموترودعوت کړل نن چې يې زره اوذهن دپيسو دراتولولو حرص محصوركړي اوهماغه جنابان يې يې حسابه غوښتني نه شي پوره کولاي دادي داغيارويه غيږکي دخپلو خواهشاتو پوره کول لټوي اوزه ويريږم چې خداي (ج) مکره جهادي احساس به يې همدغسي په وروورو دپيسو دمينې په نتيجه کي دزړه له دالان نه راووځي له بلې خوادمادياتو په مينا دعوت چلول اوځينو کسانو ته دبې شميره پيسو ورتيل وهل خودغريبومجاهدينو چې داقتصادي ستونزو دروند پېټي يې ورځ په ورځ په اوږوسنګيني کوي خوپه اخلاص په جهاد منهمك شوي په روحيه هم منفي اغيز غورځوي اودغسي دځيني خلکو مادي رجحانات به يې کم له کمه دجهاد ځوښنده ځپي يوڅه خوکراري کړي چې مسوليت به يې بيا هم هغوداعيونو ته متوجه وي چې په ماديانو دډلوجوړول غواړي اوداتحاد له نامه يې سؤاستفاده کړي . چې ددغه ډول داعيونو په اقتضا داتحاد غوښتنه کوي داپيلد د بنه چې په مزيداختلاف منتج شي بله نتيجه نلري.

اوس به په هغوناغوروچي دبي ځايه نيو کواوهرځاي دانقلاب دواقعي منسوبينو دمذمت په نتيجه کي راپيدا کيږي څه په تفصيل سره وليکو.

الف : دانقلاب دمؤثروورونو اودتحريك دمنسوبينو خپل منځي هجو اوپه يوبل پسي سپکي سپوري ويل او باپه اخبارونوکي ليکل دجهادي ليکو دمنسوبينو ترمنځ دساره تبليغاتي ، جنګ لاملونه راپيدا کوي اوداجنګ که دشرعي مصالحو له حدودو راووزي په سؤظن اوبي اعتمادي منجرکيږي اوچي يوځل د تحريك دمنسوبينو ترمنځ عدم اعمادراپيداشو بيانو دچاپه وراندېز ونو چې دتحريك تشه پري تلافي کيږي هم څوك باور نه شي کولاي پدي صورت کي وراندېز کونکي مجبوريږي چې له تحريك نه داختلاف له روحيې سره اعراض وکړي اودا چې له تحريك نه په اعراض يې هغه پخواني نقش چې له تحريك سره په يوځاي والي کي يې دتحريك دمنسوبينو دقوت نه په استفادي سره په اغيزمن لورلوبولاي شواي راکم شي داخپله له ځان انقلاب اوتحريك سره ستره جفاده چې مسؤليت به يې هغه چا ته راجع وي چې دبي اعتمادي فضا رامنځته کوي.

ب : نيوکي اوانتقادونه هم ځاي لري داپه ځاي خبره ده چې له مسئولو لوريو سره مخامخ چې داوضاع دبهبودي اوتشوډکول په کي مضمروي په اسلامي آرونو ولاړ لفظي پرخاش وشي اوحتي دستري جفا سره چې مسئول لوري يې مرتکب وګرځي داسي هم ووېل شي لکه څنګه چې حضرت عمر(رض) ته يوصحابي وويل که کوزشوي ! په توره به دي سم کم خودا په هغه صورت کي کيداي شي چې ويونکي له هري خلابري وي اوله مقابل لوري ځه دپاکوالي رجحان ثابت وي او که داسي نه وي نو بيا دقرآن ددي مبارك ارشاد له مخي چې بل ته نيك ښياست ځانونه موهيرکړي اوياداچې ولي هغه وايئت چې عمل نه پري کوي بهتره ده چې انتقادکونکي يوځل پخپله په ځان کي دنيوکولاملونه غوځ کي بيايه بل اصلاح آميزه ګوت نيونه و کي او هغه ته د آيني په څېره خپله څېره وښيي .

ددغسي نيولو سه او غوره ځاي دډيصلاح مراجعو دشوري محل ده ددغسي بااهله ورونو په مخکي نيوکي انتقادونه او وړاندېزونه دانتقادي عواملو دانتفاباعث کيږي ، مشترکاً پري تصميم نيول کيږي . بهرته نه متعکس کيږي اوددغه مجلس خبري امانت ساتل کيږي اوپادي دغه ور وړاندېزونه اوشکايات دانتقاداوربدلو مرجع ته پټ حواله شي . خو ددغسي مراجعو نه رادبخوا هرځاي په تحريك اودتحريك په مشرتابه نيو کي دهغو ورونو چې علماً په جهاد اوتحريك ندي متمسك شوي له تحريك او جهادي اوائي نه په اعراض منتهي کيږي اونه يوازي انزوانه اړوزي لاچې په خپلو اظهاراتو اوحرکاتو دکړي جهاد پاداش په اويولاهوکوي اوپه ورووړو يې عقده او حسد دبي لاري سبب کيږي داسلام ايجابات دادي چې يوپه دهرچا تعقل وکتل شي اوچي څومره ظرفيت لري دهغه دظرفيت په انداز اظهارات وشي ،که دکم ظرفيت خاوندانو ته څوك دهغه دسويي ته اوچتي څرګندوني کوي نه يې په تحليل پوهيږي اونه يې په ځاي اومناسبه توجيه شايد له اصل مطلب ته څه اضافه ووايي اوپه اپلتو يې بدرګه کړي چې ددښمنانو داپتهاج سبب شي.

زه دا هم منم چې زموږ پدي ورونو کي چې نيوکي يې عادت شوي پېرورونه دانقلاب دسختوشيبو ملګري دي چې ممکن دجهاد يې شميره کړاوونو يې د صبرکاسي لب ريزه کړيوي خوزموږ همدا ورونه بايد وپوهيږي چې دجهاد لار اغزنه لاوده دلته داوريه سکروټو ختل اوپه اغزوپريوتل دي دي لاره کي هغه آرمان چې مااوتايي په دواړو تحقق ته ملاترلي دپرابلومونو پردو پوشلي چې په ثبات داستقامت ،صبر داپردي شکيداي شي په خفکان ، انزوا ،بيل صف نيولو اوپه خپلو ورونو پسي په سپکو سپوروويلو ممکن ندي.

پيغمبر(ص) فرمايي ! خلکوته بشارت ورکړي اومايوسه کوي يې مه .

فضيلت صبر

استاد شهراني

صبروشکيبايي ازخواص حسنه وصفات نيك وبرجسته مسلمانان است .که خداوند درقرآن کريم وحضرت محمدرسول (ص) دراحاديث آنرا نيکوګفته ومسلمانان رابداشتن اين خصلت حميده وبرګزيده امرکرده اند.

چنانچه خداوند مي فرمايد :

اي مسلمانان شمادرامورخويش (اخروي وطاعات وعبادات ومصائب) به صبر و پايداري و اداي نماز کمك و استعانت بجوئيد زيرا که (معاونت ، لطف واحسان)اوتعالي باکساني است که صبروشکيبايي دارند ، ودرآيت ديګري مي فرمايد اي مسلمانان (درطاعات ومصائب واز ارتکاب معصيت صبرنمائيد وباداشتن صبرزياد برکفارغلبه وپيروزي حاصل کنيد وبايد که صبرشما نسبت بصبرکفارزياد تر وبيشتر بوده باشد.

هم چنان حضرت رسول الله (ص) دراحاديث بسياري فضيلت ومفاد آنراتذکرداده است که طورنمونه احاديث ذيل راتذکرميدهيم : ابوسعيد خدري روايت ميکند که تعدادي ازانصار نزد حضرت رسول الله (ص) آمده و ازوي چيزي طلب کردند آنجناب خواسته شانرا براي شان اعطاکرد باز از وي سوال کردند باز هم آن جناب چيزي را که سوال کرده بودند براي شان تسليم نمود تا آنکه چيزيکه نزدش داشت ختم شد واز آن هيچ باقي نماند وبعدازانکه تمام داشته اش رابرآنها مصرف کرد ونزدش چيزي نماند، ګفت : اګردرنزد من چيزي مال ودارايي مي بود هيچګاه آنراازشما دريغ نمي کردم وآنرا براي تان ميدادم . مګر اين رابدانيد کسيکه ازسوال کردن خودرانګهدارد خداوند اوراچنان همت ميدهد.که آبرووعفت خود را نګهدارد وبذلت وخواري سوال کردن دچار نشود وکسيکه خودرامستغني سازد يعني سوال نکند وخويشتن رامستغني حساب کند خداوند اورا باپاداشتن همت و پابدادن مال ودارايي غني مي سازه واز ذلت وحقارت سوال آوراحفاظت ميکند .

اين حديث رابخاري ومسلم روايت کرده اندکه درصحت آن کدام شك وترديدي وجودندارد.

وهمچنان صحيح مسلم حديثي راروايت ميکندکه دران رسول الله (ص) فرموده اند : صبروشکيبايي درهمه امور نوروروشني است . که انسان درپرتوي روشنايي آن مي تواند بسااز امورراانجام داده وازآن فائده نيك وحاصل خوب بردارد.

صحيح بخاري ازابوهريره از رسول الله (ص) روايت ميکند که خداوند درحديث قدسي چنين فرموده : وقتيکه من روح دوستي ازدوستان بنده ام رادردنيا قبض کنم واودرمقابل آن صبرنمايد و.وجزع وفزع وبي صبري نکند من درين وقت غيرازجنت براي اوپاداش ديګري نميدهم.

وهمچنين خداوند درقرآن کريم خبرداده که ميسر شدن بهشت براي مسلمانان بخاطرصبر وبردباري آنها دربرابرمصائب ومشقات است طوريکه فرموده است. آن ګروه مسلمانان وبندګان خاص خدا بسببي که در دنيا صبرکردند وازحوصله کارګرفتند امروز غرفه هاي پاك وبي آلايش جنت براي شان بحيث پاداش داده مي شود وازانهار وميوجات وديګرنعمت هاي لذيذ وبي مانند جنت استفاده مي کنند.

مقصد از صبردرآيات قرآني واحاديث نبوي وديګر نصوص ديني صبردربرابرمشکلات وصبردربرابر اطاعت وشريعت وصبردر ترك ګناه ومعاصي است بنابران صبربرسه نوع است که هرنوع آنرا طور مختصر قرارذيل شرح ميدهيم:

١- صبردربرابر مشکلات ومصائب :

اين نوع صبر وقتي موجود مي شود که انواع مشکلات ومصائب برانسان مي آيد ووي قدرت نجات ورهايي را از آن ها هم ندارد ، دربن وقت انسان باايمان درمقابل آن ها صبرواستقامت نموده ومانند کوه پيدارميباشد وتاانداره که قدرت دارد مقاومت مي نمايد ونزول آن مشکلات را از قضاوقدر الهي دانسته وباايمان کامل وعقيده تام آنها را استقبال مي نمايد وآنرا امتحان وآزمايش خدا ميداند بنابران نه بي همت مي شود ونه از داد وفرياد وآه وافغان کارمي ګيرد ، بلکه بخاطر اينکه ازآن آزمون موفقانه بدرآيد ايمانش کاملتر وعقيده اش راسخ ترمي ګردد ونتيجه آنرابخدا مي ګذارد خداوند مي فرمايد: اي پيغمبر آن صابران ومردم بردبار را به جنت وسعادت آخرت شان مژده بده که چون برايشان مصيبت ومشکلي برسد مي ګويند که مابراي خداهستيم وهرچه از وي بمابرسد آنرا قبول داريم ومابطرف وي رجوع مي کنيم وبه نزد وي ميرويم .

لذا کسانيکه درمقابل مشکلات دنيا ومصائب آسماني وزميني ازخودصبروپايداري نشان ميدهند وآنرا با همه بردباري که از خواص مسلمانان مخلص است تحمل ميکنند ايشان درنزد خداوند داراي اجر وثواب هستند واجر وثوابشان اين است که خداوند آنها را به جنت داخل کرده و ازنعمت هاي خودمستفيدمي سازد.

٢- صبر درطاعت وفرمانبرداري ازاحکام شريعت : مقصد ازصبردرين موقف استقامت و حوصله داشتن در برابر ادا وانجام دادن احکام خدا وپيغمبر است ، زيرا احکام دين هر اندازه آسان وسهل باشد بازهم بدون صبرو بردباري ومقاومت اجراشده نمي تواند حتي نماز که نسبت به بسياري ازاحکام وفرائض ديني کم تکليف تراست بدون صبرهم ادا کرده نميشود بهمين سبب است که دراينجکه دراول اين مقاله نوشتيم صبر پيش ازنمازذکرشده تافهميده شودکه صبرمقدمه وسبب است براي ادا کردن نماز وديګر عبادات شرعي ازقبيل روزه داشتن مخصوصاً درايام ګرمي ودرممالك ګرم سير ، مراسم حج وجهاد که مجاهد تمام انواع تکاليف راقبول ميکند مانند : ګرمي ،سردي ، ګشنګي ، تشنګي ،پياده رفتن ،اسلحه برداشتن ،خوف وخطر راقبول کردن ، وتکليف جراحت ومرمي دشمن راپذيرفتن وغيره ... که قبول اين زحمات بدون صبروبردباري دورازامکان بنظرمي خوردومسلمان موفق وسعادتمند آن است که بخاطر اداي فرائض واركان دين تمام اين مشقات رابايپيشاني بازمي پذيرد .

ودروقت ايجاب وضرورت خودراقرباني وفداي احکام ديني مي سازد وبدين ترتيب آخرين فداکاري ووفاداريش رادربرابر فرمان الهي نشان ميدهد للذا هيچ کس بدون داشتن صبروبردباري به اطاعت خدا وبياده کردن احکام شريعت موفق نميشود.

٣- نوع سوم صبرعبارت است ازصبرازمعصيت : بايين معني که وقتي انسان دردنيا به ارتکاب معصيت قدرت مي يابد ودرارتکاب آن هم کدام موانع ظاهري راهم نبيند.

وقدرت ارتکاب آنرا هم دارد ، درين وقت با همه وقاروسنګيني که از صفات اصلي مسلمانان است ازارتکاب آن معصيت امتناع مي کند وصبررا ازدست نميدهد .

طورمثال شخصي رافکرکنيد که درحالت احتياجي وضرورت داشتن مال ، بدزدي وګرفتن اموال وثروت ديګري قدرت مي يابد ولي ازدزدي وتصاحب آن خودداري ميکند وصبرواستقامت را ازدست نميدهد . دريتجاست که شخص موصوف ازآزمون بزرګ الهي موفقانه بدرمي آيد وصبروبردباري اوباندازه ميرسدکه ازهمه خواهشهاي نفسي وضرورت ها ي ماديش صرف نظرميکند چون اوصبرکرده است بنابران قراروعده برحق الهي رحمت ، لطف واحسان خداوند باصابران است که توسط آن توانست ازبزرګترين مشکل وګناه که ارتکاب دزدي وديګراعمال غيرمشروع وناجائز خود داري کند ودامن پاك اسلاميش رابه حرام آلوده نسازد. ازبارګاه الهي استدعاداريم که ماراچنان توفيق بدهد که هرسه نوع صبر راباکمال اخلاص ، مردانګي وشهامت درعمل پياده کنيم ودرنتيجه آن رضاي خداوند رانصيب شويم که آخرين هدف وآرزوي يك مسلمان است . آمين يارب العالمين .

داسلام په مقدس دين کښي ديتيمانو پالني ته پاملرنه

مولوي عبدالناصر

١- ديتيم سره مرسته اواجرونه :

يتيم هغه چاته ويل کيږي چې پلارئي مړ شوي وي ، ضعيف ، وړوکي او دکار اوکسب توان ونلري .

په عامه توګه دټولو يتيمانو سره مرسته يوالهي امردي ، چې دټولني مالدارکسان به له هغوي سره لازمي مرستي وکړي چې ورځيني ارتياوي ئې پوره شي، په خاص دول له هغه يتيمانو سره مرسته چې پلرونه ئې دکفر اواسلام په جنګ کي شهيدان شوي وي ضروري امرشميرل کيږي، ځکه چې له دغويتيمانو سره مرسته په حقيقت کي دجهاد سره مرسته ده ، دغه يتيمانو ته مرستي ورکول اسلامي ټولني ته خوګښې رسوي، اول داچې دخداي (ج) امريه په ځاي شي، دوهم داچې يتيمان به په تولنه کي نوازش شي دمسلمانانو سره به ئي مينه پيداشي اوراتلونکي وخت کي به يوبياوري مجاهدترينه جوړشي دريم داچې مجاهدين به بنه په داده زړه جهادوکړي اومطمئن به شي چې زموږه ترشهادت وروسته زموږ يتيمان خواراو ورې نه پاتي کيږي بلکه دټولني خلك دهغوي ټول ضروريات پوره کوي، هغه خلك چې ديتيم بنه پالنه کوي الله پاك هغوته دهرقسم نعمتونو و عدې ورکړيدي اوکه بده رويه ورسره کوي هغوته ئي دعذاب يادونه کړيده ، له يتيم سره چې څوك ښيګڼه کوي هغه ته الله (ج) په خپل کتاب کي دنيك بنده لقب ورکړيدي اوفرمايلي ئي دي . نيکي داده چې تاسي خپل مخونه ختيځ اويالويديځ لوري ته واړوي ، بلکه نيکي داده چې انسان ، الله اودقيامت ورځ اوپرښتي اودالله نازل کړي شوي کتابونه اودهغه پيغمبران دزړه له کومي ومني او دالله (ج) په مينه کي خپل ګران مالونه په خپلوخپلوانو ، يتيمانو، مسکينانو، پرديسانو، درويزګرو اودمريانو په آزادي مصرف کړي . لمونځ قائم کړي، زکات ورکړي، اونيکان هغه کسان دي چې کله وعده وکړي ترسره ئي کړي اودتنګسي اوغمونو په وخت کي دحق او دباطل په جګړه کي صبروکړي ، همدارنښتيني پرهيزګارخلك دي . البقره - ١٧٧ تفهيم

دپورتني مطلب په تائيد الله (ج) په بل ځاي کي فرمائي " اوطعام ورکوي په مينه دخداي (ج) کي مسکين ، يتيم اواسيرته اوځان سره داسي وائي چې بيشکه طعام درکوم تاسي ته دپاك خداي (ج) درضا مندي لپاره له تاسي څخه دونياتي بدلي اوزمادشکرګذاري څه آرزونه کوم . الدهر - ٨ - ٩ تفهيم

هغه صدقه چې خاص دالله درضا لپاره وي، دهيڅ دنيوي بدلي طمع پکي نه وي، په هرځاي کي دصفت کولو اميدهم پکي نه وي دايه دخداي (ج) دنيکي په دفترکي ثبت اوالله (ج) به ئي ورته نيکه بدله ورکړي .

داسلامي ټولني دايبوزلي، سرلوڅي اوګريوان شکيدلي يتيم ، ديو مالداريه نفلي صدقو کي الله (ج) دهغه دمورااوپلارسره په بوقطارکي مستحق ورمعرفي کوي اوفرمائي : کوم مال چې تاسي لګوي په خپل مورااوپلار، خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو ، پرديسانو باندي ئي ولګوي ، اوتاسي چې هره ښيګڼه کوي الله (ج) پري خبريږي . البقره - ٢١٥

داچي يتيمان دخداي (ج) له دربارڅخه غيرله هيڅ هيله اواوميدنلري . دټولني هروګړي ته يي څوکه ښکاري،ځکه الله (ج) دهغه په باره کي بيابيا يادوني کړيدي چې دغه بي چاري، سپيره ، اوپيښي لوڅي يتيم ته څوك سپك ونه ګوري، اوهمداشان دټولني ووي مسکينان هم بايد ماره کړي، که داسي ونکري، نوالله (ج) به يتيم ته په سپك کتورکي سپك .اومسکين ته نفقه نه وورکونکي خوار کړي الله (ج) دغه مطلب داسي بيانوي: خو دانسان حال داوي چې دهغه رب کله هغه په ازميښت کي واچوي اوهغه ته عزت اونعمت ورکړي نوهغه وائي زمارب زه دعزت خاوندکړم . اوکله چې هغه په ازميښت کي واچوي اودهغه روزي پرهغه تنګه کړي هغه وائي زمارب زه ذليل کړم ،هيڅکله داسي نه ده بلکه تاسي له يتيم سره دعزت چارچلندنه کوي اومسکين ته دخوړو په ورکولو يوبل نه هڅوي اودميراث ټول مال په يوځاي راغونډ وي خوري بي آودمال په مينه کي په بده توګه اخته ياست . الفجر - ١٥ - ٢

همداراز رسول الله (ص) دغه مطلب داسي بيان کړي اوهغه کورته ئي چې په هغه کي له يتيم سره بنه چال چلند کيږي له ټولو کورونو څخه بنه کور ويلي دي اوهغه کورته ئي چې ديتيم سره بنه چال چلندنه کيږي ترټولوکورونو بد کوروبلي دي اوفرمايلي ئي دي : په مسلمانانو کي بهترکورهغه دي چې په هغه کي يتيم وي اوښه پالنه ئي وکړي اوپه مسلمانانو کي بدکورهغه دي چې په هغه کي يتيم وي اوبدخويي ورسره کيږي .

هغه څوك چې له يتيم ، مسکين اواسيرسره بي عوضه مرسته وکړي اودهيڅ قسم شکرګذاري طمعه ترينه ونکري نوالله (ج) په هغه دعذاب دسختي ورځي نه په امن کي وساتي اودجنت هردول نعمتونه به ورته ورکړي لکه چې الله (ج) فرمايي : بنه خلك (په جنت کي) دشرابوداسي جامونه ځښي چې په هغوکي به دکافور واوبه ګډي شوي وي ، دا به يوبهيدونکي چينه وي چې دهغي له اوبوسره به دالله بنده ګان شراب ځښي اوکوم لوري ته ئي چې زړه وي په اسانۍ سره به دهغي لښتي باسي دايه هغه کسان وي چې په دنيا کي په نذر وفاکوي اوله هغي ورځي نه ويريږي چې دهغي آفت به په هرلوري خورشوي وي، اودالله په مينه کي مسکين، يتيم اويندي ته خواره ورکوي (اوهغه ته وائي چې) موږه تاسي ته يوازې دالله په خاطر خواره درکوو، موږ له تاسي څخه نه څه بدله غواړو اونه شکريه ، له موږ سره خودخپل رب څخه دهغي ورځي دعذاب ويره ده چې دسخت کړاوډيره اوږده ورځ به وي . نوالله تعالي به دي دهغي ورځي له شرڅخه وژغوري اوددي ته به تراوتازه ګي اوخوشحالي ورکړي . الدهر - ٥ - ١١

نبي عليه الصلوة والسلام هغه چاته چې ديتيم دژوند دوسائلو کفالت وکړي دخپل ځان سره په جنت کي ديرځاي اوسيدو مقام ښودلي دي اوفرمايلي ئي دي : زه اوديتيم کفيل به په جنت کي داسي يو، لکه زمادغه دوه ګوتي (وسطي اوسبابه) .

په خاص ډول دنيك عملو خلکو ايتام سره له دي چې هغوي سره نيکي کوونکوته الله (ج) هرقسم نعمتونه ورکوي يوبل امتياز هم لري چې دهغوپه مالونو باندي دهغوي دبلوغ تروخته خاص پاملرنه کوي لکه چې الله (ج) دحضرت خضر اوموسي عليه السلام په قصه کي فرمائي : بيا هغوي وړاندي لاړل تردي پوري چې يوکلي ته ورسيدل اودهغه ځاي له خلکونه ئي خواره وغوښتل ، خوهغوي ددي دواړوله ميلمه کولوته انکاروکړ . هلته دي يوډيوال وليد چې نړدي و ولويږي . هغه سړي هغه ديوال محکم ودروه ، موسي عليه السلام ووېل. که تاغوښتلاي نوپه دي کارباندي دي مزدوري اخيستلاي شوه ، الکهف - ٧٧

حضرت خضر (ع) دموسي عليه السلام ددغي خبري تفصيل ورته داسي وړاندي الله فرماي : اوددغه ديوال معامله داده چې دا ددوويتيمانو هلکانو ملکيت دي چې په دغه ښار کي اوسيږي، ددغه ديوال لاندي ددغوماشومانو لپاره يوه خزانه ښخه ده اودهغو پلاريونه سړي و، له دي امله ستارب وغوښتل چې دغه ماشومان ځواني ته ورسيږي اوخپله خزانه راوباسي داستا درب درحمت په اساس . شوهدي، ماپه خپل سرڅه نه دي کړي . الکهف - ٨٢

ځ ٧

دظاهر شاه دبیرته راګرځیدو مسئله دیو شخص نه، بلکې دهغه دتیر وراسته نظام دبیااعادې هڅه ده

دحزب اسلامي افغانستان مجاهد امیر وروروحکمتیار دهغې وینا پوره متن چې دروان کال دسلواغې دمیاشتې په پنځمه نیټه یې په نصرت مینه کې دقوماندانانو په یوه ورځني سیمینارکې واوروله :

الحمدلله وحده ، انجزوعده ، نصرعبده واعز جنده، وهزم الاحزاب وحده والصلوة والسلام علي من لانبي بعد فاعوذ باالله من الشیطان الرجیم

الله ولي الذین آمنوا یخرجهم من الظلمات الي النوروالذین کفروا اولیاؤ هم الطاغوت یخر جونهم من النور الي الظلمات اولئك اصحاب النارهم فیها خالدون . صدق الله العظیم .

ورونو ! ماغوښتل چې دحزب اسلامي دهغوپایانو قوماندانانو سره تفصیلي لیدنه ولرم چې راغوښتل ثې په دغوشپو اوورځوکي ممکن دي ترڅو ددوي اوددوي له لارې دمجاهدینو اونوروقوماندانانو له تشویشونو اونظریاتو نه خبرشم اوپه جریاناتویاندي وورسره تفصیلي بحث وکړم . که پوښتني لري نودهغه ځوابونه وایم زه دلته لومړي څو مقدماتي خبري کوم بیابه انشاء الله ورونو ته موقع ورکوو چې خپل نظریات اوسوالونه مطرح کړي .

په دي کې شك نشته چې اوس په ملي اوبین المللي مستوي حالات بدل شوي ، موږ دنویو حالاتو سره مخامخ یو اوطبیعي ده چې نوي حالات نوي غوښتني لري چې باید دظروفو اوحالاتو سره سم تګ لاره عیارکړو، خپل قوتونه داسي تنظیم او جهادي پالیسي داسي عیارکړوچې دنویو ظروفو او حوادثو مقابله وکولي شي افراد موږهنا اوعملا دنویوکړاونو اوآزمویتو مقابلي ته تیاروي ، کومي خطرناکي بین المللي توطیې چې اوس دجهاد په ضدرواني دي چې حتي زموږ دبیرون وروځې په اصطلاح دوستان هم پکي ملوث شوي، دشندولو له پاره باید تیاري ونیسو، باید خپل جهادي قوتونه داسي تنظیم کړو چې په یوازي توګه وتوانیدلی شوداجهاد جاري وساتو، په بل داعتماد نه پرته دهدف په لوري په صبراواستقامت سره حرکت وکړو فشارونه مومنحرف نکړي شي، محاصري موسازش ته وادارنکړي ، تهدید او تطمیع موله خپل اصولي دریځ نه راګوز نکړي . اوزموږ فرد،فرد اودسنګرملګري الله (ج) ځان ته کافي وګڼي اوشعارئي همداوي چې باالله (ج) داسلام ترسیوري لاندي دعزت ژوند ، په دخپلي خوښي اسلامي حکومت رابه برخه کړي اویاد الله (ج) په لاره کي شهادت . موږ دااسلامي جهادپه همدغه روحیه پیل کړي اوزموږ دمجاهدینو همدغه روحیه ددي جهادد پیل استمراراوتردي مرحلي پوري دارسیدو او بنیاددي سترو ، سترو بریالیتوبونو اوفتحو باعث شویده .

ورونو ! ځیني خلك دمبارزي اوددي جهاد د اوږدیدو نه ستومانه بریښي اوبیره لري چې دافغانستان قضیه دي ډیر ژرحل شي که څه هم په هرقیمت سره وي اوپه همغه څه باید اکتفاء وکړي چې دوي ته میسردي . په دي هکله مختلفي طرحي وړاندي شوي دي .

ځیني له نجیب سره ائتلافي جبهه اوائتلافي حکومت غواړي ، په نیویارك کې دځینودلو په اصطلاح مشرانواوبیادکابل رژیم دنمایندګانوترمینځ توافق اوله هغه پس دبن کنفرانس اوبیادملل متحد ترنظارت اواشراف لاندي دراتلونکي کنفرانس له پاره هلي ځلي دهمدغه ذهنیت نه رااوچت شوي کوم چې له نجیب سره ائتلافي حکومت جوړولوته تیاردي اوګمان کوي چې دافغانستان مسئله له دي لاري حل کیداي شي .

ځیني نور دزوړشاهي رژیم اعاده غواړي، فکرکوي چې که دنجیب ځاي همغه زوړ منحط شاهي رژیم ونیسي کیداي شي دافغانستان مسئله هواره شي هغوي دهغه زاړه رژیم داعادي له پاره لمړي دبراتلافي جبهې دجوړولوکوشش کوي، ملي ګړاوغرب ګراعناصر باید دکمونستانو سره په یوصف کي ودریږي بیابه ګډه دهغه شاهي رژیم داعادي له پاره دغسي بوقوت برابرکړي چې وتوانیدلي شي هغه نظام په افغان ولس تحمیل کړي ، تاسوچي دمخلوع بدنام پادشاه دبیرته ګرځیدلوپه هکله څه اوري دا یوازي دیو شخص داعادي خبره نه ده ، نجیب په هغه باندي دبدلولو موضوع نه ده بلکي په حقیقت کي دهغه تیرزاړه او وراسته نظام دحاکمولو هڅه ده ، دهغوي

کوشش دادي چې هغه دتیر دورمسلطه طبقه بوځل بیاپه افغان ولس مسلطه کړي ،د کلي ، قوم اوبیا ټول هیواد په مستوي همغه ټول زورقیادت منسجم کړي بیا سیاسي اقتدارهغه ته حواله شي دهغه طبقي په راس کي ظاهرشاه دیوسمبول په حیث مطرح دي ځیني نورګمان کوي چې کیدي شي دتیرمنحل حکومت دبیا احیا له لاري مجاهدین متحدکړي اوبیا دافغانستان دمسئلي دحل له پاره دیوي طرحي په حیث وړاندي کړي . نورطرفونه په دي قانع شي چې دغه مؤقت حکومت دي خلك ومني ، ځیني ولګي همدغه دي چې په هرملاقات کي په هر مناسبت هغوي همدغه وایي چې دافغانستان دمسئلي حل صرف په دي کي دي چې هغه تیرزوړمنحل مؤقت حکومت دي بیاراژوندي شي، ځکه چې له دي حکومت نه بهردي هغوي دي دوباره په دي حکومت کي شامل شي اوله دي لاري کیدي شي دافغانستان مسئله حل شي .

ځیني نورګمان کوي چې کیدي شي دافغانستان مسئله له دي لاري حل اوفصل شي چې یوه لویه شوري دي جوړه شي چې په سلګونو، زرګونوغړي ولري ، په دي کي دي ټول تنظیمونه هم دتساوي په بنیاد برخه واخلي اویه دي ترتیب کیدي شي داتنظیمونه متحدشي اودهمدغي شوري له لاري یومؤقت حکومت جوړشي بیا مجاهدین دهمدي طرحي نه دفاع وکړي ، چې قدرت دي له نجیب نه دغه مؤقت حکومت ته انتقال شي .

زموږ له نظره نه ائتلافي جبهه ممکن ده اونه عملي‌ده په دي هکله هرکوشش

> مخلوع پاچا اصلاً دېته تیار نه دي چې بیرته افغانستان ته راشي خو هغه حلقي چې په افغانستان کي داسلامي حکومت دجوړېدو نه ویره لري ، هغه مجبور وي

بوناکام کوشش دي هیڅ څوك نشي کولي چې نجیب دي له دغوملي ګراپانو اوغرب ګراپانو سره په یوصف کي په یوائتلافي جبهه کي راغونډ کړي اوبیا دي له دي لاري یومؤقت حکومت جوړکړي موږ له دي ناحیې نه هیڅ تشویش نه لرو موږ ته دائتلافي جبهې جوړول مستحیل بریښي اوزموږ برداشت داوضاع نه دادي چې داائتلافي جبهه نشي جوړیدلي که ځیني کسان دنجیب دملي مصالحي دپروسي سره دتوافق له لاري غواړي دهغه په جنګ کي ودریږي داپیله خبره ده اماداچي واقعا ځیني جهادي ولي چې په جهادکي مطرح دي هغه دي وتوانیدلي شي دنجیب په جنګ کي ودریږي اویوائتلافي جبهه دي جوړه کړي موږ ته دامستحیل بریښي افراد کیداي شي لاړشي دنجیب ملي مصالحه ومني او دهغه په جنګ کي ودریږي جتي کیدي شي ځیني په اصطلاح رهبران هم لاړشي ددي ملي مصالحي له پروسي سره توافق وکړي اماداچي هغوي دي وتوانیدلي شي ځیني جهادي قوتونه دي دځان سره بوځي اوهغه دي دنجیب په جنګ کي ودروي دامحال دي . په دي خاطرموږ داائتلافي جبهي دجوړیدو نه نه تشویش لرو اونه ګمان کوو چې له دي لاري دي دافغانستان مسئله حل شي یادي څوك په‌دي وتوانیدي شي چې له نجیب نه نسبتا یوقوي حکومت جوړکړي بیادي ملك اداره کړي شي همدارازدتیرزړه نظام اعاده زموږله نظره محال بریښي هیڅ څوك نشي کولي هغه تورنظام بوځل بیا پرافغان ولس تحمیل کړي دهغه دورختم شوي اوسني افغانستان هغه دپرون وروځي افغانستان نه دي چې هغسي منحط رژیم وکولي شي پري حکومت وکړي او اداره یې کړاي شي دظاهرشاه د عنوان کولوله لاري صرف کیداي شي په ځینو مجاهدینو کي ویره خوف، تشویش اواضطراب پیداشي، هغه چې دخپلي اجتماع له حالاتواوغوښتنونه ناواقف دي اما داچي هغه دي عملي بڼه غوره کړي بیادي هغه په افغان ولس تحمیل کړي شي موږ ددي امکانات ډیر بعید اواحتمال ئي ډیر ضعیف ګڼو. زما برداشت له اوضاع نه دادي چې ظاهرشاه صرف په هغه صورت کي کیدي شي راشي چې له بهرنه کافي شمیرپوځونه دهغه دتحمیلولو له پاره افغانستان ته ولیږلي شي اودابوځ به هم دجنګ له پاره ځي لکه چې هغوي ببرك راوستلو څوقرقي په آخرین مادل وسلو سمبال روسي پوځونه افغانستان ته راکوزشول اوببرك یې په افغانستان تحمیل کړ خوزه ګمان نه کوم چې ددنیا بوملك دي هم دي ته تیارشي چې

دروساتوترڅه تجربه دي دلته تکرارکړي په داسي حال کي چې دروس انجام ئي هم په افغانستان کي لیدلي دي هیڅوك هم دیته زړه نه ښه کوي چې دظاهرشاه دتحمیلولو اوتپلوله پاره پوځ راولیږي .

همدارازددي منطقي او زموږ ګاونډي ملکونه داخبره نه مني چې ددوي له لاري دي افغانستان ته پوځونه لاړشي زمامعلومات دادي چې په ظاهرشاه باندي دیرفشاردي ځیني حلقي هغه مجبوروي چې افغانستان ته راشي هغه ملکونه چې

> انتصابي شوري چې دګوتو په شمیر مشرانو له خوا جوړیږي دملت نمایندګي نشي کولاي

په افغانستان کي دمجاهدینو په لاس دیواسلامي حکومت دجوړیدونه ویره لري هغه په دي خاطر ظاهرشاه عنوانوي چې بل بدیل نه لري بل دغسي شخصیت نه لري ځیني بدیل هغوي ته همدغه مخلوع اوبدنام پاچا دي . خوهغه تراوسه پوري ددي خبرومنلو ته نه دي تیار شوي هغه وائي چې افغانستان ته زمادبیرته تګ له پاره شرایط آماده نه دي اوترڅوچي ټول جهادي څواکونه زمادمنلو سره توافق ونکړي زه ناکام یم اودبیرته ګرځیدلو چانس نه لرم، حتي هغه بله ورځ دامریکا سفیرپه اصطلاح بومشرته په خپله خصوصي اجلاس کي وائي چې موږ په مخلوع پادشاه زیات فشارواچولو اوددي کوشش مووکړ چې هغه دي ته تیارکړوچې افغانستان ته راشي ولي هغه دي ته تیارنه دي، آیاکیدي شي چې موږله دغو بنیادګرایانونه یوڅوك ختم کړو اویه دي ترتیب به هغه دراتلوجرئت وکړي بیادغه مشرداموضوع دخپلو ځینو حواریونوسره یاده کړي اوویلي یې دي چې دامریکاسفیرماته داوویل موږ زیات کوشش وکړ هغه قانع کړو خوهغه دي ته تیارنشو .حقیقت دادي چې اوس په داسلام دښمنان همدغه لاري لټوي چې څنګه په مخه کي پراته خنډونه ختم کړي، په هرصورت که هغوي داکارهم وکړي چې په اصطلاح دبنیادګرایانو ځیني خطرناك مشران تصفیه کړي ددي له پاره چې ظاهرشاه جرئت وکړي چې افغانستان ته راشي ماته بیاهم دهغه راتګ مستحیل بریښي داپه لکونو مسلح مجاهدین چې دکلونو، کلونو جنګ تجربه لري اوهغه کم له کمه دیارلس کاله په

> زموږ له نظره نه یوازې ائتلافي حکومت جوړول نا ممکن بلکي عملي هم نه دي

سنګرونوکي تیرکړي دهغه په خلاف ددنیاترټولو مدرن وسایل اومجهزپوځ جنګیدلي او نه دي توانیدلي چې دهغوي عزم اواراده ماته کړي اوهغه له سنګرونو نه اوچت کړي زه نه پوهیږم څوك به ددوي له خوښي اوموافقي نه پرته په افغانستان کي په حالاتو مسلط شي او وضع به کنترول کړاي شي .

همداراز دتیرمنحل مؤقت حکومت بیا احیا اوراژوندي کول اومطرح کول داپو بیهوده کوشش دي ، هغه هومره بدنام شوي چې نورافغان ولس اومجاهدینوته دمنلو ورنه دي اوپه هغه دافغانستان هیڅ مسئله نه شي حل کیدي، دشپږو میاشتو له پاره جوړشو دادي دري کاله بي دوام وکړ ماته وښیي چې دي مؤقت حکومت څه کړي که په دي دافغانستان مسئله حل کیدلي خوپوجزددي مسائلو به دهغه په نتیجه کي حل شوي وي همداراز موږ په لویې شوري ګن شمیر ملاحظات لرو واپو ددغسي لویې شوري دجوړولو له پاره وخت نه لرو اوهغه ته څه ضرورت نشته داسي لویه شوري مونږبوځل جوړه کړي ، دادتیري ترخي تجربي بوځل بیا تکراردي که موږ په تیري مشورتي شوري دافغانستان مسئله حل نکړي شواي نوکه بوځل بیا همدغسي شوري جوړوو داپه دهمغه تیري ترخي ناکامي تجربي تکراروي انتصابي شورئي چې دګوتوپه شمیرمشران ئي جوړوي اوهغه ته دخپلي خوښي نمایندګان معرفي کوي هغه دملت نمایندګي نشي کولي په دي ولس نه شي قانع کیدي ، ستاسو به په یادوي چې کله دپنډي مشورتي شوري دایره شوه نودهغه په خلاف دتبلیغاتو یو طوفان

پیل شو اوهمدغه بي بي سي اوصداي امریکا وو چې دهرکس خولي ته ئي مکرافون نیولی اوغوښتل ئي چې دهغه له خولي نه همداخبري وباسي چې داشوري دافغان ولس نمایندګي نشي کولاي دادځوتنظیمونو دخوښي شوري ده ، ملت په دي اعتماد نه لري دا دملت دټولو اقوامو، قبایلو نمایندګي نشي کولي ستاسو به په یادوي چې ځینو قوماندانانو هم دبي بي سي اوصداي امریکا سره مرکي کولي اوهمدائي ویل چې داشوري

دجهادنمایندګي نه کوي ددي شوري سره ټول قوماندانان موافق نه دي دغسي یوه انتصابي شوري دملت نمایندګي نه شي کولي موږدهغه تبلیغاتومخنیوي نشوکولي له کوم نه چې ویریږو موږ په دي، دنیا اوافغان ولس نه شو قانع کولي له دي سره شاید ځیني کسان وغواړي چې خپل ځان دوکه کړي یادخپل قوم سره خدعه وکړي خونه افغان ولس دومره ساده دي نه دنیا چې په دغسي خبرودوکه شي اودځوتنظیمونو دخوښي انتصابي شوري دملت منتخبه شوري وګڼي اوګمان وکړي چې دي شوري کوم حکومت جوړکړنوهغه دټول افغان ولس نمایندګي کوي باید دهغه ملاتروکړي اودهغه حکومت په رسمیت وپیژني .

موږ وایو که څوك دا انتصابي شوري په دي خاطر جوړوي چې دهغه له لاري مؤقت حکومت جوړ شي نوولي داتنظیمونه په خپله مخامخ دامؤقت حکومت جوړنکړي ددي له پاره چې یوه اوږده اوطولاني اوپیچیده لارتعقیب کړي اول یوه لویه انتصابي شوري جوړه کړي دافرادو په مواصفاتو باندي جنجالونه وشي، پس له اوږدي مودي په دي توافق وشي چې داسي شوري ته به څوك ، څوك دګومو مواصفاتو سره بلل کیږي بیا به په دغه شوري کي دهرتنظیم تناسب څنګه وي دلري اوواره تنظیم سهم اوبرخه به په دي کي څومره وي ؟ بیا چې کوم کسان دي شوري ته معرفي کیږي دهغو دترکیبي په هکله هم کافي وخت ولګیږي . ددي په ځاي چې موږدغسي یوه طولاني اواوږده لار تعقیبوو اوهغه هم ددي له پاره چې دتنظیمونو دخوښي یوحکومت دي جوړشي زه داسوال کوم چې داکارولي راسا اودتنظیمونو ترمینځ دمستقیمي مفاهمي له لاري ونشي ؟ که دیولسویا دوولسو تنظیمونو مشرانو ترمینځ دقضایایو په هکله کوم تناسب دي، دري په اوه ، څلوریه اوه کم اوزیات

عین تناسب به په یوه لویه شوري کي وي هلته به هم فیصله فقط څومشران کوي بیابه هرمشر خپلو غروته وائي چې ددي مسئلي په باب داسي رایه ورکړه کړي ځکه هرتنظیم به همغه کس معرفي کوي چې دهغه دخوښي افرادي اووړاندي اعتماد لري اوچې کومه رایه ورکوي دهغه ملاتړاوتأیید به کوي .

زموږ له نظره دتساوي په بنیادشوري جوړول غیرعادلانه دي داچي یو وورتنظیم دي له یوسترتنظیم سره په یوه شوري کي برابره برخه ولري داغیرعادلانه دي په دي خاطر تنظیمونو ته دادمنلو ورنه دي .

ددغسي شوري طرفداري صرف هغه کسان کوي چې په ضعیفو تنظیمونو پوري تړلي دي، غواړي دلته یو دغسي ثابت اودائمي حکومت جوړشي چې په هغه کي وزارتونه په مساویانه طوریه تنظیمونوووېشلي شي .

ددوي کوشش دادي چې په دغې لویه شوري سره هغوي په افغانستان کي انتخابات منتفي کړلي شي ځکه ددغې لوي شوري ټول غړي به په آینده کي په دي اصرارکوي چې شوري شته داهل حل اوعقد شوري جوړه شوي ټول ملت ورباندي اعتماد لري هغه حکومت جوړکړي انتخاباتوته ضرورت نشته هیڅوك به دي ته تیارنه وي چې دا شوري دي منحل شي اوهغه دي په دي شوري کي خپل عضویت له لاسه ورکړي، انتخابات دي وشي اوددوه ځاي دي بل منتخب غړي ونیسي په دي ترتیب چې کله دالویه شوري ثن جوړه شوه همدغه شوري به ددي باعث کیږي چې تل به

افغانستان کي انتخابات منتفي شي بیا هیڅ څوك دانتخاباتو خبره ونشي کولي، دشوري ټول غړي به راپوره کیږي اوچې څوك هم دانتخاباتو خبره کوي دهغه مخالفت به کوي ځکه هغه به ګوري چې که داشوري منحل شوه اوانتخابات ومنلي شو دملت رایي ته مراجعه وشوه بیا هغه چانس نه لري دهغه عضویت په شوري کي ختمیږي نوي شوري به راځي ددغوکسانوچي دلویي شوري طرفداري کوي وجه همدغه ده .

دشپږومیاشتو له پاره داحکومت جوړشوي وو خو هغوي ئي یونیم کال کړو، دوه کاله شو دوه کاله بعدهغوي ویل چې داچي شپږ، شپږ میاشتي اضافه کړو په دي نه کیږي ځیني کسان ئي راغونډ کړل اودهغوي له لاري نه یې دافتوي صادره کړه چې په اسلام کي مؤقت حکومتونه نشته دا مؤبد،دائمي حکومت دي ترڅوچي بیا همغه شوري دایره نشي اوله هغه نه سلب اعتماد ونکړي دا حکومت به دتل له پاره وي بیا تاسو ولید ل چې ځینوتنظیمونوبیایه دي اصرارکولو چې مشورتي شوري دي دایره شي دااوس زه دغسي تنظیمونه ګورم چې په هرمحفل کي همدغه وائي چې دافغانستان دحل لارداده چې هغه سابقه مشورتي شوري دي بیارابلل شي اودغه مؤقت حکومت دي په رسمیت وپیژندلي شي په دي ترتیب دافغانستان مسئله حل کیدلي شي .

حقیقت دادي چې ددغو وروتنظیمونو

> دامریکا سفیر په یوه خصوصي مجلس کي داخبره کړي چې ظاهرشاه اوسنیو شرایطوکي افغانستان ته دتلو جوګه نه دی .

اصراریه لویه شوري دهمدي له پاره دي چې هغوي غواړي په دي ترتیب بوثابت اودائمي حکومت دلته له ملك نه بهر جوړشي اوبیا دغه شوري په دائمي شوري بدله شي اوددي ته مساویانه برخه تثبیت شي اوبیا په افغانستان کي انتخابات دتل له پاره منتفي شي .

ځیني نورکسان هم داسي دي چې هغه دتنظیمونو ترمینځ توافق دځان په ضررګڼي چې باهغه واړه تنظیمونه دي چې افراددي خودځیني ملکونو سیاسي مصالحو هغوي دتنظیمونو په حیث راوړاندي کړي . هغوي غواړي چې افغانستان دي دتعدد احزاب له معضلي سره مخامخ وي، قیادتونه دي زیات وي اودنیاته وښیي چې دادي دافغانستان کي دقیادت خلاده ، د تعدد قیادت مشکل دي . هغوي دامعضله راوړاندي کړي ده اوموږ ئي له دي مشکل سره مخامخ کړي بواودافترونه زیات شوي هدف په دي کي همدغه دي داواړه تنظیمونه چې ګمان کوي که داساسي اوسترو تنظیمونو ترمینځ مسئله یوطرفه شي دوي به مطرح نه وي اوددوي ته څه خاصه دځواو په زړه پوري برخه په لاس نه ورځي .

اوهغه کسان چې له تنظیمونونه بهرمطرح دي اوغواړي چې په تصمیم ګیري کي مطرح ، نودادواړه په همدي خاطر دلویې شوري په جوړیدو اصرارکوي

ماته ځوروځي دمخه له همدغوکسانو نه بوچاوویل چې که دتنظیمونو ترمینځ قیادي شوري جوړه شي نودتنظیمونونه بهرخلك به څه کوي ماورته وویل چې دتنظیمونو نه بهرخلك دي تنظیمونوسره یوځاي شي ، چې کوم تنظیم ترټولو ورته بهتره اوغوره ښکاري له هغه سره دي یوځاي شي .

له تنظیمونونه دبهرپاته کیدلو مقصد څه دي . اماداچي تاسوغواړي ددغوافرادو داقناع ، او راوړاندي کولو له پاره لویه شوري جوړه شي معني بي داده چې تاسومسئله نوره هم پیچیده کوي دحل لاره ئي نه لټوي .

ماغلته دځینوافرادوبیادتنظیمونو نوم واخیست ورته ومي ویل چې ماته ووایه چې دابه دتنظیمونو نه بهرڅه وکړي او دغه وړتنظیم آبادخپل کلي مسئله په دي باندي حل کولي شي؟ دټول افغانستان دمسئلي حل څوبرېږده .

زماعرض وروڼوته همداوو چې راځي که غواړي چې دافغانستان مسئله حل شي نودتصمیم ګیري متعدد مراجع جوړنکړو، دامسئله نوره هم پیچیده کوي داددښمن کوشش دي چې دلته دتصمیم ګیري مختلف مراجع راپیداکړي ، دقوماندانانو شوري، دعلماو شوري، دقومي مشرانوشوري ، دکوچیانوشوري، داحمد ز یو شوري ، دننګرهار شوري، دکنړشوري، بیادقوماندانانوګڼ

شمیرمختلفي شوري ګاني ، سرتاسري شوري ، دکابل دقوماندانانو شوري، له دغوشوري ګانوته ددښمن مقصد دادي چې دتصمیم ګیري متعدد مراجع راپیداکړي اوپه دي ترتیب دافغانستان مسئله پیچیده کړي .

که څوك دي جهاد اواسلام ته مخلص وي هغه په دمتعددو مراجعو دراپیداکولو کوشش نه کوي .

حقیقت دادي چې دلویې شوري دنظرته همدغه افراد دفاع کوي چې ګمان کوي دتنظیمونوله لاري که مسئله حل اوفصل کیږي نودوي به نه وي مطرح، ددي دپاره چې دوي مطرح شي باید یوه وسیعه شوري جوړه شي چې په هغې کي دشمولیت اوغړي توب له پاره دوي هم چانس ترلاسه کړي، ماهغه ته داهم وویل چې څوك لویه شوري غواړي زه موافق یم راځي لویه شوري جوړه کړو خوپه هغه کي به دهرتنظیم برخه دهغه دثقل او وزن په اندازه وي .

ماورته وویل چې صحیح ده دقلاتي تنظیم چې په لویه شوري باندي اصرارکوي نوهغه به دامني چې دحزب په پنځوس کسان وي اودهغه به زیات نه زیات یوکس وي . سمه ده په دي تناسب دي لویه شوري جوړه شي زه ئي منم اماکه هغه لویه شوري غواړي په دي ترتیب چې په هغه کي به دده برابره برخه وي نونه پوهیږم داکوم عقل اوکوم عدالت مني .

موږلویې شوري ته تیاریو خوراځي په دي کي به دهرتنظیم برخه دهغه دوزن اودثقل په اندازه وي وورتنظیم به په خپله وړه برخه قناعت کوي اوددي څخه به نه کوي چې هغه به ترټولو نه سترو اودنورو تنظیمونو سره برابره برخه ترلاسه کړي .

دهغوي ګمان دادي چې دمؤثرو تنظیمونو ترمینځ خپل منځي رقابت دي اوطبعي ده چې دامؤثر تنظیمونه په یوبل نشي قانع کیدي نوپه دي ترتیب ددوي له پاره منا سب مجال په لاس ورځي بیا به همداضعیف تنظیمونه وي چې راوړاندي کیږي او قوي اومؤثر تنظیمونه به دیوبل سره دررقابت په وجه پاتي کیږي بیابه همداواړه تنظیمونه راوړاندي کیږي اوددوي به ددغومؤثرو تنظیمونو درقابت نه ګټه ترلاسه کوي .

زموږ پیشنهاد وروڼوته همداوو چې موږاوس څوخبروته ضرورت لرولري داچې موږ جهادي څواکونه دي یوبل ته لاس ورکړي دکابل دږیم دپرځولو له پاره دي ګډپلان اومشترکه طرح ولري اوخپل قوتونه دي ددغسي یوګډپلان په ترڅ کي درژیم په خلاف سوق کړي . دوهم داچي دتوطئویه خلاف دي موږ مشترك دریځ ولرو اودهغه دشندولو له پاره دي یوبل ته لاس ورکړو ، دریمه خبره داچي درژیم دپرځولو نه بعد دي یو مؤقت حکومت دهغه ځاي ونیسي .

اوڅلورمه مهمه خبره داده چې بیابه همدغه مؤقته مرحله کي دي دیوثابت اودائمي نظام دجوړیدو کار پیل شي اوپه همدغه مرحله کي قدرت ثابت اودائمي حکومت ته انتقال شي .

دلمړي خبري له پاره دتنظیمونو ترمینځ یومحدوده شوري کافي ده چې هغه هم درژیم په خلاف مشترك دریځ غوره کړي اوهم دجهاد په خلاف دتوطئو دشندولو له پاره مشترك موقف ونیسي هغه تنظیمونه دي داکاروکړي چې په سازشونوکي ملوث نه وي په جهادباورلري په افغانستان کي اسلامي حکومت غواړي له نجیب سره ائتلافي حکومت جوړول نه غواړي اوهدف ئي دادي چې په افغانستان کي دي اسلامي نظام قائم شي دهمدغو تنظیمونوله دي یوه محدوده شوري جوړه کړي .

ددغي محدودي شوري معني دانه ده چې دابه دولت تشبلوي اودرئیس دولت اختیارات به په همدي شوري باندي تقسیمیږي ، نه موږپه اجتماعي قیادت باورنه لرو دا صرف دتنظیمونو ترمینځ دهماهنګي اودتفاهم شوري ده ددي له پاره چې تنظیمونه بیل بیل دریځ غوره نکړي یوبل ته لاس ورکړي دادوحدت شوري ده اوتفاهم شوري ده په عملیاتوکي دتنسیق شوري ده .

ځینوپه دي اعتراض درلود چې قیادي شوري خوپه اسلام کي نشته ، ماهمدغوکسانوته ویلي ووچې تاسي همدااوس لګیاياست ددغه مشرکورته ځي

اودروازه ئي ټکوي اوبالواسطه غواړي د تنظیمونو مشرانوترمینځ تفاهم راولي اوبیا دهغوي دتوافق له لاري یوه شوري جوړه کړي زه وایم همدغه کا رچي بالواسطه کوي یوهیئت ځي ددغه مشر دروازه ټکوي اودهغه مشردروازه ټکوي ، ولي دامشران په خپلو مینځونوکي مخامخ نه کینیني ، که فیصله ده خوهمدغه مشران بې کوي اوتاسوغواړي دهغوي توافق حاصل کړي نوموږ وایو چې دغه مشران دي په خپلو منځونوکي په یوه حلقه کي راغونډشي دي ته چې هرنوم ورکوي قیادي شوري ، دمشرانوشوري ، دتفاهم شوري، مشورتي شوري چې هرنوم ورکوي موږ ورسره موافق یو .

خوواقعیت دغه دي چې ددغه تنظیمونو دمشرانوتوافق دهري خبري په نسبت شرط دي په دي خاطرموږ وایو دغه نه باید عملي بڼه ورکړي شي دتنظیمونومشران دي په یوه شوري کي راغونډ شي چې په هرنامه ئي یادوي بیادي همدغه مشران درژیم دپرزیدو نه بعدپه یو مؤقت حکومت توافق وکړي .

داحکومت به په کابل کي وي په پیښورکي نه ، ددي مؤقت حکومت په هکله موږ صرف دومره وایوچې داباید تولوته دمنلو وړوي په دي کي داسي کسان نه وي چې مجاهدینو ته دمنلو ورنه وي ، زموږ له نظره تیرحکمرانان چې له دي نن ورځي نه مخکي دمنلو ورندي موقت حکومت دځومیاشتوحکومت دي ، ددي له پاره دي چې درژیم دنسکوریدونه بعد امنیت په ملك کي تأمین کړي اوپه همدغه موده کي دي انتخابات ترسره شي اوقدرت منتخب حکومت ته انتقال شي په دي حکومت کي نه تیرحکمرانان دمنلو وردي اوپه هغوي توافق راتلي شي اونه هم دتنظیمونو مشران اورهبران . دتنظیمونو مشران هغه چې دقدرت له پاره کاندیدي هغه دي هم په دي موقت حکومت کي برخه نه لري هغوي دي دانتخاباتو له لاري دوړاندي کیدو اوقدرت ته درسیدو خپل شوق پوره کړي ددي کوشش دي نه کوي چې خامخادي په دي مؤقت حکومت کي غړي توب ولري، زه هغوتنظیمونوته چې دیووالي اودوحدت خبره کوي همداوایم چې موږ دي ته تیاریو چې له مشرانو نه پرته نورکسان دي راوړاندي شي لست به موږورکړو تاسوئي غوره کړي دستاسي د تنظیمونو دافرادو نومونه به درکړو چې موږته دمنلو وروي تاسو له دوي نه خوښ کړي شل، دیرش کسان له دي نه دي حکومت جوړشي موږ ئي منو .

زموږ هدف دادي چې په دي عبوري مرحله کي یوي مؤقتي اداري ته ضرورت لرو چې دنجیب حکومت له هري لاري نه رانسکوروشي باید یوه مؤقته اداره جوړه شي دي ته قدرت انتقال شي بیا په همدغه موده کي انتخابات وشي ، په دي ترتیب دافغانستان مسئله حل کیدلي شي زه خو دهمدي له پاره وایم چې دلویې شوري نه وخت شته اونه ضرورت .

موږ دانتخاباتو په هکله داشرایط منو چې فاسق اوفاجر دي نه دراي ورکولو حق لري اونه درایي اخستلو نه باید هغه کاندیدشي اونه څوك دوي ته درایو ورکولو حق ولري ، فاسق اوفاجر دواړه مستثني کړي . ځیني کسان همداتبلیغات کوي چې څنګه فاسق اوفاجرته درای ورکولو یاد کاندیدکیدو حق ورکړو په دي خاطر انتخابات جائز نه دي، موږ هغوي ته همداوایوچې که تاسو دومره خبره وکړي چې فاسق اوفاجردرایې ورکولو اودکاندیدکیدوحق نه لري موږ له تاسوسره اتفاق کوو موږهیڅ اعتراض نه لرو اماداچي په دي خبره داستناد له لاري غواړي ټول ملت درایي ورکولو نه محروم کړي موږ ورسره توافق نه کوو .

زموږ له نظره دملت صالح وګړي دزعامت اودامارت په انتخاب کي درایو دورکولو حق لري لکه څنګه چې دحضرت عثمان (رض) په انتخاب کي همداکار شوي هلته هم دمدیني دخلکورایې ته رجوع شوي . هلته هم شپږکسان کاندید وو، ددووکسانوترمینځ مسئله پاته شوي بیاددوو ترمینځ دفیصلي همدالارغوره شوي زه وایم که موږ دانتخاباتو له لاري نه پرته بله لارغوره کړونوځولاري به وي، دزور لار، دوسلي داستعمال لار، دکودتالار ، دبهرني سازشونو اوبیادڅو مشرانوترمینځ دقدرت دویش لاربیادغه څولاري پاتي دي . متاسفانه هغه تنظیمونه چې زووهم نه

(۷) مخ

> امریکا اوس هڅه کوي دځینو ددوي په اصطلاح خطرناکو مشرانو دترور له لارې دظاهر شاه دراتلو لپاره لاره اواره کړي

مخمس برعزل حافظ (رح)

محمد نواب " خموش "

اي وطن دامن تونقش دگرمي بينم
اشك طفلان توازداغ پدرمي بينم
همه را درگروي قدرت وزرمي بينم
اين چه شوريست كه دردورقمرمي بينم
همه آفاق پرازفتنه وشرمي بينم

مدتي شدكه درين حلقه فتاديم بدام
ازقضا وقدروگردش ليل ايام
رنج بسياركشيديم ونشد حاصل كام
هركس روز بهي ميطليد ازايام
مشكل آنست كه هرروز بدترمي بينم

اين جهان يكسره دركام حريصان تنگ است
باخبرباش درين ره نروي اين ننگ است
همه گي درطلب گردش دنيا جنگ است
ابلها ترا همه شربت زگلاب وقند است
قوت دانا همه ازخون جگر مي بينم

عيش دنيا ندهد دست بصاحب نظران
عشق دهريست جهانراكه ندارد پايان
ناكسان بين كه درين خانه چنين كردچنان
اسپ تازي شده مجروح بزير پالان
طوق زرين همه درگردن خر مي بينم

درجهان هيچ كس نيست كه دل بردارد
دست بردوش يتيمان وطن بگذارد
جانب بستربيمارقدم بردارد
هيچ رحمي نه برادربه برادردارد
هيچ شفقت نه پدرابه پسرمي بينم

آفت نفس فرومايه ماكرداثر
شعله آتش اين لانه برافروخت شرر
ازدل باختران تابكران خاور
دختران راهمه جنگ است جدل بامادر
پسران راهمه بدخواه پدرمي بينم

هرچه خواهي به جهان نزدخدا زاري كن
امرقرآن بشنو دعوت آزادي كن
باخبر باش " خموش " ترك دل آزاري كن
پندحافظ بشنو خواجه برو نيكي كن
كه من اين پند به ازدروگهرمي بينم

مي شناسمت

عبدالحميد قاضي زاده

اي روس فتنه گربه خدامي شناسمت
هرچند مكروحيله كني كي رهانمت
مي بينم اندرون هرروزفتنه ئي
آخربين به خاك وبخون مي نشاسمت
خوردوخميرگشته ئي درزيرپنجه ام
بنگركه ازكجا به كجامي دوانمت
بهرحصول عهد وبراي غرام جنگ
آخربدادگاه ملل مي كشانمت
هشتادسال فتنه ونيرنگ داشتي
ظاهرزصلح وباطنت ازجنگ داشتي
اندرسرت پياله ي ازبنگ داشتي
درملك ماصدهاغول‌وبنگ داشتي
مزدورخلق وپرچمي درجنگ داشتي
برهرغلام خويش دگررنگ داشتي
بهرگرفت ميهنم آهنگ داشتي
خورد وخميرمي كنمت كي گذارمت
درجنگ وقتل نفع نه ازمانه ازشماست
هركس كه ظلم وزوركند پاي دربلاست
اندرجهاد پشت وپناگاه ماخداست
آخرفريب وكذب ودروغ توتاكجاست ؟
چون دشمني ترابه اصول خداي ماست
گرازقفابريده شود سرتراسزاست
گرصدمداهنت بكني اين شعارماست
بدعهدوچالبازو دغل مي شمارمت
اكنون اگربهانه مي سازي توازاسير
تابيني درقفا وخفا هريك ازامير
باوعده هاي كذب قباپوشي اش حرير
ازمكر داني هريكي رالايق سرير
براتفاق ووحدت ماميزني توتير
روز سفيدخويش سيه ميكني چوقير
افتاده ئي بجنگ جوانان شيرگير
بنگركه ازكجابكجامي دوانمت
گرصلح خواهي دست زمزدورخودبدار
مردودظلم خويش ورژيم نجيب دار
زان بعدنامهاي شهيدان مابيار
وانگه شماردنام ززندانيان سپار
تاازبراي ملت ماباشد اعتبار
انجام امر سرزاسيران خودبخار
باش ازبراي مرحمت ماامیدوار
آنوقت راستين وپشيمان شمارمت

ازكه نالم ؟

خادم فاريابي

ايندل مغموم من اكنون بسي غمديده شد
ازكدامين يار، يااززناكسان رنجيده شد
سالها ازحق وباطل گوش بشنيد ومكر
ناله مستضعفين دربحروبرپيچيده شد
آه ايتام وطن ازفرش تاعرش أحد
شعله ورگرديد اندرخاك وخون غلطيده شد
حاكمان خائن وعياش راديديم بس
از زرو زوري مگرصاحب نسب ناميده شد
اشك باردچشم ما بهرخداصبح ومسا
زاختلاف دوستان حرف دگرنشنيده شد
بين به كشميروفلسطين هم بافغان سرزمين
مسلمين خونين كفن سرهازتن ببريده شد
ازكه نالم ؟ ازكجا ؟ ياحق إله العالمين
دردهاازحدفزون فرش عدالت چيده شد
گرچه خونبار ست اهل ميهنم راآسمان
ليك اعداء ازسپاه دين حق ناليده شد
زآسمان كبرونخوت هرستم كيشي بما
حرفها ميزد ، چه مي پرسي ؟ همي ترسيده شد
بنگري "خادم" به دشت وكوه ودامان وطن
اشك خون ازهردوچشم چون مطرباريده شد

دقلم ژبه

فضل هادي

چي تخيل شي خوزولي دقلم ژبه ده
هم كه اديب شي وينولي دقلم ژبه ده
خداي (ج) چي پري كري دي قسم په (والقلم) باندي
قرآن چي ټول دي پري ليكلي دقلم ژبه ده
وحي به بي تل چي تري ليكله دامين له وينا
چي پري عالم بي ازمايلي دقلم ژبه ده
كه مورلس دي تري شوي اسلامي فرهنگ ته
دانقافت چي مخكي تللي دقلم ژبه ده
پښتي زره كښونكي زماني ته پخواني چي بريښي
داگردتاريخ بي چي ساتلي دقلم ژبه ده
قدسي حماس كه دتكبير په ولولو جگ شوي
چي گردلويديخ بي دي ترتلي دقلم ژبه ده
افغان هسك كري دي اذان دبخاري مسلم‌ته
فكري محورچي بي لرزولي دقلم ژبه ده

دحق سنگروارثه !

مجاهدجگړن محمودي

لوي ازمون دي دوختو نوابتلاده
هرقدم دژوندانه بيله معماده
دژوندون څخه جوړشوي چيستان دي
فيصله پكي دنن اودفرداده
تقديرونه بيا جوړيږي نوي وخت دي
پريكړه هم دمستقبل په غاړه ستاده
دازل له ويشه كمه نده گوره !
بيابه نه وائي چي دابرخه ادناده
چلوټي اوسازشونه دي دمكر
سخت سفردي كړليچونه دي بيدياده
ډيري لوړي اوژوري شته منزل ته
تورتمونه دي تياري وركه رڼاده
بيابه مهركي دسرقرباني غواړي
دحريت دناوي دغه تقاضا ده
ددنيا په زيورنه ښايسته كيږي
داسري ويني ني منگولو ته حناده
غفلتونه چي قومونوكله كړي
حاكميت دغلامي پري بياسزاده
چي پرده دحقيقت له مخه اخلي
" محمودي " دغه سوچه وينادچاده

دكَل خاني مانې اوظاهرشاه

عبدالسلام " تورن "

خيال كي دكه گرځي ظاهرشاه دگل خاني مانې
هغه چه مشهوره وه نامتودزمانې مانې
ستاپه شانته ډيروپكي وخوړل سرونه خپل
اوس ورته وايه شي دسروويښو رودخاني مانې
دلته تيارسي دي په هرگام كي دمرگي سواره
هسي خوخه نه ده دقصواوافسانې مانې
پام كوه راتشي خوشيبي ژوند غنيمت گڼه
اوس دگل خاني نه جوړه شوي پيرياني مانې
ټول ملت ويښ شوي پخواني خوبونه مه وينه
ده انقلابي اوس دهرچاداندېښني مانې
نواي ام الفتن ته په كومو سترگوبياراځي
ستادلاسه وراني دوطن شولي درني مانې
هرڅه دي لوټ كړي داړه ماره راتلي نه شي ته
تاتالاوالا كړي دهيواد دشمني مانې
ټول ملت كي تادبي دبني جوړمركزونه كړه
بوخاي سينمابل ځاي درقص اوڅانس خاني مانې
بوجومات دي جوړنه كه ظالمه په ټول عمركي
ډيري دي ودانې كړي هرځاي دبي ديني مانې
اوس چه دي بادارامريكني مني په دي پوه شه
تاته منتظر ده ددوزخ دتاخاني مانې
تاپسي " تورن " قلم اوتوره راوښكلي ده
هيري په لتا كړي دخيالونو رنگيني مانې

نگاهی برتاریخ زندگی امام اعظم (رح)

محبوب الله (حامد)

امام ابوحنيفه (رح) نام اصلي اش نعمان ،پسرثابت پسر زوطي كنيت شان ابوحنيفه بوده وطن آبايي وي افغانستان است .

درزمان خلافت حضرت عمر(رض) جدشان (زوطي) از افغانستان به كوفه رفت ،امام ابوحنيفه رح بنابرقول راجع درسنه ۸۰ هـ دردوران خلافت عبدالملك بن مروان خليفه اموي ديده به جهان گشوده است اودرشهركوفه درخانداني به دنياآمد كه سرشار ازعلم ودانش وثقافت اسلامي بوده پدرش ثابت پيشه رخت فروشي ودوكان بزازي داشت ، اززحمت ومزد دست خويش براي خود وپسرش لقمه بي تان حلال كمايي ميكرد. امام ابوحنيفه (رح) بنابرذكاوت وفطانت عالي خويش قرآن كريم رابدون اينكه نزداستاد زانونهد ، دردوكان بزازي حفظ نمود، درحاليكه كسي رابه صفت استاد انتخاب نكرده بود امام ابوحنيفه (رح) هميشه دردوران زندگي خود نشست وصحبت باعلماوبزرگان دين داشت .

امام ابوحنيفه (رح) چارتن ازصحابه كرام هريك انس بن مالك ، سهل بن سعد ، عبدالله بن ابي اوفي وابوطفيل عامربن واثلة را ديده وبا ايشان صحبت نموده است ، لذا از جمله تابعين ميباشند.

بعضي از علماء مي گويند كه وي بيشتر از چارنفر را ديده است.

هنگاميكه به ۱٦ سالگي رسيد ، همراي والد خود به اداي حج بيت الله وزيارت قبر نبي عليه السلام سفر كرد .

امام ابويوسف (رح) كه از جمله شاگردان مشهوروي است ، مي گويند:

ازابوحنيفه(رح) شنيدم كه ميگفت : من درسنه ۹٦هـ كه ١٤ ساله بودم همراي پدرم به حج رفتم .پس شيخي راديدم كه مردم بهاطراف اوجمع شده بودند ، به پدرم‌گفتم اين شيخ كيست ؟

پدرم فرمود اين مردي است كه با پيامبرعليه السلام صحبت نموده ونام وي عبدالله بن حارث است ، باز براي پدرم ياد آورشدم درنزد وي چه چيزي است ؟

پدرم گفت: نزد او احاديث پيامبرعليه السلام ميباشد ،گفتم مرابه اوقريب بسازيد، پس پدرم مرابسيار نزديك اوكرد ، وقتيكه به عبدالله بن حارث روبروشدم ، سخن پيامبرعليه السلام راازاوشنيدم كه فرموده اند:

" من تفقه في دين الله كفاه همه ورزقه من حيث لايحتسب " امام ابوحنيفه (رح) بيشترازبيست وهفت بارازكوفه به بصره سفركرده تا بافرقه هاي گمراه والحادي مناقشه ومناظره نمايد ، چنانچه با جهم بن صفوان كه رئيس فرقه جبريه بود، مناظره نمود ودر برابر دلايل ومنطق قوي امام صاحب ،رئيس جبريه لاجواب وساكت ماند. هكذا امام ابوحنيفه (رح) جهت تثبيت شريعت اسلام واصول دين بافرق خوارج ، معتزله وغلاة به مناقشه واستدلال پرداخت وايشان رانظريه دلايل نقلي وعقل عاجزگردانيد.

بايد يادآورشد كه امام ابوحنيفه درحين مناقشه ومناظره باگروههاي مقابل از حسن اخلاق نرمش كلام وآداب اسلامي كارمي گرفت:

اودرطول مبارزه وفدراكاريش ، هيچ وقت باجانب مقابل از راه خشونت وزشت گويي پيش نمي آمد ، بلكه آداب وطريقه سخن پردازي رامراعات مي نمود.

به شاگردان خود توصيه ونصيحت ميكرد ، تادروقت مناقشه ومناظره عفت كلام وسخن حكيمانه رادرنظرداشته باشند.

امام ابوحنيفه درهمه علوم وفنون مهارت وفوقيت تمام داشت ، خاصة درعلم حديث فقه تفسير ،علم لغت ، علم نحو، وعلم كلام . زيرا بدون آموختن همين علوم هيچ كس نخواهد توانست به مرتبه ودرجه اجتهادوفقاهت برسد.

استادان مشهور امام ابوحنيفه به چارهزار ميرسيد كه از جمله آنها هفت نفرشان ازصحابه كرام بوده ونودوسه آن از تابعين وباقي همه از تبع تابعين مي باشند.

ازجمله استادان شان يكي " حماد" است كه مدت ۱۳ سال نزد وي درس وتعليم آموخت وتا حد توان وطاقت به احترام وخدمت استادانش قائم بود، حتي تابه اين اندازه احترام مي نمود كه وقتي در منزلش مي نشست پاهاي خودرابه طرف خانه حماد دراز نميكرد.

كاريجايي كشيده بودكه مي آمد عقب دروازه ابستادش "حماد" ايستاده مي شد ، وقتيكه حماد ازخانه بطرف نماز روانه مي گرديد. مشكلاتي كه نزد خودداشت سوال مي نمود وهميشه درحق حماد دعاي خيرميكرد.

بعد از.موت "حماد "رح" درسنه (۱۲۰) هـ ابوحنيفه سرحلقة درس مقرر گرديد.

ويه تدريس مشغول شده امام ابوحنيفه نه تنها ازحماد درس آموخته ،بلكه ازشيوخ مكة ،مدينه ،وكوفه علم حاصل نموده بود .

هنگاميكه به عوض استادش تعيين گرديد ، روز به روزحلقه ها ي درسي اوزيادشده ميرفت .

قبلا راجع به استادان ابوحنيفه ياد آورشدم ، امادرين جاميخواهم غرض شناخت وآشنايي ،چندتن ازآنها را ذكرنمايم :

١- اسماعيل پسرحماد پسرابي سليمان كوفي
٢- ابراهيم پسرمحمد كوفي .
٣- ابراهيم پسر يزيد نخعي كوفي .
٤- ابوايوب سختياني بصري .
٥- حارث پسرعبدالرحمن كوفي .
٦- سالم پسر عبدالله پسرعمرخطاب (رض) يكي ازفقهاي سبعة .
٧- ربيعة بن عبدالرحمن مدني .
٨- سعيد پسرمسروق .
٩- سليمان پسر يسار .
١٠- عاصم پسركليب كوفي.

امام ابوحنيفه (رح) به ديدار انس بن مالك دركوفه مشرف شد وهمچنان چارتن ازاهل بيت رانيز ديده بود.

امام ابوحنيفه شاگردان زيادي تربيه نمود كه از جمله مي توانيم چندتن آنها راتذكر دهيم.

١- امام ابويوسف - ٢- امام زفر ٣- امام محمد ٤- يحي پسرزكريا ٥- فضيل بن عياض ٦- عبدالله بن مبارك وو...

عبدالله بن مبارك درموردعلم ابوحنيفه مي گويد:

" من درفهم‌ودانش فقهي كسي رامانندابوحنيفه نديدم " مكي بن ابراهيم كه يكي از شيوخ بخاري است ، درباره دانشمندي ابوحنيفه مي گويد : امام ابوحنيفه عالم بزرگ اهل زمان خودبود ومن درمردم كوفه مانند اوعالم رانديده ام .

" امام شافعي (رح) مي گويد.:

" الناس في الفقه عيال علي ابي حنيفه " يعني مردم درمسايل فقهي ،محتاج ابوحنيفه هستند ، سفيان ثوري كه ا ز جمله اوسط تابعين است چنين مي فرمايد : كسانيكه مخالفت مي كنند ازاقوال ونظريات ابوحنيفه ،بايدكه آنها نسبت به اوعالم وفقهيه باشند ، درمسايل واحكام ،حال آنكه چنين كار بعيد است"

همچنان همه محدثين ومولفين علوم،رجال وعلماي جرح وتعديل درباره ثقه بودن قول ومتقن بودن اجتهادات ابوحنيفه موافق اند.

چنانچه ذهبي دركتاب "تذكرةالحفاظ " مي گويد : امام ابوحنيفه فقيه ،مجتهد حافظ وصاحب فتوا ورأي بود .

همانطوريكه درعلم فقه اهميت وفوقيت خاص راكمايي كرده بود. درعلم حديث نيز منزلت ومقام بلندي داشت.

حسن بن زياد مي گويد امام ابوحنيفه چهار هزار حديث درباره احكام روايت كرده ، كه دوهزار آنرا ازحماد شنيده ودوهزار ديگررا از سائر شيوخ شان نقل نموده است.

امام ابوحنيفه مسايلي را كه برايش پيش مي شد ، جواب آنرا از قرآن كريم واحاديث نبوي وآثار صحابه كرام استنباط واستخراج مي نمود.

چنانچه نعيم بن عمرو مي گويد :

من ازابوحنيفه شنيدم كه ميگفت : تعجب است براي مردماني كه ميگويندامام ابوحنيفه به رأي خودفتوامبدهد ، درحاليكه من به اثرفتوامبدهم نه مطابق رأي خود"

امام ابوحنيفه مجاهد بزرگ ومبارزي بود كه درتقوي وپرهيزگاري نظير نداشت وكوشش مي نمود تا از رزق حلال كه سبب قبول عبادت است ، تغذيه نمايد هديه وتحفه هاي پادشاهان رانمي پذيرفت .

ابوجعفر خليفه عباسي خواست تا اورا برمسند قضا تعيين نمايد ،اما ابوحنيفه امتناع ورزيد بدين دسيسه به زندان كشانيده شد وازطرف خليفه وقت اذيت وشكنجه ديده بالاخره صد دره جزا براي وي مقرر نمودند ،ودرهرروز ده دره اورامي زدند سرانجام درنتيجه ظلم و لت وكوب درسال (١٥٠) هـ درزندان بغداد جان بحق سپاريد. . والسلام .

بمناسبت سي ويكمين سالگردالحاج قاري استاد محمدانور"بسمل " (رح)

نثاراحمد (نثاري)

امشب كه كاروان صفا يار بسمل است
دلهاي مخلصين همه دربار بسمل است
ازروشني وگرمي اشعار دلكشش
دربام ودرطلعلع انوار بسمل است
پيمانه داربزم نكويان بود دلش
امروز ميكشان همه سرشار بسمل است
امشب نواي مابه ثرياكندگذر
ناهيد مست زخمه شه تاربسمل است
يادي كنيم اگربدعا فيض محفل است
درويش راكه سرور وسردار بسمل است
ازرنگ ها گذشت به اندازعاجزي
بيرنگ ما كه محرم اسرار بسمل است
باعشقري وقاري وبيتاب همنواست
شايق نثاري واصف افكار بسمل است

له الحاج كشمير سره مركه

پوښتنه : تاسې په دغه وخت کې چېرته واست اوولې غونډاومهمات اووسائل ئې تالاترغې شول ؟

ځواب : دصاحب منصبانوله پاڅون نه لږوروسته موږ ته خبرراغې اوموږهم غونډته ورغلو، حکومت لامطمئن ؤ اوله مرکزنه په هلیکوپترونو مهمات اوغذائي موادراوړل . په دې وخت کې داسې فرصت په لاس راغې چې دکونړ ملحدوالي او دکرهالي دخوترې اوعامي وژني مسئول هم پخپله سزا ورسوو . دغندقوماندان والي راوغوښت چې ګرندي دسالارزو له ملکانو سره مې خبرې کړې دي هغوی تسلیمیږي خوستاراتګ ته خبره معطله ده . او والي پخپلو قدمونو خپلې قتلګاه ته راغې، دوه جاړونه ورسره ؤ، مخکې له مخکې موږپروګرام تیارکړی و چې والي له هلیکوپترنه کوزشو اوهلیکوپترونه جګ شول، حمله عسکرو والي وویشت اوله دنیاني تېرکړ . زموږ مجاهدینو دغونډ مواداومهمات شپګل ته انتقال‌ول اودغونډ قوماندان مرکزته مخابره وکړه چې والي نن په غونډ کې پاتي دي. په سباله دوه جاړونه بیاراغلل، داځل موهغوی پرې نښودل چې بېرته ولاړشي ، یوپیلوټ هم ووژل شو اوپه دې ډول داسمار دفتحې اومجاهدینو سره دیوځاي کېدو کارسرته ورسید .

پوښتنه : زماسوال همداسې پخپل ځاي پاتي دی چې ولې مواداسمارله غونډنه په موثره توګه استفاده ونشوه کړای ؟

ځواب : (له یوسوړ اسویلي سره) زموږ پروګرام همداؤ چې دهمدې قوي په واسطه به په مرکز اسعدآبادباندې حمله کووخوبې اتفاقي ، حسد اوتنظیمي رقابتونو دلته هم خپل کاروکړ ځرنګه چې غونډ حزب اسلامي ته تسلیم شوی ؤ نوپه نړیواله سطحه ئې دحزب شهرت اواعتبارډېر زیات اوچوخ کړ، خبرنګاران به راروان ؤ اودسترګولیدلي حال به ئې خارجي دنیاته نقلوه .

دي خبرې په پېښورکې موجود پنځه ګوني اتحاد راوپاروه ، ځینې کسان دحضرت صبغت الله مجددي په ګډون منطقې ته راورسیدل اوخواوشاقومونه ئې په دې نامه راپاڅول چې په غونډ کې ستاسې هم برخه شته ، خپله برخه واخلې . یواځې مولوي صیب خالص ددې کارمخالفت وکړ، په هرحال، قومونه تحریک شول اوپه شپګل ئې لښکرکشي وکړه ، حضرت صیب له قوماندانان سره لیدنه کتنه وکړه اودې ته ئې ولمساوه چې له حزب نه ځان لیرې کړي . دغونډ قوماندان مخکې داغوښتنه کړې وه چې ماته اجازه راکړئ چې پېښور ته لاړشم خوموږ ورته داوویل چې ته اوس هم دخپل غونډ قوماندان ئې، عسکر اووسائل ستاپه اختیارکې دي که په مرکز حمله کوې اوکه دافغانستان په داخل کې نورومنطقوته ځې مګردپېښورله تګ سره دې موافق نه یوموږ وروسته بیا په خپلو دې خبرې پښیمانه شو ځکه چې قوماندان دنورو خلکو په خبرو تېرووت ، مګرصاحب منصبانو ئې مخالفت وکړ اوله موږ سره پاتې شول دا داسې حال ؤ چې که موږ پخپل مؤقف اصرارکړی وای نوقومونه به له موږ سره خامخا جنګیدل، نوموله هرڅه نه لاس واخست اوقوماندان موخپلې فیصلې ته پرېښود . دجمعیت اسلامي قوماندان هغه له ځلور سوه عسکرو په ګډون له ځان سره مروري ته بوت اوهلته ئې په دې نامه چې سلاح به درنه څوك واخلي، خلع سلاح کړل حتی دقوماندان تومانچه ئې هم ترینه واخسته . همدارنګه نورچې دچاڅه وس رسیده هغه ئې وکړل . موږسره چې کوم وسائل پاتې شول هغه تراوسه دجهادپه خدمت کې دي .

پوښتنه : حاجی صیب ! دجهاد په دې دیارلس کلن تاریخ کې به مویه ډېرو مخامخ جګړوکې برخه اخستې وي . که دداسې یوې جګړې یادمویه ذهن کې راتازه کړې چې دخدای (ج) نصراوکومك موږکې په سترګو لیدلي اودروسانو دعبرتناك شکست سبب شوې وي ؟

ځواب : دجهاد په تاریخ کې هره جګړه اودروسانو هرشکست دالهي نصریوه نمونه ده . مګر یوه جګړه په خاص ډول دیادوني وړده اوهغه غالبا چې په ۱۳٦٤ کال کې پېښه شوه . د روسانو یولوي قطار دروژې په میاشت کې بریکوټ ته تېرشو اوپه راستنېدو کې پرې دجلاله په منطقه کې ځوکسو مجاهدینو انداخترنه وکړل . او ناڅاپه په روسانو رناوروغ توره شپه شوه ، داسې تندرونه پرې راوورېدل چې روسانوخپل ټانکونه اونقلیه وسایل پرېښودل وتښتېدل . کوم عسکرچې مجاهدینو نیولي وو هغوي ویل چې موږ تاسې نه ، بلکه بل څه نیولي یو، هغه بل څوك وو، په داسې حال کې چې په منطقه کې بې له دغوځوکسو مجاهدینو بل څوك نه وو . بله پېښه په ۱۳۵۸ کې پېښه شوې وه ، حکومتي قواو دچغان په علاقه داري تعرض وکړاودرې ورځې ئې دوام وکړ ، له مجاهدینو سره هرڅه خلاص شول، یو کارتوس هم ورسره نه و پاتې . زه پخپله په یوه مورچل کې پروت وم اودوه کسه عسکرمې ولیدل چې زماپه طرف راروان دي، یو لوی کمرمې پرې وروکولاوه اوعسکر دهمدغه کمرله ویرې په شاشول . یوه دعبرت نه ډکه پېښه پکې داوشوه چې یوتوپ زماپه خواکې ولګېد اوژه ئې له ځان سره پورته کړم ، بېرته په زمکه لګېدوسره ماځان دیوغارخولې ته ورساوه ، خومجاهدینوچې زماحال لیدلي و نوزماله ژوندنه ناامیده شوي وو، نوئې یوکس راولیږه چې ماپورته کړي کله چې هغه مجاهدماته راورسید، زه خوغارته ننوتی وم ، مګرهغه مجاهد دتوپ په بلې ګولې ولګېد اوشهیدشو،هغه زمادپورته کولو لپاره راغلی و خوپخپله شهیدشو .

پوښتنه : امیرصاحب ! رابه شودکونړ آزادي ته ، په کونړکې دحکومت پښه چېرته په نهائي توګه وښویده چې بیاراټېنګه نشوه اوکونړ ئې پرېښود، آیاداد مجاهدینو عسکري فتحه وه که نه لکه ځنګه چې ویل کېږي دکمونست حکومت یوچال و ؟

ځواب : کله چې روسانو په کونړکې سخت تلفات ولیدل اوله کونړنه ئې دتېښتې لارې چارې سنجولې، موږ هم دولایت دنیولو پروګرام جوړکړ ، دپروګرام په سرکې مواداسمار نیول په نظر کې وو، نورو تنظیمونو ددې غونډ دنیولو کوښښونه کړي و خوموفق شوي نه و، داسمار دنیولو لپاره دشپګل نیول ضروري دي، نوموولایت دپیچ اومروري دلارې ته مصروف وساته اوپه شپګل موحمله وکړه ، له یوې هفتې جګړې وروسته شپګل فتح شو. دې فتحې ۳۲ کسه شهیدان او ٤ کسه زخمیان له ځان سره راوړل . دشپګل له فتحې وروسته داسمار دمحاصرې کړۍ نوره هم تنګه شوه اوله مرکز سره ئې بېخې ارتباط غوڅ شول، په دې وخت کې دکونړ دلرسرنه ترپرسره پورې یواځې دحزب اسلامي دمجاهدینو عملیات روان وو، کېدې شي دنورو تنظیمونو ځینې ګروپونو په انفرادي توګه برخه اخستې وي خوپه تنظیمي سطحه یواځې حزب په تعرضي عملیاتوبوخت و .

پوښتنه : حکومت داسمار دمحاصرې دماتولو لپاره څه ونکړل ؟

ځواب : ولې نه ، حکومت ۱٤ تعرضونه وکړل، یوولسمه فرقه ، نهه شپېتم غونډ، دقندهارفرقه اونوري محلي قواوې په دې تعرضونو کې شاملې وې، خوهرتعرض ئې ناکام شو یوځل دوه ټانکونه شپګل ته ورسیدل خوهغه هم تسلیم شول اوددې پرله پسې ماتوپه نتیجه کې داسمارقوماندان دې ته اړشو چې له مجاهدینو سره تماس ونیسي اوپناه غوښتنه وکړي . موږ هغه ته پناه ورکړه اوهغه دغونډ ټول وسایل مجاهدینو ته تسلیم کړل، خوپوځل بیا نور تنظیمونه اوقومونه راپاڅېدل اوغونډ په وسایلوکې ئې خپله برخه وغوښتله اوله بده مرغه ددویم ځل لپاره داسمارغونډ تالاترغې شو. (یومجاهد په حسرت وویل چې یونوي اوفعال ټانك ځینې ځوانانو !! کبارکړ) په دې وخت کې دمولوي صاحب فقیرالله مجاهدینو د شهبازي مهمه اوستراتیژیکه پوسته فتح کړه ، وته ونیول شو،شینکوړك آزاد کړای شو اودمجاهدینو وریسې هدف مرکز (اسعد آباد) وټاکل شو . پروګرام داو چې دځوکي په منطقه کې به لاریندووترڅو خلقیان اوپرچمیان وته تېښتي ، مګر حکومت له دې وېرې چې مرکز هم داسمار پشان دمجاهدینو په لاس کې پرې نه وځي، فرار ته یې په قرارترجیح ورکړه اوخوچې موږوړته ځان راورساوه بیا حکومت تښتېدلي و . البته په هغه وخت کې دارتباطي وسایلو دنشتوالي له امله موږ ونشو کړای ترڅو نورو مجاهدینو سره دلارې دبندولوپه هکله خبرې وکړو، هماغه ؤ چې حکومت وتښتېده اودا یوځې ماتي وه نه کوم بل چل .

پوښتنه : دکونړدآزادۍ په دې وروستیو جګړو کې دنورو تنظیمونو برخې اوونډې اخستنې ته تاسې اشاره وکړه ، دجماعة الدعوة په باره کې موڅه ونه ویل، هغوی څومره برخه اخستې وه ؟

ځواب : دهغوی برخه صفروه ، یو دوې هم نه دې کړې اوته داسې کوم ځاي ښودلی شي چې له هغه ځای نه ئې په دښمن برید اوانداخت کړې وي اوئه دوي کومه پوسته فتحه کړې . بلکه کله چې کونړ دحزب اسلامي مجاهدینو آزادکړ نودوی خپل افراد له کمپونو ووغوښتل اوپه هرځاي ئې خپل بیرغونه ودرول . حزب اسلامي دخپل دې موقف په رڼاکې چې کونړ دټولو مجاهدینو دې، ددوی دبیرغونو دپوزغلي ټالول پندنه کړل . چې وروسته همدا پوزغلي دټولو تنظیمونو لپاره دمشکلاتو سبب شو .

پوښتنه : کله موچې متحده شوري جوړه کړه ، داشوري ولې موفقه نشوه چې دکونړچاري سنبال کړي ؟

ځواب : کله چې ولایت په پوره توګه آزادشونودچغسراي په جومات کې دټولو تنظیمونو وروونه راټول شول اودافیصله وشوه چې شوري به جوړوو چې پکې به له هرتنظیم نه درې کسه اوله حزب اسلامي نه ٤ کسه برخه اخلي او دکونړ دچارو مسئولیت به په غاړه لري خوسباته دجماعة الدعوه کسان شوري ته حاضر نشول اودا خبره ئې کوله چې موږته دمرکز نه هدایت نېدي شوي چې په دې شوري کې برخه واخلو، بلکه موږ خپله اداره جوړوو. اووجهادي تنظیمونو متحده اسلامي شوري دمحترم مولوي صیب غلام رباني په مشري جوړه اود ولایت اداره ئې په لاس کې ونیوه . خو دامنیت دراوستلو په لارکې لوی خنډ داؤ چې جماعة الدعوه په کونړکې له خلقیانو پاتې شوي ټول غیرصالح عناصر په غېږ کې ونیول . که به شوري دهغوی په هکله څه پریکړه اواقدام کاوه نودجماعة الدعوه له دفاع سره به مخ کېدله . اوپه دې ډول مشکل نشوحل کېدلی بیا حزب پېشنهاد وکړ اوجماعة الدعوه اومتحده شوري ئې په دې قانع کړل چې یوه ګډه اداره باید جوړه کړو اوددې کارلپاره یوکمیسیون جوړ شوچې مشري ئې بیا هم دمولوي صیب غلام رباني په غاړه وه ، دې کمیسیون دانتخاباتو داجراء فیصله وکړه چې څوك اکثریت ترلاسه کړي هغه به داداري مشري په غاړه اخلي .

پوښتنه : کونړ لومړني ولایت ؤ چې انتخابات پکې اجراء شول ، ولې دکونړ مشکلات پرې حل نشول ، داولې ؟

ځواب : دانتخاباتو داجراء په وخت کې حزب له عبوري حکومت نه وتلی و، نو په عبوري حکومت پورې مربوطو قوماندانانو ته هدایت وشو چې په انتخاباتو کې برخه وانخلي اوله کمیسیون نه ووځي . حزب ، جماعة الدعوه اودنورو تنظیمونو ځینو قوماندانانو په انتخاباتو کې برخه واخستله دانتخاباتو په لایحه کې داراغلي وه چې دکونړ دآزادۍ پورې مهاجرشوي کسان رایې ورکولو حق لري او رایې به په پیسونه اخستل کېږي . خو جماعة الدعوه یوشرط هم عملي نکړ، دهغوی داقرارپه اساس ئې نهه میلیونه کلداري په انتخاباتو کې مصرف کړي له اصلي مقدارنه به ئې خدای (ج) خبر وي . همدارنګه ئې دکمونست حکومت نه پاتې شوو کسانو ته به انتخاباتوکې دګډون موقع ورکړه . جماعة الدعوه دادعوي کړي وه چې دکونړ ۲/۳ برخه خلك له دوی سره دي، خولیدل ئې چې دانتخاباتو نتیجه برعکس ده ، اودوي یواځې دحزب اسلامي په مقابل کې شکست خوري . نو دانتخاباتو په وروستي پړاو کې ، مخکې له دې چې ددري منطقو (کانتوا، برګمتال ، نیشګام) انتخاباتي نتیجې راورسیږي، دوي د بي بي سي اوامریکاغږله لارې دانتخاباتو نتایج اعلان کړل، حال داچې داانتخاباتو دکمیسیون صلاحیت ؤ، نه ددوي ، جماعة الدعوه خپل ځان ته ٤٢ ، حزب اسلامي ته ۳۲ چوکۍ اوهمدارنګه ئې نورو تنظیمونوته پخپله خوښه سیټونه ټاکلي وو، دحزب اسلامي اوجماعة الدعوه ترمینځ په دې مسئله اختلاف پیداشو مسئله دکمیسیون رئیس ته وړاندې شوه اوډواړو خواوو ورته واك وي کړشو چې پریکړه وکړي ، دهغه پریکړه په دې ډول وه :

۳۵ چوکۍ دحزب اسلامي او ۳۵ چوکۍ دجماعة الدعوه لپاره اودارنګه نوري چوکۍ نوروتنظیمونو ته ورکړل شوې دي . سره له دې چې حزب په دې تقسیم اعتراض درلود مګر ځرنګه چې موږ واك ورکړي ؤ پریکړه موومنله ، مګر جماعة الدعوه ورته غاړه کېنښوده . په دې جنجال کې عبوري حکومت خپل والي راولیږه او دشپېته کسیزې شوري په جوړولو ئې ځانله اداره جوړه کړه ، همدارنګه جماعة الدعوه په باجوړکې دخپل تنظیم غونډه وکړه . امارت ئې اعلان اومولوي صیب جمیل الرحمن ئې دامیر په حیث اعلان کړ . خوپه دې غونډه کې دهیڅ یو تنظیم یادانتخاباتو دکمیسیون کوم غړي حاضرنه ؤ، حزب اسلامي دامارت جهاد په چوکـــــات کې کارکاوه اوپه دې ډول درې اداري جوړې شوې متحده اسلامي شوراله منځه لاړه اوانتخابات په سیند لاهوشول .

نورېي

جنبش وتحرك مسلمانان درافريقاي شمالي

مترجم: جمال عبدالناصر "عزيزي"

احیاي جنبش هاي اسلامي درافریقاي شمالي باپیروزي جبهه نجات اسلامي به رهبري داکتر عباس مدني در دور اول انتخابات در ۲٦ دسمبر ۱۹۹۱ به نمایش گذاشته شد، زیرا انتخابات الجزایر قویا فروپاشي نظام سیاسي رادرآنکشور بیان نمود .

بایدگفت که رژیمهاي پیشین درالجزایر به رفاه وبهبود مردم توجه کمتري داشتند، روش هاي دیکتاتورانه این رژیم ها مردم را واداشت تادر سنګرواحد قرارګیرند . همچنین جهت اصلاح اقتصادو جلوګیري از فسادګسترده ، نه توجه یې صورت ګرفت ونه هم اجازه اصلاح آنرابه کسي میداد . مشکلات اقتصادي وبیکاري بي سابقه، میلیون هاتن ازاتباع آنکشوررابراي یافتن کاروزندګي بهتر مجبوربه هجرت به اروپاخصوصا فرانسه نمود .

تمام رژیم ها درافریقاي شمالي باسلطنتي مطلق بوده ، باهم تمایل به سوسیالیزم داشت . باتحت دیکتاتوري یك ګروه قرارداشت وباهم نیمه دموکراتیك بودند . عوامل فوق همه باعث این شد تا راه رابراي تقویت جبهه نجات اسلامي (FIS) ، داکترعباس مدني وعلي بلحاج درالجزایر، جنبش اسلامي به رهبري ر سید الغنوشي درتونس، جنبش العدل و الاحسان به رهبري عبدالیاسین درمراکش وګروه مخفي آزادي بخش اسلامي درلیبیا بازنمود .

جبهه نجات اسلامي ازطرف اکثریت مردم فقیر ومستضعف الجزایر پشتیباني مي ګردد یعني آنهائیکه سالیان درازیه اثر ظلم وجبر رژیم هاي دیکتاتوري ازحقوق خود محروم بودند . جبهه نجات اسلامي با پروګرام هاي اصلاحي اش به مثابه یګانه نیروي سیاسي تبارزنمودکه قدرت آنرا دارد تاتمام سیستم هاي سیاسي، اقتصادي واجتماعي الجزایر را اسلامي نماید .

دشمنان اسلام فضاي دوقطبي رادرالجزایر ایجاد کرده ، براي بي ثبات کردن اوضاع به تبلیغات بي پایه علیه اسلام متوسل شد ند ، که این حالت ممکن به یك جنګ ویرانګربیانجامد . درچنین یك سناریو، امپریالیزم فرانسه ممکن برنده میدان باشد . ظاهرا فرانسه شکست توهین آمیز خویش را توسط انقلابیون مسلمان الجزایرکه علم جهادرا برافراشته بودند فراموش نکرده است . فرانسه ممکن براي دامن زدن به جنګ داخلي ویا جهت انتقام ګرفتن ازپیروان اسلام درالجزایر نفوذ نماید .

درتونس ، حبیب بورقیبه از ۱۹٥٦ الي ۱۹۸۷ میلادي به طورظالمانه فرمانروایي نمود دهشت حکومت اونه تنهابه مخالفین سیاسي وي محدود نماند بلکه به جنبش اسلامي ایکه صرف براي حراست ونګهباني اسلام ازهجوم نظریات وارده ازفرهنګ فرانسه ازقبیل فساد اخلاقي ، برهنګي ، وانحراف جامعه بطورمسالمت آمیز تبلیغ مي نمود نیز سرایت نمود .

همین ګونه ، بورقیبه محاکم اسلامي راموقوف قرارداده پوهنتون هارا ازقیدمذهب، خارج ساخت .موسسات خیریه اسلامي رامنسوخ نموده ، زنان رامجبور به ظاهرشدن درصفحه تلویزیون ودورنمودن حجاب اسلامي کرد وعمومیت روزه ګرفتن ماه مبارك رمضان را ملغي قرارداد بورقیبه حتي قانون خانواده ګي مسلمانان رانیزتبدیل نمود .

هنګامیکه موسس پولیس مخفي تونس زین العابدین بن علي درسال ۱۹۸۷ میلادي قدرت سیاسي کشور رابدست ګرفت ، نه تنها پالیسي سرکوبګرانه بورقیبه را دنبال نمودبلکه دهشت ووحشت را بالاپیروان اسلام افزایش داد ، قسمي که درسراسرجهان عرب چنین حکومت جابروبیداد ګرمشاهده نشده بودحتي سازمان عفوبین المللي که تحت کنترول یهودي ها مي باشد، داستانهاي ظلم وجبر که بالاي پیروان اسلام اعمال مي شدازقبیل توقیف نمودن ، شکنجه وعقاب بي رحمانه ، اعدام هاي سري به پیمانه وسیع ونابودي فعالین برجسته مسلمانان را ، درشرایط مرموز ګزارش مي داد .

هنګامیکه جنبش النهضه مبارزه خودراعلیه این رژیم سفاك وجابر ادامه داد ، رژیم به بهانه اینکه علیه اوکودتا صورت ګرفته ومي خواهد آن راخنثي کند به توقیف نمودن بیش از ...۸ نفر ازپیروان آن جنبش متوسل ګردید .

درمراکش ، شاه حسین دوم با پیروان اسلام سلوك نیك داشت ، اماعبدالسلام یاسین رهبر العدل والاحسان تاوقتي درخانه اش تحت نظارت قرارداشت که تعدد احزاب سیاسي درآنکشورمجازنبود. زمانیکه درسال ۱۹۸٤ م جنبش اسلامي مارش عظیمي رادرجاده هاي پایتخت به رسم اعتراض علیه صعودقیم ، ضعف اقتصادوفساد اخلاقي براه انداخت ، حکومت مراکش برایش هشدارداد . در فبروري سال ۱۹۹۱ جنبش العدل والاحسان بازهم جهت اعتراض به پالیسي جابرانه حکومت درمقابل مسلمانان بیش از ....٥ نفر مظاهره کننده راجمع نمود، مګر توسط قواي دولتي کوبیده شد .

درلیبیا احزاب سیاسي به شمول اخوان المسلمین غیرقانوني اعلان شد. درسال ۱۹۸۷ م حکومت آنکشور ۹ نفررابه شمول سه سرباز به اتهام عضویت دراخوان المسلمین اعدام نمود . بعدا درماه مي همان سال بیست ویك نفر ازپیروان نهضت اعدام ګردید . درسال ۱۹۹. تقریبا ..٥ نفرازحزب نجات اسلامي به دلایل سیاسي ومتهم بودنش به یك ګرپ مخفي اسلامي توقیف ګردید .

یك نماي دلچسپ ازتحرك جنبش هاي اسلامي درافریقاي شمالي ، همکاري بي سابقه میان آنها مي باشد و درناهمګوني آنهارژیم هاي غرب زده عرب نقش عمده دارد چنانچه هنګامیکه رهبرجنبش اسلامي النهضه رشیدالغنوشي به الجزایر فرارنمود رژیم شاذلي بن جدیدبالاي اوفشارآورد که فعالیتهایش رادرالجزایر متوقف نموده ازآن کشور خارج شود . مګر باوجوداین همه تحرك وبیداري مسلمانان درافریقاي شمالي باکامیابي هاي نهضت اسلامي در الجزایر هرچه بیشتر اوج ګرفته است .

خبرتیا

وروروخوشحال دمحمدعارف زوي دننګرهار ولایت دخیوي دولسوالي اوسیدونکي اوددعوت وجهاد دپوهنتون دطب دپوهنځي دلومړي ټولګي محصل خبرورکوي چې دسیدجمال الدین (رح) دلیسې څخه دفراغت شهادتنامه یې ورکه شویده . که چا موندلي وي هیله ده چې په لاندني آدرس سره یې راولیږي .

پته : ددعوت و جهاد دپوهنتون دطب دپوهنځي تدریسي مدیریت .

دبي درکي اعلان

وروور محمدطیب دسیدخان ځوي دکونړ ولایت مرکز دکټارکلي اوسیدونکي دباجوړدمدرسي طالب العلم د ۱٤ کالوپه عمر ٥ میاشتې مخکې دپېښور ښارنه بي درکه شویدي . که ځوك دده په هکله معلومات لري په لاندي پته دي خبرورکړي .

پته : پېښور - دباغبانانوسپین پول ترڅنګ دسعیدخان کور .

پرامريكايي پاليسيوديهودو تسلط

دیهودوفعالیت له ۱۹٤۸ م کال څخه پیل اوتند شو چې داسرائیلي دولت له تشکیل څخه څوساعته وروسته امریکا اوروس هغه په رسمیت وپېژاند اوهم یې دهغه په جوړیدوکې مهم رول ولوبوه .

داچې څنګه امریکا داسرائیلو دولت په دومره تندي سره په رسمیت وپېژاند نودهغه په باب رئیس جمهورترومن چې د " رښتیاویونکي " په څېر پېژندل شوي ؤ داسې وویل چې : " زه عربي رأیه ورکوونکي (ووټرز) نلرم ."

په ټوله نړۍ کې دیهودو شمېر پنځلسو میلیونوته رسیږي چې له هغې جملې څخه یې شپږ میلیونه په امریکا کې ژوند کوي چې دامریکا دټول نفوس دري فیصده تشکیلوي ،خودوي فیصده خلکو دومره مؤثري ډلې جوړې کړي دي چې په تجارت ،تعلیم ، اطلاعات ، مطبوعات ،سیاست اونوروډګروتوکې ورسره څوك مقابله نشي کولای .

جنرال جورج براون چې دامریکا دپوځي قواؤ لوی درستېز ؤپه ۱۹۷٤ م کال کې یې پرامریکایې پالیسیودیهود تسلط اوکنترول ته اشاره وکړه خو یهودونه غوښتل چې دهغویرخلاف دعسبوي اکثریت احساسات تحریك شي ،مګرنوموړي یو ممتازپوځي شخصیت ؤ چې له رئیس جمهور فورډ سره یې نژدې اړیکې درلودې نویهود ونه توانیدل چې نوموړي جنرال ته مخامخ ګوزار ورکړي.

دامریکا په ستروښارونو لکه نیویارك ،کلیفورنیا ، پنسلوانیا ، الینویسي اوداسې نوروکې په ډله ایزه توګه ژوند کوي چې دامریکایي انتخاباتي نظام سره سم دوی کولای شي چې په عامو انتخاباتو کې دخپلې ډله ایزې رایې په بنیاد دخپلې خوښې کسان منتخب کړي.

په امریکا کې دیهودودري سوه سیاسي ،کلتوري اومذهبي تنظیمونه وجود لري چې محلي څانګې یې زرګونوته رسیږي ،څلورزره پنځه سوه عباوتخانې (لیناګوګ) لري . دري سوه محلي مرکزونه اوپه سلګونو کلوبونه اوسلګي تنظیمونه لري یهودو دڅیړنو لپاره پنځه مرکزونه اوخصوصي موسسې جوړې کړي دي.

برسیره پردې دوه زره اته سوه مکتبونه ،څلورموزیمونه ،اوه شپېته شفاخانې او اوویشت کتابخانې لري . دوه ملي ورځپاڼې ، په سلګونواوونیزې اوځو سوه مجلې هم خپروي.

په سیاسي اوټولنیز ژوند کې دلاندنیو تنظیمونو په شکل کې خپل فعالیت ته دوام ورکوي.

۱- " دیهودومتحده ټولنه " چې په خاصه توګه داسرائیلو لپاره مرستې ټولوي.

۲- " دیهودو ددفاع ټولنه " چې پښتې پال یهودي صیهونیستان پکې غړیتوب لري چې دترورادهشت په ذریعه خپل دښمنان له منځه وړي.

۳- دامریکا دیهودوکمېټه اودامریکا د یهودوکانګرس چې د " اعتدال خوښوونکو" په څېر شهرت لري اوداسرائیلو بشپړ ملاترکوي.

٤- په امریکا کې د ۳۲۲ یهودي تنظیمونو دمشرانو کانفرانس چې دټولویهودي تنظیمونو دانسجام وظیفه ورپه غاړه ده .

٥- په امریکا کې دیهودواصلي هسته د" امریکااسرائیلو دعامو چاروکمېټه " (ایپك) په نوم یادیږي چې په حقیقت کې داسرائیلي سفارتخانې مرستیاله کمېټه ګڼل کېږي.

نوموړې کمېټه له صیهونیستي اوغیر صیهونیستي یهودو څخه جوړه شوې چې هڅه کوي چې امریکایي عامه افکارداسرائیلو په طرفداري تیارکړي.

داسرائیلو لپاره د مرستوغونډولو په خاطر دیهودو دسیاسي عمل کمېټې جوړې شوې چې په ټوله امریکا کې فعالیت کوي. دمثال په توګه یوازې په ۱۹۹۰ م کال کې نوموړو کمېټو دخپلې خوښې سناتورانو اودکانګرس دغړیو دکامیابۍ په خاطر څلور میلیونه ډالره مرسته ورکړه کړه .

دایپك موسسه په ۱۹٥٤ م کال په واشنګټن کې تشکیل شوه چې دمنځنی ختیځ په باره کې یوه بهترینه کتابخانه لري اوهمدارازد نژدې ختیځ راپور" په نوم یوه اونیزه هم خپروي چې دامریکا هرسناتور، دکانګرس غړي ،لوړ رتبه مامورینو اودسفارتخانو غړیوته په زیات شمېرکې په منظمه توګه رسیږي.

داخبره هم څرګنده ده چې نوموړې موسسه دڅیړنې په باب زیات مهارت لري، چې داسرائیلو په رابطه په څلوروساعتوکې دیوې موضوع په باب تحقیقي رساله وړاندې کولای شي.

کله چې سناتور چارلس پرسي دفلسطینیانو په ملاتړ خبرې وکړې نو په څو ورځوکې ورته شل زره اعتراضي خطونه ورسیدل چې خپله وظیفه یې هم له لاسه ورکړه .

همداراز په ۱۹۷۷ م کال کې چې روس اوامریکاپه ګډه دفلسطینیانو د " قانوني حقوقو" په باب اعلامیه خپره کړه ،نوپه څلورو ورځوکې سپینې ماڼۍ ته داعتراض ۷۲٦۸ تلګرامونه او ۸۲۷ تلیفونونه وشول ، ترڅوپه ورځو وروسته په ګډې اعلامیې دوباره غورروشو اوداسرائیلو دوزیرخارجه موشي دایان له مسودې سره یې سمون ورته ورکړ.

برسیره پرپورته یادشویوتنظیمونو دامریکا په مطبوعاتو ، تلویزون اوراډیوکې هم دیهودوزیات اثرموجود دي ځکه چې دامریکا د ډله ایزو خپرو ونکیو مؤسسو مالکان یاخو یهودي دي یا بې یه نوموړیوموسسوکې په مهمو پوستونو دیهود کنترول دي.

دامریکا مشهوري ورځپاڼې اوانونیزې لکه نیوارك تایم ، واشنګټن پوست ، نیوزویك او همداراز دتلویزون مشهوري شبکې لکه " سي بي اس " "ان . بي . اس " او " اي بي سي " اوداسې نوره یهودو ترکنترول لاندې فعالیت کوي. دا هم دیادولو وړده چې دامریکا دجمهوري ریاست لپاره په عامو انتخاباتو کې دیهودو ډله ایزه رأیه زیات مهم رول لوبوي.

دسرمقالي پاتي برخه

پدي ماناچې دعظیمې قرباني مقتدا خوځښت له خپل ژمن یون او بهیرنه راستنلوي نشي . دبیلګې په ډول که څه هم زموږ وزن او برپالیتوب دسیاسي ډګر په پرتله په جهادي میدان کې ډېرزیات دي ، خوله دې سره سره موږنړیوال ښکیلاك هره ازمایل شوي چلوته دملت له سخت تصادم سره مخامخ کړي، اودښمنان مودې ته ارکړي، چې دبرزیې دخپلوجنایاتوله فهرست نه وباسي . په سیاسي ډګردومره چټك برپالیتوب رښتیاهم چې دویاړلودي، خوبوه شیبه لانه وي تېره ، چې دپانګوالي امریکاپه پتي یابښکاره سر پرستي کفري اوارتجاعي حلقوزموږدسترجهاد درکود لپاره کومه بله طرحه دملګروملتواویادلوبدیځ له کوم بل ګوټ‌ته وړاندې کړې وي ، باید پوښتنه وکړو، چې په هرډګرماتي خورلي دښمن ته درنګارنګ‌شیسودبیاقیام جرأت څوك اوڅه شي ورکوي ؟

څرګنده ده ، چې زموږخانخاني اود وړو، وړو دلګیو موجودیت ددې ربړنې مکارمبتکرین لاتشجیع کوي . دابه ډېره بې انصافي وي، چې دخپل وزن اوثقل نه په صرف نظرمجاهدملت مخ ته ودرېږو، اوله ځانه طراحان اوتیوریسنان جوړکړو، اوپدې ډول درښتیني مجاهدقیادت په باب دملت ذهن منتشرکړو، که څه هم په وینو کې لمبیدلي ملت به هغه قیادت خامخاوپیژني ، چې دانقلاب تکبیرونه بې یواځې دوي نه بلکي ګردي اسلامي نړۍ بدرګه کړل . خولږترلږه پدې حساسو شیبوکې داسلامي انقلاب دښمنانو ته داډول څنګه هوارول هم دمجاهدملت دبرخلیك سره دلوبوکولوپه ماناده اوهمداډول ګامونه اخیستل ورته ددې خبرې فرصت ورکوي ، چې افغانان اوس هم قبیلوي تشخص لري، نوپه همدې ډول بې باید ستونزې دسنګرونوپرڅاي په جرګوحل شي : همدا ځاي دي ، چې باید سترجهادي څواکونه خپل ځان تورهم په تحرك راولي،اومجاهدملت له ځانه سره پدې سیاسي بهیرکې شریك کړي. پدې باب دحزب اسلامي سیمینارونه چې قوماندانان ، علما، قومي مشران اوسوداګره یوري پخپل غیرکې رانیسي . دروان وضعیت سره برابرچلند دي، داډول سیمینارونه کولي شي له یوې خوادملت ګرد افشار دروانو سیاسي حالاتو دیون په کشمکش کې راګډ، اوله بلې خوادمخکښ قیادت له پریکړو سره دکلي تفاهم ترپولو وراندې لارشي، اوپدې توګه دملت اوقیادت ترمنځ یوه داسې داحتساب فضا رامنځ ته شي، چې ګرد تبلیغ شوي ښکیلاکي شکونه اووسوسې پکې سرو خوري . دمجاهدملت سره دادول تفاهم دهغوي غوښتنو اوهیلوته وروګرځیدل دي، چې داسلامي انقلاب پرمخ بیوونکي خوځښتونه ترې بله لارنه لري، اوپه ضمن کې دپرګنوافکاروته داډول بې وېرې ور ستنېدل دلویدیځ ددروغجنې دیموکراسي چیلنج هم دي، چې تن سیا سترانقلابي تحریکونه دبنیادګرا اوپاپه نوروتوموتو دولسونوله کرکې سره مخامخوي. خوانشاء الله (ج) دژمنو خوځښتونو داډول چلند بې درټني او تذلیل پوخ عمل دي، چې هره هیله به یې همداسې نیمګړې پاتې کیږي .

دظاهر شاه دبیرته راګرځیدومسئله دیو شخص نه بلکی دهغه دتیر وراسته نظام . . .

لري، وسله هم نه لري، دکودتاله لاري هم قدرت نشي ترلاسه کولی، دانتخاباتو هم په دي خاطر مخالفت کوي چي دولس له راي نه ویریږي ، په خپل ولس اعتماد نه لري، ملت ته ئي بیه امتحان نه دي ورکړي، همدغه دي چي دسازشونوله لاري له نجیب سره د ائتلافي حکومت دجوړولو اویادظاهرشاه په څنګ کي دودریدو دبهرني ملکونو دحمایتترلاسه کولو له لاري قدرت ته رسیدل غواړي .
خومونږته دادمنلو وړنه دي، داځکه چي داسي یونظام داسلام دبنیادي اساساتو سره ټکر اوتصادم کوي، اسلام دیو باصلاحیته امیر دټاکلوامرکوي مونږ مکررا داخبره کړي آیاد صحابه وو په دوړکي دحضرت عمر(رض) دشهادت نه بعد مګرداسي وشول چي دشپږکسانوترمینځ قدرت وویشلي شو اوکه ددوي ترمنځ یوباصلاحیته امیرانتخاب شو، په همدي خاطر مونږ څو امیرانو ترمینځ دقدرت په ویش باورنه لرو بلکي زمونږنظردادي چي یو باصلاحیته امیربه انتخاب کیږي .
زمونږ عقیده داده چي دامیر دانتخاب حق اسلام امت ته ورکړي، دادامت واجب دي اودهغه حق دي چي خپل امیربه انتخابوي نه داچي څوك دقدرت لیوال وي پخپلو مینځونوکي کبیني اودخپلو مینځونوترمینځ دسازش له لاري دملت رایي ته دمراجعي نه پرته په خپلو مینځونوکي قدرت وویشي اوحکومت دي جوړکړي اسلام دالارنه ده منلي . که حکومت دهمدي لاري جوړشي چي څومشران دي خپلو مینځونوکي کښیني او وزارتونه دي په خپلو مینځونوکي وویشي دابه هروزارت بیل دولت وي لکه دمؤقت حکومت په شان چي هروزارت دخپل تنظیم دامیردفتروو اوپه حکومت کي به تل کشمکش وي همدارنګه په ټول ملك کي تشنج وي اودقدرت په سربه تل نزاع اوشخړي وي ، داسي یونظام نشي چلیدي ، زه وایم که داتن مونږداکاروکړو اوه تنظیمونو په خپلو مینځونوکي کښیني اوداقتدار وویشي سبانه که دانه وو او دابوکس ونشو توانیدلي ، مرشو، استعفایي وکړه ، شهیدشو بیا به څه کوو، بیابه هم څوکلونه جروبحث اومناقشه وي اوبالاخره

تنظیمونه به په خپل مینځ کي کبیني اواقتدار به ویشي .
زمونږ نظردادي ورونو ! باید همغه تنظیمونه چي داسلام په نسبت متعهددي او دافغانستان قضیه دجهاد له لاري حل کول غواړي، په افغانستان کي اسلامي نظام غواړي، هغه دي یوبل ته لاس ورکړي یومحدوده دتفاهم شوري دي جوړه کړي ، دمشترکو عملیاتوله پاره دي تیارشي ، په کابل دي جدي سترمنظم عملیات وشي، باید دکابل ولس ته اطمینان ورکړوچي مجاهدین نه غواړي په کابل مزایلونه وورول ، مجاهدین نه غواړي کابل وران شي ، نه غواړي کابل ته مسلح مجاهدین ننئوځي که ولس درژیم په خلاف راپورته شي خپل عکس العمل وښیي ، خپله کړکه اونفرت

وانه خستلي شي ، دهغوي آینده په خطرکي ونه ولویږي تولارئي داده چي دمسئلي په حل کي دي هغوي خپل رول اداکړي مجاهدین ورته پناه ورکوي هغوي کولي شي دمسئلي په حل کي موثر نقش اداکړي مونږ بایدپوځ ته اطمینان ورکړو . اوهغوي باید له دي ناحیي نه ډاډه شي چي مجاهدین دي ته تیاردي چي هغوي ته موقع ورکړي خپله ګذشته جبران کړي او که دوي داسي یورول اداکړچي دهغه په نتیجه کي خپله ګذشته جبران کړ ،مجاهدین په خلاصه غیږدوي مني، مجاهدین دځان له پاره اقتدار نه غواړي ، موږ دجنګ خاتمه غواړو په خپل ملك کي دعاجلي سولي اعاده ، رژیم دي ختم شي یومؤقت حکومت دي دهغه ځاي ونیسي په همدغه موده کي

دتیر منحل حکومت بیا راژوندي کول یو بیهوده کوشش دي

ځرګند کړي سرکوټو ته راووځي ، دنیاته وښیي چي افغان ولس ته داحکومت دمنلو وړنه دي . مونږباید دکابل اوسیدونکي همدي ته تشویق کړو اوهغوي ته روابوچي که تاسونه غواړي چي کابل وران شي ، په کابل میزایلونه ؤوریږي ، کابل تباه شي نوتاسو دقضیي په حل کي فعال رول اداکولي شي ، تاسو خپل عکس العمل دزژیم په خلاف وښیي ، زه یقین لرم چي که مونږ وتوانیدلي شو دکابل ولس ته جرئت ورکړو هغه سرکوټو ته راووځي خپل عکس العمل وښیي دادنجیب په نسکورولو کي لوي رول اداکولي شي همدارازمونږ باید پوځ مطمئن کړو هغوي ته روابوچي پوځ دي دخپلو غلطیو اواشتباهاتو دجبران لاري ولټوي که هغوي غواړي چي پوځ متلاشي نه شي ددغومسلحو قوتونو چي درژیم په څنګ کي دریدلي دهغوي نه انتقام

دي انتخابات وشي بیادي قدرت منتخب حکومت ته انتقال شي .
مونږ دغه پیغام باید فرد، فرد دکابل اوسیدونکو ته ورسوو اودپوځ ټولو افسرانوته اوټولو هغوکسانوته چي دنجیب په خواکي ولاړدي هغه چي دخپلي تنګیني ګذشتي دجبران په لټه کي دي دغوکسانو ته باید دالار پرانیزو، دوي ته باید موقع ورکړو هغوي باید مطمئن اوډاډه کړو، چي دهري لاري نه دکابل رژیم نسکورشي که داپه کابل دمجاهدینو عملیات وي، که دادکابل دولس دتظاهراتوله لاري وي که دپوځ دهمکاري له لاري وي، که له بلي هري لاري نه وي چي دکابل رژیم نسکور شي بایدد هغه ځاي یومؤقت حکومت ونیسي، مونږ په هرصورت یوه مؤقت حکومت ته ضرورت لرو حتي که حزب اسلامي یوازي داکارکوي رژیم

نسکوروي، زمونږ پلان همدغه دي چي دنجیب حکومت دنسکور یدونه بعد دي یومؤقت حکومت جوړشي بیادي دیوکال نه په کمه موده کي انتخابات وشي اوقدرت دي منتخب حکومت ته انتقال شي .
ورونو ! مونږ ددي دپرکوشش وکړ چي نورتنظیمونه دي خبري ته تیارکړو چي هغه له مونږسره دقضیي یومعقول حل ومني، دجهادپلان موږراندي کړي چي راځي مشترکه عملیات وکړو. همغه چي دجهاد خبري کوي اوترټولونه زیاتي چیغي وهي ومولیدل چي هغه په شاشول، هغه دي ته تیارنشول هغه بیا همداتبلیغات کول چي مشترك عملیات نشو کولي وجه ئي داده چي حزب اسلامي په کابل کي څه خاص تدابیر نیولي اونورتنظیمونه دوکه کوي او استعمالوي یي مونږ اوس دحزب ورونوته همداوایوچي له دي نه پس باید دافغانستان دمسئلي دحل له پاره زیات په نورو اعتماد اونوروته زیات انتظارونه لرو باید خپله داکار وکړو. زه باورلرم چي حزب اسلامي یوازي ددي مسئلي له پاره کفایت کوي زمایقین دادي چي که دغه قوماندانان هم تصمیم ونیسي چي مونږ دکابل رژیم نه یواساسي ګذارورکوو اودهمدي له پاره ځان تیارکړي زه له هره لحاظه دحزب قوت ددي مسئلي له پاره کافي ګڼم متاسفانه مونږ په دغه موده کي په اطراف کي په ضمني عملیاتوکي مصروف شوو .
راځي اوس دهمدي له پاره ځان آماده کړو چي دمسئلي دحل له پاره خپل ټول قوتونه یواساسي هدف دټکولو له پاره تنظیم کړو اودهغه په خاطر خپل قوتونه منسجم اوسوق کړو .
په دي هکله امیددي چي مونږ تفصیلي بحثونه دورونو سره وکړو څو په دغه اجتماع کي زماپیشنهاد وروڼوته همدغه دي چي دحزب قوماندانان دي دمسئلي دحل له پاره ځان آماده کړي

اورژیم ته دیو اساسي ګذارورکولو له پاره دي ځان تیارکړي .
مونږ ټولو تنظیمونو ته ددي بلنه ورکووراځي دامسئله په خپل لاس حل کړو مخکي له دي نه چي مونږ له یوي نوي معضلي سره مخامخ شو اودوښمنان ددي موقع ترلاسه کړي چي مونږته نوي مسائل راوچت کړي یوبل ته لاس ورکړو اودجهادله لاري دارژیم رانسکورکړو، که مونږیوه معقوله طرحه وړاندي کړه یوبل مومطمئن کړاوپه دي ترتیب ولس مطمئن شو ټول مجاهدین په دي قانع کړي شو چي دادي دمسئلي دحل له پاره یومعقول پلان وړاندي شوي زه یقین لرم چي داددي قضیي دحل په جهت کي له مونږ سره مرسته کوي که نورتنظیمونه داونکړي دحزب مجاهدین چي داجهاد هغوي پیل کړي . هم داکارکولاي شي، دحزب اسلامي دجهادله پیلیدو وروسته په تاریخ کي یوه لویه تبدیلي راغله ددنیایولوي وحشي قوت ختم شو محدودوکسانوداتصمیم نیولي وو چي هغه به داسلام کلمه اوچتوي داویده قوم به بیداروي اوپه افغانستان کي به یواسلامي حکومت جوړوي .
لله الحمد دادي ګورو چي ئن دهمغه کسانودعزم قرباني ، اخلاص، په الله (ج) توکل اودصبرپه نتیجه کي داددنیایولویه پیښه ترسره شوه ئن ټول افغان ولس بیدار شوي اودجهاد لارئي غوره کړي مونږ دکامیابي په وروستي درشل کي یو ، نه یوازي زمونږ په لاس یولوي قوت ختم شوي. دتاریخ مسیربدل شوي، بلکي دادي الحمدلله ټول اسلامي امت بیدارشوي ئن په دغوسنګرونو کي ټول اسلامي امت له مونږ سره دي ، دامت ټول صالح اوباایمانه وګړي له مونږسره دي زه باورلرم چي یوازي حزب اسلامي همداکولي شي .
اقول قولي هذا استغفرالله لي ولکم والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

له کست نه بلي کوټکي عبدالهادي نیازي .

چون وچرا

فریدون « افراسیابي »

باباي امن !

زیرپل فردوس پشاور، چند جوان پوسترهاي سومین سال مرګ خان عبدالغفارخان را بزحمت روي دیوارسرش داشتند . درپوستر تصویرقلمي آخرین روزهاي زندګي عبدالغفارخان رسامي شده بود . چند قدم دورتردرآنطرف سرك، روي کناره هاي آهني " جناح پارك " بیرق هاوشعارهاي سرخي نصب بودکه درآن مردم رابه شرکت درجلسه " باباي امن " دعوت میداد .
براي غفارخان القاب زیادي داده اندکه البته مارا به آن کاري نیست ، ولي نشاندن کلمه " امن " پهلوي اسم غفارخان که خود ازپشتیبانان ومریدان جنګ روسها درافغانستان بود خواهي نخواهي براي مهاجرین جالب واقع میشود !
نکته قابل تبصره درین ماجراحق تلقي ودستبرد ظالمانه به ساحت کلمات وارزش هاست که این خصلت درنهاد حلقه هاي باطله وضاله شامل مي باشد. درچنین جهانبیني ، یکوقت مي بینید آقایي تخلص ویااسمش را درمنتهاي مهملي وبي دردي " رنجبر! " ګذاشته ویاتصاحب بناحق اسم خودش رابي مساساخته است .
راستي خیلي چشم سفیدي میخواهد که بیایندوکسي راباباي امن لقب بدهندکه ازکشتارکودکان وزنان افغانستان توسط روسها پشتیباني میکردوآنراحرکتي مترقیانه وصلح آمیز میګفت . فرق کمونستهاي روس ونشنلیست هاوکمونستهاي پاکستان این است که روسها حالا ازتهاجم شان درافغانستان خجالت میکشند ویرطراحان کودتاي ثورواشغال افغانستان لعن ونفرین مي فرستند ولي روس مشربها ونیمچه کمونستهاي صوبه سرحدبه تعبیرکاسه ګرمتر ازآش، هنوزهم سرخرشان سواراند، هنوزهم " انقلاب ثور" میګویند که این البته برمیګردد به جهل، تحجر ووابستګي فکري وکلا دووري وبیخبري این حلقه ازجریان ورویداد ها وپیشرفتهاي فکري زمان .
این تحجر ازهمان نمونه اي است که اعراب بادیه نشین درمقابله باعربهاي شهرنشین داشتند، هرقدر بیخبري وجهل درجامعه ریشه داشته باشد کفرونفاق " وکلا استفاده سوء ازحق کلمات وارزش هانیز زیادتر میشود. به نظرمن که خلقي هاوپرچمي هاي دوردست ازخلقي هاي شهرنشین بدجنس تر بودند نمیدانم متوجه شده ئیانه کاریکه خلقي ها زیرکلمات ! نان ، لباس ومسکن انجام دادند و جنایاتي راکه بااین شعاردرافغانستان مرتکب شدند فکرمیکنم استالین درروسیه انجام نداده باشد.
بهرحال دنیاي باطل وروابط باطل دنیاي استفاده ناجایز ازکلمات است، عناصر ګمراه دربرابرکلمات بیرحم اند وهیچ انصافي رادرباب استفاده ازکلمات وارزش ها که مسلما مال خدایند برسمیت نمیشناسند .
ولي چنین تصورمیشود که درمیان جمله کلمات وجمله ارزشهاي که مورد استفاده ودستبرد واقع میشوند هیچ کلمه اي به اندازه صلح و " امن " مورد تجاوزواقع نشده باشد. تصورکنید چه جنایات عریض وطویلي نیست که درګذشته وحال بنام صلح صورت داده اند. ولي خوب تحولي که باالهام ازنسیم معنویت دردنیا به حرکت آمده این امید رابدلهامیدهد که قرن پیشرو وقرني که اینك درشرف آغازآن هستیم قرن آزادي کلمات ازبندتغلب ووابستګي باشد.

دسخن روزپاتي برخه

شول مجاهدېکي شامل نه شو نوبیا تنظیم څوك دي ؟ بیانو کیداي شي داطرحه داسي وړاندي شي چي داد قومانداناتو برخه ، دادعلماوو برخه ، دادمجاهدینو برخه ، داد مامورینوبرخه او ... بل مشکل داچي یوڅوك هم عالم وي هم قوماندان ، هغه به دکومي ولي نمایندګي کوي، ځکه زمونږ اکثرقوماندان عالمان هم دي. پدي حساب ویلاي شو چي په دي طرحوکي افراد اواتحادیي اوشوراګاني باید یي خایه مطرح نه شي ، فقط دتنظیمونه خبره وشي .
ځکه که دغسي هري شوري ته همداسي برخي ورکړلي شي ، نودسلو قومونو لس شوراګاني به جوړي شي په سلونو مشران اورهبران به رازرغون شي چي هرڅوك به دپاچاهي دعوه کوي، اوداهغه څه دي چي استعمارچیان یي دراپیداکیدوهڅه کوي، ترڅو دیؤقبادت مشکل پیدااوخلك دپردو طرحو اودپردوپالومنلوته غاړه کیږي دي .
لنډه داچي هرڅومره فکروکړو نوویلاي شوچي ددي ستونزي دحل یوازیني لار واقعي انتخابات دي، ترڅوحق حقدارته ورسیږي دهرچا زورواوقوت معلوم شي . دملت اصلي نمایندګانو ته قدرت حواله شي، خصوصا چي دغه انتخابات دمتناسبي نمایندګي پربنیادوي چي دهیچا رایه هم ضایع نه شي، هرتنظیم دراپویه تعداد شوري ته نمایندګان معرفي کړي . اوکه فرضا په اوسنیوشرایطو کي انتخابات ممکن نه وي اویاڅه مشکلات لري، وخت ته ضرورت لري نو، بیا خودي عجالتا په همدي قبادي شوري چي دمشرانو له خوایي په طرحه لاسلیکونه هم شوي ، په عمل کي پیاده اودهغالو موادو په عملي کولو دي پیل وکړي، اوبادي ، زمونږ ټول مشران اومسئول کسان خداي ته مخ کړي، خپلي ګټي دي ترپښو لاندي کړي داسلام اوملت په خاطردي قدم اوچت کړي اودتناسب پراصل دي دجهادي تنظیمونو څخه یوه شوري جوړه اوموقتي حکومت دي جوړکړي چي دنجیب له حکومت وروسته وقدرت واګي په لاس کي واخلي. کیداي شي داتناسب سل په سلوکي مراعات نشي ولي دنمایندګانو دشمیر تفاوت دقوت په تناسب لوي تنظیمونه قانع کولاي شي پدي کارسره هم ستونزه حل نه شيږدي کیږي اوهم توطئي شندیږي هم دپردیو لاسونه ورلنډ یږي . اوکنه نودغه دتساوي پربنیاد طرحي دستونزي دلاپیچلتیا اوداځان دوکه کولو پرته بله معنالري .

ددارالانشا رئیس مولوي عبدالبصیر اودتعلیمي کمیټي آمر مولوي ناقد اودجهادي تنظیمونوهیوېوتن نماینده لخوا لاسلیك شوه .

ګزارش حاکیست اودرحال حاضر درمنزلش واقع وزیراکبرخان مینه بسرمي برد اوازتماس بافامیل وعلاقمندان اعضاي باندش نیز محروم ګردیده است .
رئیس جنایت پیشه باند بدنام پرچم تقریبا چندین سال متواتردرمسکو درحالت بازداشت قرارداشت ولي نامبرده بعداز تحولات اخیر درشوروي سابق ازآنجا اخراج و دوباره به کابل فرستاده شد و فعلا تحت نظارت مامورین رژیم کابل که ازجمله اعضاي باندوي مي باشند قرار دارد .
درګزارش اضافه ګردیده است که شهریان مسلمان شهرکابل به این عقیده اند ودرشهرسروصدا به پاګردیده است که اوبه غضب خداوندي ګرفتار ګردیده است زیرا اودرایام سیاه حکومت خویش ازهیچ ګونه جنایت وخیانت به ملت مسلمان افغانستان دریغ نه نموده مورد لعنت خداوند واقع ګردیده است .

ببرك کارمل به مرض فلج مبتلا ګردیده است

میدیا - ۵ دلو :
ببرك کارمل رئیس باند پرچم به سبب هراس ازآینده خویش به مرض فلج مبتلا ګردیده است .

اعلان مفقودي

برادر عبدالحمید مسکونه ولسوالي علیشنګ ولایت لغمان فعلا طالب العلم درمدرسه دارالعلوم نعمانیه اوقاتزي چارسده وباشنده کمپ منډا پل مي باشد داراي ۱۴ سال عمربوده ازمدت چهارماه بدینسو مفقودالاثر مي باشد بناء هربرادرکه موصوف رادیده ویااز آن اطلاعي داشته باشد مسئولیت اسلامي شان را اداانموده به آدرس کمپ نمبر ٤ منډایل مارکیت قندهاري بجاي مامورورازمحمد اطلاع دهد .

وشوه چي په دغه ازادشوي ولایت کي دي د سولي درامینځته کیدو اوحق . حقدارته سپارلو اوپه راتلونکي کي دستونزودحل کیدو اوشخړودمخنیوي لپاره داسلامي اصولوپه رڼاکي دیوي واحدي اداري دجوړیدو لپاره دعلماو یوشپاړس کسیزباصلاحیته کمیسیون وټاکل شي اوهغه دي د حالاتوپه نظرکي نیولو سره خپل کار په بیړه سره پیل کړي .
ددغه مجلس یوغړي حاجي فضل محمد دالبنیان خبري آژانس ته وویل چي مجلس په اتفاق سره داخبره تصویب کړه چي سرله ئن څخه به هیڅوك دنوروپه خلاف تبلیغات اووسله وال تیري نه کوي دکمیسیون دغړودټاکني په هکله نوموړي وویل چي په دي کي شپږ تنه انصارعلما مولاناسمیع الحق ، مولانا ګوهر رحمن ، مولانا عنایت الرحمن ، مولانا عبدالسلام ،مولانا محمدشریف اودبانډي قاضي صاحب ،همدارنګه دهرجهادي تنظیم څخه چي په کونړکي موجودیت ولري یویوتن عالم به ددي کمیسیون غړي وي ،پدي شرط چي دکونړاوسیدونکي نه وي .
پریکړه لیك دحزب اسلامي له خوا دهئیت نظار رئیس کشمیرخان اودسیاسي چارومرستیال مولوي سرفراز اودجماعت الدعوة دولي له اړخه دهغي ولي

دکونړ دمجاهدینو تر منځ دستونزودلیري کولو ره دیو با صلاحیته کمیسیو ن په جوړیدوموافقه وشوه

البنیان خبري آژانس : ۳ دلو
درارسیدلو خبرونوله مخي په کونړکي دحزب اسلامي اوجماعة الدعوة ترمنځ داوسني نزاکت اواختلاف دلیري کولو په خاطر په پیښور کي دکونړ ولایت مربوط دټولوجهادي ولودنمایندګانوله خوا دځوورځو پرلپسي غونډواومناقشوپه پاي کي بالاخره دپنجشنبي په ورځ موافقه

داسلام په مقدس دین . . .

۲ - دیتیم مال ته پاملرنه :
په دي باب هم الله (ج) څه هدایات فرمایلي چي هغوي‌په نظرکي نیولو سره به په اسلامي ټولنه کي دیتیم په مال کي تصرف کوي، دهغه دمال سرپرستي به په رواطریقه کوي چوراوچپاول به پکي نه کوي بي ځایه به ئي نه مصرفوي اوترهغه پوري چي په یتیم کي پوره پوهه پیدا شوي نه وي هغه ته به دمال تصرف نه پریږدي چي هغه ئي پخپله بي ځایه مصرف اوضایع نکړي الله (ج) په دي باب فرمائي : دپلارمړیومالونه هغوته بیرته وسپاري، سه مال په بدمال مه بدلوي. اودهغومالونه له خپلو مالونو سره په ګډ ونه خورئي. داویره ګناه ده . النساء - ۲
همدارنګ الله (ج) دپلارمړیو جنګوپه باره کي فرمایي : که تاسي ویریږي چي له پلارمړیو سره به عدالت ونشي کړاي نو کومي سځي چي ستاسي خوښیږي له هغوڅخه له دوو دوو، دریو دریو، څلورو څلورو سره نکاح وکړي ... النساء - ۳
د پورتني ایته شریف مفسر ینو دري معناوي بیان کړیدي :
۱ - حضرت عاشه رضي الله عنهادي په تفسیرکي وایي چي دتاپوهي په دورکي به چي کومي یتیمي نجوني دکومو خلکو تربالني لاندي وي دهغوي‌دمال اوښائست اوسکلاله امله ، بابه دي مفکوره چي دهغوي ګټندوي نشته ، چي څنګه موخوښه وي همغسي به ئي ترفشارلاندي وساتو، نوله هغوي سره به ئي نکاح کوله اوبیابه ئي پري ظلمونه کول . په دي اساس لارښوونه وشوه چي که تاسي اندیښمن یاست چي له یتیمونجونوسره به انصاف ونشي کړاي نویه نړي کي نوري سځي شته کومي چي ستاسي خوښیږي ورسره نکاح وکړي . دهمدي سورة دنولسمي رکوع لمړي آیته ددي تفسیر تائیدوي .
۲ - ابن عباس رضي الله عنه اودهغه شاګرد عکرمه (رض) ددي تفسیر داسي بیانوي چي دتاپوهي په دورکي دنکاح څه اندازه نه وه ، هریو سړي به لس لس ښځي کولي اوکله به چي ددي دیرو ودونو لګښتونه زیاتیدل نودارتباو له مخي به ئي دخپلو یتیمانو ورېرونو، خوریو اونورو بي و سو خپلوانو حقوق خوړل، په دي اساس الله تعلي دنکاح لپاره دڅلورو حد وټاکه اوئي فرمایل چي له بي عدالتي نه دځلاصون لاره داده چي له یوي نه ترڅلورو داسي ښځي وکړي چي له هغوسره تاسي عدالت مراعات کولاي

شي .
۳ - سعیدبن جبیر(رض) قتاده (رض) اوځیني نورمفسرین وایي چي دیتیمانو موضوع که راواخلونودتاپوهي دودرخلکوهم له هغو سره بي عدالتي سه نه ګڼله خودښځوپه باب دهغوذهن دعدل اوانصاف له مفکوري نه خالي و له هرڅو ښځوسره به ئي چي زړه غوښتل واده به ئي کاؤ اوبیابه ئي ظلم اوتیري کاو، له دي امله لارښوونه وشوه چي که تاسي له یتیمانو سره له بي عدالتي کولونه ویریږي نوله ښځوسره هم له بي عدالتي کولونه ویره وکړي . لومړي خودخلورونه زیاتي په نکاح مه اخلي اوپه دي څلوروکي هم په دومره اکتفاء وکړي چي تاسي ورسره عدالت وکړاي شي .
دآیت عبارت ددي دریواړو تفسیرونو احتمال لري اوداداتعجب خبره نه ده چي دادریواړه معناوي مرادوي . دغه رازددي یوه معني داهم کیداي شي چي که تسا وله یتیمانو سره داسي انصاف نشي کولاي نوله هغوښځوسره نکاح وکړي چي له هغوسره یتیمان وي . (ترڅوچي بیاددي نکاحي پیوندله امله دعدالت چلند مراعات کړاي شي) .
اوکه دیتیم دمال ګډ ول خپل مال سره دهغه دګټندي لپاره وي اودیتیم ولي هغه جدا سمبالولي نشي نوبیا ورته دخپل مال سره دیوځاي کولو اجازه شته لکه چي الله (ج) فرمائي : پوښتنه کوي دوي چي له یتیمانو سره دي څه چال چلندوشي؟ ووایه : په کوم دول چلند کي چي دهغو ښیګڼه وي، دهماغه غوره کول دیرښه دي، اوکه تاسي خپل اود هغو خرڅ اولګښت اوژند سره ګډ اوشریك کړي څه پاك نشته ، نوهغوي خوستاسي ورونه دي، دوراتګارو اوروغ چارو دواړوحال الله ته ښکاره دي، که دالله (ج) خوښه شوي واي نوبه دي کارکي به ئي تاسي له ستونځوسره مخامخ کړي واي، مګرهغه په واکمني سربیره دحکمت څښتان هم دي . البقره ۲۲
دهغه چاسره چي دیتیم مال وي الله (ج) پرهغوي لازم کړي دي چي دهغوي دمال سپارلو نه ترمخه په هغو ازمیښت وکړي که چیري ئي په هغوي کي هوښیاري ولیده چي خپل مال ئي ساتلي شونومالونه به ئي ورته وسپاري اوکه پوره رشدپکي نه وه نوبیابه ئي ورته نه ورکوي ترڅو چي هغوي ئي بي ځایه مصرف نکړي همدارازدیتیم ولي که غني و نودیتیم له مال څخه به هیڅ مصرف نکوي اوکه دهغه ولي فقیر و نوبیابه څه

مناسبه اندازه مصرف ترینه وکړي الله (ج) په دي باب فرمائي : اویتیمان ترازموئي لاندي ونیسي تردي پوري چي هغوي دنکاح کولو منګ ته ورسیږي ، بیاکه تاسي په هغوي کي اهلیت ولیده نودهغوښتمني هغوته وسپاري . داسي هیڅ کله مه کوي چي دانصاف له حدنه تیري وکړي اوله دي ویري نه دهغوي ښتمني په بیړه بیړه وخوري چي که هغوئي لوي شي خپل حقوق به درڅخه وغواړي بیاچي کله دهغه ښتمني هغه ته سپاري نو خلك دي پري شاهدان ونیسي، اودحساب اخیستلو لپاره الله کافي دي . النساء - ٦
ابن کثیردشعبي څخه په روایت کولو داسي لیکلي دي ، که دیتیم ولي غني وي نودیتیم مال ورته داسي دي لکه دوینې اومرداري خوراك اوکه فقیرو هغه ته دخپلي اړتیا په اندازه لګښت ترینه روادي .فقها و لیکلي دي چي دومره لګښت ورته روادي چي دهغه دکارمزدوري اوضروري احتیاجات ترینه پوره شي .
رسول الله صلي الله وعلیه وسلم ته یوسړي راغي اوپوښتنه ئي ترینه وکړه اي دخداي رسوله ! ماسره یویتیم دي چي سرپرستي ئي ماته په غاړه ده هغه مالداراوزه غریب یم زه که دهغه له مال څخه څه لګښت وکړم راته روادي ! هغه وفرمایل : لګښت ترینه وکړه خودخپل ضرورت پوره کولو په اندازه ، که دي لګښت له ضرورت نه زیات وکړ بیا هغه درته حرام دي . ابن حاتم ، ابوداؤد، نسائي .
۳- دیتیم سره له بد خوئي نه ځان ساتل :
څرنګه چي دیتیم پلارمړاودي په ناامیدي اخته دي الله (ج) داسلامي ټولني ټول وګړي په دي مامورکړیدي چي له ده سره به په مینه اوشفقت خبري کوي اوپروزګي به ورباندي نه وهي اوسختي خبري به ورته نکوي الله (ج) په دي باب فرمایلي دي :
نویریتیم سختي مکوه -اوسوالګرمه رټه . الضحي - ۹ - ۱۰
قتاده (رض) فرمائي : دیتیم سره داسي اخلاق وکړي لکه یومهربان پلارئي چي له خپل ګران څوي سره کوي ، همداراز هغه (رض) دمسکین په باب فرمایلي دي: مسکین ته که څه ورکوي ورئي کړه اوکنه نوپه سوالفاظوئي رخصت کړه دهغه رټل درته حرام دي .
الله (ج) په خپل کتاب کي په بل ځاي کي هم دي مطلب ته پاملرنه کړیده اوفرمایلي یي دي : تا ولید هغه څوك چي داخرت جزااوسزا ته دروغ وائي ! هغه خوهماغه خلك دي چي یتیم تیل وهي، اودیتیم دهودي په ورکړه هڅونه

نکوي ، الماعون - ۲ - ۳ .
٤ - دیتیم مال خوړل داور خوړل دي :
الله (ج) د یتیم په مال کي هیڅانه دناروانصرفاتواجازه نه کوي اوکه چاداکاروکړالله (ج) به هغه ته په اورکي دغورځولوسزاورکړي الله (ج) فرمائي : کوم خلك چي په ظلم سره دیتیمانو مالونه خوري په حقیقت کي هغوي خپلي ګیډي له اوره دکوي اوهغوي به اورمرو ددوزخ تاوجن اورته ورننوځي . النساء - ۱۰
رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي : داووهلاك کوونکوشیانونه ځان وساتي :
۱- خداي (ج) سره شریك مه نیسي ، ۲ - سحرونکړي ، ۳ - ناحقه څوك و نه وژني ، ٤ - سود ونه خوري ، ۵ - دیتیم مال ونه خوري ، ٦- دجنګ نه تیښته ونکړي ، ۷ - پاك لمونځوته دبدکاري نسبت ونکړي .
په بل ځاي کي رسول الله صلي الله علیه وسلم په دي باب فرمائي : دقیامت په ورځ به یوقوم دخپلو قبرونو نه په داسي حال راپورته کیږي چي په خولو کي به ئي داورلمبي وي له هغه نه پوښتنه وشوه یارسول الله ! داڅوك دي هغه وفرمایل : تاسي نه وینئ ! چي خداي (ج) فرمایلي دي ، هغه کسان چي دیتیمانو مالونه خوري .
په بل حدیث کي له ابوهریرة رضي الله عنه نه روایت دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي : زه په تاسي تاکید کوم چي ددوو طبقو دمال خوړني نه ځان ساتئ ، ۱- ښځي ، ۲ - یتیمان .
په دي باره کي ابن کثیر دسدي په حواله لیکلي دي : دیتیم مال خوړونکي به دقبر نه په داسي حال پورته کیږي چي دخولي، غوږونو، پوزي اوسترګونه به ئي داورلمبي پورته کیږي ، هرڅوك به ئي پیژني چي دادیتیم دمال خوړونکي دي .

نبوي ارشاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :
په تحقیق سره غوره دنیکیو،دانسان علاقه ساتل دی دپلار له دوستانو سره یی دپلار په غیاب کی اویا له مرگ نخخه وروسته یی .
مسلم

شهادت
بیانگرعقاید وآرمانهاي حزب اسلامي افغانستان
مـــؤســــس : انجنیر"حکمتیار"
صاحب امتیاز : حزب اسلامي افغانستان
ناشـــــــــر :ریاستارشادوفرهنگ
سـال تاسیس : ۱۳۵۷ هجري شمسي
تحت نظرهیئت تحریر
تلـــفـــون : ۶۳۷۸۹-۳۰۲۲٤ پشاور
پوست بکس (۱٤٦٥) یونیورسټي تاون پشاور

شهادت

په نصرت مینه کي دقومي مشرانو سیمیناریاي ته ورسید

کي دملت په خوبنه یواسلامي حکومت قائم شي دادنیات فلیږودي دي مشرانوخپل قوم خرخ نکړ، دوي د خپل ملت ددبمنانو سره لاس یونکړ، په جهادکي یې برخه واخیستله فشارونه ئي وگالل اوهرڅه ئي پریښودل فقط دي ته ئي ترجیح ورکړه چي دخپل قوم په څنګ کي ودریږي اودمجاهدینو ملگرتیا وکړي .

(محترم وروروحکمتیار په دغه اودپیغمبر(ص) احادیثو په رڼاکي په مربوطو مسئلو بحث وکړ .

ورپسي وروور حاجي صاحب عبدالظاهر حاضرینوته دخاتن ظاهرشاه دحکومت په وخت چي کوم فاجایزه اوغیراسلامي عملونه کیدل دهغو په هکله حاضرینوته

ده وویل چي موثر مذهب مسلمانان ته متو په دي وروستیو کي چي داسلام دښمنانو دظاهرشاه خبري پورته کړي اوځو تنه خرخ شوي مشران ئي پیداکړي اودهغه په واسطه په راډیوگانو کي دهغه وېناوي خپروي دادافغان ولس ټولو مسلمانو پرگنوته ښه معلوم دي .

هغه زیاته کړه ظاهرشاه دخپل زمامداري په دوران کي دافغانستان مسلمان ملت سره څه وکړل چي اوس به بي وکړي .

سیمینار کي یوه تفصیلي وېناوکړه چي پوره متن به ئي انشاء الله دشهادت په راتلونکي شمارو کي ووراندي کړو) .

دوروورحکمتیار له خبرونه وروسته حاجي صاحب عبدالمجید خان خپل نظریات داسي څرگندکړل : دافغانستان دانقلاب څخه څوارلس کاله تیرشول الحمدلله زمونږ ولس په دغو څلوارلسو کالونوکي ډول، ډول تجربي څان ته حاصلي کړي . زمونږ مؤمن ملت اوس ددښمنانو په توطیو ښه پوهیږي اوهیڅ څوك نشي کولي نوردغه آگاه اوبیدارملت دوکه کړي .

په دي وروستیوکي چي دظاهرشاه دراوستلو کومي گنگوسي خبري شوي اودښمنان غواړي چي دغه خاینه اودملت نه رټل شوي څېره بیاپرافغان ولس وتپي هغه له دي نه بې خبره دي چي اوس پرافغان ولس څوك په زوره قیادت نشي تپلي .

حاجي صاحب مجیدخان دخپلو خبروپه لړکي داهم وویل چي په دا اوږدوکلونوکي چي افغان ولس له کومومشکلاتو او کړاونو سره مخ شوي داټول دهمدغه ظاهرشاه له لاسه دي .

هغه زیاته کړه زمونږ بروسه په الله پاك ده موثر دخداي (ج) درضا له پاره داجهاد پیل کړي اوترڅوچي په افغانستان کي یو سوچه اسلامي حکومت نه وي راغلي موثر به خپل جهادته ادامه ورکوو .

ورپسي مولوي صاحب نصیرالدین آخندزاده دحزب اسلامي افغانستان دقضاد ریاست مسئول اودداالانشاء سرپرست دقرآن عظیم الشان دآیاتونو پوره معلومات ورکړل .

همدارنگه محمدجان خان افریدي دقبائلو په نمایندگي خپل نظریات داسي څرگندکړل او وویل : موږ اوتاسي مسلمانان یو دغه ټولي معاملي مولیدلي دي موږ ته دظاهر دخبري یادولو هیڅ ضرورت نشته تاسي مطمئن اوسي اسلام اوقرآن داسي ساتونکي لري چي تل به دخپل قرآن ساتنه کوي هغه هیڅ څوك هم محوه کولاي نشي .

ده دخپلو خبروپه یوه برخه کي وویل چي ماخپلو قبائلوته په وارو وار توصیه کړیده چي داسلام په معامله کي هیڅ څوك څه نشي کولي هغه خپله څښتن لري هغه به بوټن ټاکي چي هرڅوك بې وټاکل .

دادافغانستان دخلکو دپارلس څوارلس کلني ستونزي په خداي نه اېښه کوي اوداسي یومسلمان قیادت به افغان ولس ته ورکړي چي دټولي نړي مسلمانان به پري افتخارکوي .

ده زیاته کړه چي موږ به ظاهرشاه ته ووایو چي ته لاخوشحاله نه ئي چي ستاتره زوي کمونستانو وواړه اودتاانتقام وروروحکمتیارصاحب واخیست، که ته پښتون ،مسلمان او افغان ږي نوته باید ده په ښتو کي غورڅېدلي واي چي تازما انتقام اخیستی،نه خو دومره تشوي چي دخپل د تره زوي انتقام واخلي .

ورپسي حاجي صاحب شیرین دل حضاروته خپلي گټوري خبري واوروولي وبي ویل : الحمد لله په حزب کي هغه سپین ږیري اومسلمانان سره راټول شوي چي دپوره ایمان خاوندان اودمتین عزم لرونکي دي .

ده وویل موثرپه افغانستان کي یوسوچه اسلامي حکومت غواړو اوزموږ پرولس باندي څوك په زوره قیادت نشي تپلي . دافغانستان راتلونکي قیادت به هغه څوك کوي چي په دي دپارلسو کالو نو کي ئي زحمتونه ، تکلیفونه اوستونزي گاللي وي ورپسي وگروال حمید الله خان هم حضاروته گټوري او ارزښتناکي خبري وکړي .

دسیمینارپه وروستي برخه کي بیابل قومي مشر حاجي صاحب طوره باز خان خپلي ارزښتناکي خبري دروانو سیاسي حالاتو په اړوند حضاروته واوروولي ده دظاهرشاه تیراعمال په کلکه وغندل وبي ویل : ظاهرشاه نورافغانستان ته راتلي نشي دافغانستان ټول ملت هغه پېژني اودهغه عملونه ټولو خلکوته معلوم دي .

ده زیاته کړه افغان ولس چي دي دپارلس کاله انقلاب کي کومي ستونزي ته دصبرملاوتړله هغه ئي ددي له پاره نه دي تړلي چي بیادي هغه تیر منحوس نظام پر دوي مسلط شي هغه زیاته کړه دافغانستان مسلمان مجاهدین به افغانستان کي ترهغه خپل جهادته ادامه ورکوي چي په افغانستان کي یواسلامي حکومت قائم شي موثرظاهرشاه نوربه افغانستان کي دیوي شیبي له پاره ده نشومنلي . که هغه راوستل کیږي نودمحاکمي له پاره دي راشي چي دملت په حضورکي محاکمه شي اودخپلو خیانتونو سزاورته ورکړي شي .

دحاجي صاحب دخبروپه پاي کي دعاوشوه اودغه سیمینارددماسپښین په دوبجو پاي ته ورسیده .

اخبارجهان

به طرفداري ومخالفت کاستروتظاهرات صورت گرفت

نیویارك ٦ دلو :
هزارهاتن ازطرفداران فیدل کاستروریس جمهورکیوبا درشهرنیویارك اجتماع نمودند وباعث شدندکه جمعیت کثیري ازمخالفین کاسترو درمقابل آنها اجتماعي را ترتیب بدهند . بیش ازسه هزارتن ازطرفداران کاسترو بروزشنبه دریك تالارجهت استماع بیانیه هاي تقبیحي ایالات متحده بمقابل کیوبا اجتماع کردند وازحکومت کمونستي کیوبا ستایش بعمل آوردند درعین حال درخارج تالار هزارها تن ازمخالفین کاسترو درهواي بي نهایت سرد رئیس جمهور کاسترو راتقبیح نمودند وشعارهاي به طرفداري اروپوکراسي وآزادي دادند .

دچین حکومت ۹ کسه ناراضیان خوشي کړل :

دچین حکومت دتیان من دمیدان دمظاهرو په لړکي نیول شوي ۹ کسه ناراضیان خوشي کړي دي .

دبشري حقوقو طرفدارجان کانگ ئن وویل چي په پیکنگ کي دسیاسي علومواوقانون دپوهنتون پخواني شاگرد دناراضیانو دخوشي کرشري ډلي په جمله کي دي .

کانگ یوامریکایي تاجردي چي په هانگ کانگ کي کاروبارکوي اودبشري حقوقو په باره کي دچین دمهموخلکو سره تماس لري .

هغه وویل چي دپیکنگ په ملاقاتوکي ورته ویل شوي دي چي دچین دغه ۹ ناراضیان چي ددو کلونو راهیسي بندي وو دنومبر په میاشت کي خوشي شوي دي دانده معلومه چي دنومبرپه میاشت کي چي دامریکا دخارجه وزیر جمیزبیکر دچین دوره کړي وه دغه ناراضیان دهغي په نتیجه کي خوشي شوي دي اوکه څنگه په دغه سفرکي جمیزبیکر دچین په حکومت باندي فشار راوړي وو چي په خپل هیواد کي دبشري حقوقو وضعه بهتره کړي .

دچین حکومت دناراضیانو دخوشي کولو دااعلان په داسي وخت کي وکړ چي یوه ورځ وروسته دچین صدراعظم لیپنگ دلویدیځوهیوادونوپه لورروانیده .

آرزوي اسرائیل ازهند درمورد مقاومت اودربرابر فشار عرب :

٦ دلو :
دیویدلیوي وزیرخارجه اسرائیل ازهند تقاضا دارد به پیروي ازچین واتحاد شوروي سابق دربرابر فشارعربها مقاومت کند ویا اسرائیل روابط خودرا قایم نماید .

لیوي درختم بازدید پنج روزه ازپیکنگ وقبل ازاینکه جهت اشتراك درمذاکرات صلح شرق میانه عازم مسکوگردد این مطلب رااظهار کرد . قراراست چین که ارتباطات نزدیك بادول عربي دا رددرعملیه صلح شرق میانه که امریکا وروسیه ازآن طرفداري دارند درمسکو اشتراك کند .

دتایلند صدراعظم دسیمه ایزامنیتي نظام جوړیدو غوښتنه‌کوي :

دتایلند صدراعظم دجنوب ختیزي آسیا دهیوادونو په اتحادیي باندي غږکړي دي چي دخپلي غونډي په اجنداکي اقتصادي پرمختگ اوسیمه ایزثبات اواستحکام لو مرني موضوعات وټاکي .

صدراعظم باراچونگ په سنگاپورکي په یوه خبري کنفرانس کي وویل داگي هیوادونه باید په خپل داخلي زور اوقوت باندي متکي وي ترڅوچي وکولاي شي په بهرنیو قواوو باندي تکیه کمه کړي . دتایلند مشرهم داارزووېل دجنوب ختیزي آسیا خلك باید دخپل امنیت غم په خپله وخوري اوبیله دي چي دنوروهیوادو مرسته وغواړي څانته یونوي سیمه ایز نظام ترتیب کړي .

بلو روسیه سلاح هاي اتومي را تخریب‌میکند :

٦ دلو :
جمهوریت بلوروسیه میگوید : ارسال سلاح هاي اتومي تکتیکي را براي تخریب کردن به روسیه آغازکرده است . لیونید پیبلوف معاون رئیس کمیسیون امنیت ملي پارلمان بلوروسیه میگوید : جمهوریت بلو روسي میخواهد ازجمیع سلاح هاي اتومي فارغ گردد .

درعین زمان پلتسین رئیس جمهورروسیه به بینندگان یك پروگرام تلویزیون امریکاگفته است که ایالات متحده دیگریك دشمن بلقوه تلقي نمیگردد .

بوسینا هرزیگونیاداستقلال لپاره ریفرانډم کوي

دیوگوسلاویادبوسینا هرزیگونیا د جمهوریت دپارلمان ذروفیصله کړي چي ددي جمهوریت داستقلال په باب اعلامیي باندي ریفرانډم وکړي.

دمادریډراډیووائي داپریکړه وروسته له هغه چي ددغه جمهوریت دصربي امله وکیلان او ۱۵ ساعتوبحث اومناقشوڅخه وروسته دپارلمان څخه ووتل منځ ته راغله .

داریفرانډم داروپا ئي ټولني په غوښتنه کیږي دغي ټولني ویلي دي چي دیوگو سلاویا څخه ددغه جمهوریت داستقلال په رسمیت پېژندلو څخه مخکي باید دخلکورایي واخیستل شي .

چندگروه مبارزفلسطیني بامذاکرات مسکومخالفت نمودند

بیروت - ٤ دلو :
چندین گروه مبارز فلسطیني امروزباانتشاربیانیه مشترکي دربیروت باردیگرگفتگوبراي سازش برسرمسئله فلسطین را به شدت محکوم کردند .

بگزارش اخبارورسیده ازبیروت فلسطیني هاي لبنان دربیانیه مشترك خود تاکید کرده اند قبول انجام این گفتگوهادرواقع به رسمیت ساختن رژیم اسرائیل وتثبیت اشغال خاك فلسطین ودیگرکشورهاي عرب است . ازفلسطیني هاي شرکت کننده خواستندکه ادامه مذاکرات رابادشمن متوقف کنند . درین بیانیه همچنان تاکید شده است حضور درمذاکرات مسکو دشمن را به پافشاري بیشتر درپیشبرد سیاست هاي خود درسرکوبي مسلمانان واشغال سرزمین هاي آنان تشویق مي کند .

طي یك حمله ناگهاني دونفرعسکراسرائیلي درجنوب لبنان کشته وزخمي شد

لبنان ٦ دلو :
درجنوب لبنان به اثریك حمله ناگهاني یك عسکر اسرائیلي بقتل رسیده ویکتن دیگرزخمي شده است . این تصادم درحوزه امنیتي اعلام شده است که درفاصله تقریبا ده کیلومتري شمال سرحد با اسرائیل واقع شده است .

مقامات اسرائیلي میگویند : سه گوریلا بقتل رسیده اند . آژانس خبري رویتر گزارش میدهد که ائتلاف گروه هاي طرفدار ایران که مقاومت اسلامي خوانده مي شوند ادعاي مسئولیت کرده اند . عساکر اسرائیلي به تعقیب جستجوي حمله کنندگان پرداختند وقرارگزارش برتپه ها ودهات اطراف شهراسروین گلوله باري کردند .

ایران سعي دارد ساینس دانان شوروي سابق رابراي تولید اسلحه اتومي استخدام کند

لندن - ٦ دلو :
یك روزنامه انگلیسي تفصیل پروگرامي راکه گویا ایران سعي دارد ساینس دانان اتحادشوروي سابق رابراي تولیداسلحه اتومي استخدام کند،گزارش داده است ، روزنامه دي سندي تایمز گزارش نموده است که چندین تن ازاین ساینس دانان ازایران بازدیدکرده اند امامعلوم نشده که آنها قراردادهاي را امضا،کرده اندیانه ، روزنامه مي افزاید به این دانشمندان تاسه صدوپنجاه هزاردالر حق الامتیاز وماهانه بیست هزار دالر معاش پیشنهاد شده است .

ملل متحد ، قواي ده هزارنفري را به کروشیامي فرستد

بلگراد - ٦ دلو :
قراراست امروز مرات گولدنگ معاون سرمنشي موسسه ملل متحد دریوگوسلاویا برتعین یك تقسیم اوقات براي تعبیه عساکرملل متحد درآنکشور بامقامات یوگوسلاویا به مذاکره بپردازد .

موسسه ملل متحد میگوید : قواي ده هزارنفري آن موسسه درصورتیکه آتش بس جاري درکروشیا بازهم دوام یابد به یوگوسلاویا اعزام خواهند گشت . انتظار میرود گولدنگ باماموزین کروشیا وسربستان وهم چنان بارهبران کجرینا که منطقه تحت کنترول سربي ها درکروشیا ست ملاقات کند . ماموزین درساحه تحت سلطه سربي ها مخالف تعبیه عساکرمحافظ صلح ملل متحد اند .

میرمن اکینوخپل ددفاع وزیرد جمهوري ریاست لپاره کاندیدکړ

دفلپین جمهوررئیس کروزام اکینو منظوري ورکړي ده چي ددفاع پخواني وزیر فیدل راموس دي دمي په میاشت کي دجمهوري ریاست لپاره په انتخاباتوکي کاندیدشي .

دي راموس اوس ٦٢ کلن دي په کال ۱۹۸٦ کي ئي دهغه بغاوت مشري وکړه چي جمهوررئلش مارکوس ئي له واکه وغورځاوه اومیرمن اکینو ته ئي واك اختیار ورکړ .

راموس داکینو حکومت د ۷ کودتا وو په مقابل کي وساته راموس دجمهوري ریاست لپاره دلسوکاندیدانو څخه دي چي دجمهوري ریاست لپاره کاندیدیږي اوداکینو دملاتړ څخه معلومیږي چي هغه به په انتخاباتو کي مخکي وي .

میرمن اکینو چي دجمهوري ریاست په مانۍ کي خپلو طرفداراتوته وېناکوله وو بل چي راموس بهترین سړي دي چي کولاي شي دهیواد کمزوري دیوکراسي ټینگه کړي راموس وویل چي دجمهوري رئیس مرستي اوملاتړویرخوشحاله کړي

امریکا دذروي یونو جوړولو کارپندوي : ریوټونه وایي چي دامریکا دمتحده ایالاتولوړ رتبه ماموزین په نظرکي لري چي دذروي یونو جوړول معطل کړي پداسي حال کي چي دذروي کوریو فرمایشات ئي هم لغوه کړي دي .

دواشنگټن پوست ورځپاڼه دامریکا د نامعلومو لوړرتبه مقاماتو له قوله وایي چي دذروي وسلوته جوړولو په باب تر چهارشنبي پوري دانرژي وزیر جمیز واکینزاعلان وکړي .

دااقدام اودذر وي وسلو دکمولو په باب نوري وروستي فیصلي ښیي چي دشوروي اتحاد ړنگیدو څخه وروسته دذره وي تهدید په باب دامریکا دحکومت اندیښني ډیري کمي شوي دي .

دکابل ـ جلال آباد په لویه لاره دملحد رژیم یوه امنیتي پوسته فتحه شوه

میډیا - کابل - جلال آباد :
دمیډیا خبري آژانس دشهادت ورځپاڼي اداري ته په راالبیل شوي رپوټ کي ویلي دي چي دلغمان ولایت باتورومجاهدینو دکابل - جلال آباد په لویه لاره کي دتنگي ابریشم دسیمي پر امنیتي پوستوباندي دسلواغي په ۲ نیټه بولپړیالي عملیات ترسره کړل چي دهغي په نتیجه کي دملحدرژیم یوه امنیتي پوسته فتح اویکي ٥ تنه کمونستان دمجاهدینو په اسارت راغلي اوپوشمیر نوري وژل شوي دي .

رپوټ زیاتوي چي پدي برید کي دملحدرژیم یوه عراده لاري چي نظامي مهمات پکي بارو دمجاهدینو دراکټ دوزوپه واسطه داورلمبه شوي ده .

په سرینگرکي دهنددبیرغ دمراسمو په وخت ، کشمیري مجاهدینو ۲۲ تنه هندوان ووژل

هندي نشنلستانو دموټرونو دهغه کاروان مخه ونیول شوه چي دکشمیر پایتخت سرینگرته روان وو .

پدي باب چي دغه کاروان چي دالحاد دمارش په نامه یادشوي او بندشوریوټونه خپاره شوي دي .

داسوستدپریس خبري آژانس وائي پولیسو ۸ بس موټرونه چي ٤٥٠ تنه پکي سپاره وو دامنیتي ملحوظاتو له مخي ودرول داموټرونه چي دهند دبیلو بیلو برخوڅخه تیرشوي وو له خپل اصلي تم ځاي څخه ئي حرکت کړي اوپه تنگو دروکي چي پولیس وائي مبارزینو به حمله پري کولاي شواي روان وو .

دخبرونو له مخي دکارله لغوکیدو وروسته دمتعصبوهندوانومشر د الوتکي پواسطه سرینگرته ورسول شو، له هغه سره ۷، تنه نورهم ملگري وو دیکشنبي په ورځ چي کله هغه سرینگرکي دهند بیرغ پورته کاوه کشمیري مجاهدینو په علمباتولاس پوري کړاودښاریه واټونواوکوڅوکي وزي اوریدل کیدي، سره ددي چي سخت امنیتي تدابیر نیول شوي وو، اوپه گرځیدو بندیز وو خوبیاهم په دغه ورځ ۲۲ تنه هندوان دگولیو خوراك شول، کشمیري مسلمانانو اخطار ورکړي و هرڅوك چي په دغه مراسموکي برخه واخلي نوبه ویشتل شي .

دیکشنبي ورځ دجنوري ۲٦ مه چي دهنددجمهوریت ورځ وه په کشمیر اوگڼ شمیر هیوادو کي دکشمیریانوله خوا دتوري ورځي په حیث پکي احتجاجي مظاهري وشوي .

دالمان پارلمان دامنیت شوري ددایمي غړوڅخه دویټودحق اخستلو غوښتنه کوي

بن - دسلواغي ٤ نیټه :
دآلمان پارلمان دامنیت شوري ددایمي غړوله پاره دملگرومللتو په قواعدو او تشکیلاتوکي داصلاحاتو غوښتنه وکړه . دآلمان دپارلمان وکیلانو تیره ورځ دملگروملتو دتشکیلاتو دلامحدودولو اوسرمنشي ته دسیاسي امکاناتو دورکولو غوښتنه په اتفاق سره تصویب کړه . دآلمان پارلمان دغه رازدامکاناتو دزیاتولو له پاره دملگروملتو دمنشور دبدلون ، داختلافاتو دسوله ایزهواري-اودملگروملتودامنیت شوري ددایمي غړو دویټودحق دلري کیدني غوښتنه هم کړي ده .

تبدیلي نام

برادرمحمد بازارولد قل محمد باي ساکن قریه بلوچ ولسوالي کشم ولایت بدخشان که فعلا دردفترمرکزي حزب اسلامي انضباط میباشد اسم خودرابه عبدالله تبدیل نموده است .

دنوم بدلون

دولایت داسماردولسوالي دناوي دعلاقه داري اوسیدونکي چي اوس ددیر خلعي دمعبار په کمپ کي هستوگنه کوي خپل نوم په عبدالله بدل کړي . مولوي فضل محمود دکتړوتو

دتیـــر زاره نظام دور تیر شوي ،هیڅوك نشي کولاي‌چـي هغـه بـیا پـــر افغان ولـس تحـمیـل کـړي